## د ۱۳۹۶ کال د جزا کود پر مبنی د اختصاصي جزا حقوق

(٦)

# د سرقت او غصب جرمونه

Larceny and Usurpation

چنګابن ۱۳۹۸

**ترتیبوونکي: د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDOL)**

**کابل، افغانستان**

**وېبپاڼه:www.idlo.int**

## د دې جزوې په اړه

د دې جزوې ټول اړوند مواد او درج شوي موارد د افغانستان قوانینو سره سم ترتیب او جوړ شوي دي. د افغانستان قوانینو د نوو تعدیلاتو سره سم د ډاډ په موخه لازمه ده چې دغه جزوه وخت پر وخت بیا بیا وکتل شي. په دغه جزوه کې هر رنګه جزئی یا ټولیز بدلون د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) پورې اړوند او ځانګړی دی.

ټول هغه مواد چې د دې کتاب منځپانګه جوړوي ستاسی د ګټې اخیستنې او نه سوداګرۍ لپاره دي. د دې موادو طبع او خپرول د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لپاره محفوظ دي.

**کارول شوي قوانین:**

- اساسي قانون، د ۱۳۸۲کال په ۸۱۸ گڼه رسمي جریده کې خپور شوی
- د جزا کود، د ۱۳۹٦کال د غویي په ۲۵مه نېټه په گڼه رسمي جریده کې خپور شوی
- مدني قانون، په ۱۳۵۵/۱۰/۱۵ نېټه په ۳۵۳ گڼه رسمي جریده کې خپور شوی
- د کار قانون، د ۱۳۸۷کال د لیندۍ په ۱٦مه نېټه په ۹٦٦ گڼه رسمي جریده کې خپور شوی
- د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون، د ۱۳۹٦کال د وري په ۲٦مه نېټه په ۱۲۵۴ گڼه رسمي جریده کې خپور شوی
- د مخترع او مکتشف د حقوقو د ملاتړ قانون، په ۱۳۷۸/۵/۵ نېټه په ۹۵٦ گڼه رسمي جریده کې خپور شوی

# د موضوعاتو لړلیک

**سریزه ........................................ ١**

## لومړی څپرکی

## د سرقت (غلا) جرم

**لومړی مبحث: د مالونو ضد جرمونو کلیات ........................................ ٤**
لومړۍ وینا: د مالونو ضد جرمونو پېژندل ........................................ ٤
دویمه وینا: په جزا کود کې په مالونو د تجاوز جرم انګاري ........................................ ٨
**دویم مبحث: د سرقت تعریف ........................................ ٩**
لومړۍ وینا: په جزا کود کې د سرقت تعریف ........................................ ١٠
درېیمه وینا: په جزا قانون کې د سرقت تعریف ........................................ ١١
**درېیم مبحث: د سرقت د جرم عناصر ........................................ ١٢**
لومړۍ وینا: د سرقت جرم قانوني عنصر ........................................ ١٣
دویمه وینا: د سرقت جرم مادي عنصر ........................................ ١٣
درېیمه وینا: د سرقت جرم معنوي عنصر ........................................ ٤٦
**پنځم مبحث: د افغانستان په جزا کود کې سرقت ........................................ ٥٧**
لومړۍ وینا: په جزا کود کې د سرقت د جرم موارد: ........................................ ٥٨
دویمه وینا: په جزا کود کې د سرقت په حکم کې جرمونه: ........................................ ٧٣
درېیمه وینا: په جزا کود کې د وسلې په استعمال سره د اکراه یا تهدید له امله سرقت ........................................ ٧٤
څلورمه وینا: په جزا کود کې د سرقت جرم جزا: ........................................ ٧٧
پنځمه وینا: د مسروقه مال یا د هغه د بیې رد ........................................ ٩١
**د لومړي څپرکي پایلیزه: ........................................ ٩٣**

## دویم څپرکی

## د منقول مالونو د غصب جرم

**لومړی مبحث: د منقول مالونو د غصب تعریف ........................................ ٩٨**
**دویم مبحث: د منقول مالونو د غصب جرم تشکیلوونکي عناصر ........................................ ١٠٣**

لومړی وینا: د منقول مالونو د غصب جرم مادي عنصر ........................................ ۱۰۳
دویمه وینا: معنوي عنصر ........................................ ۱۰۸
دریمه وینا: د منقول مالونو غصب جرم او د سرقت جرم ترمنځ توپیر ........................................ ۱۱۰
څلورمه وینا: د غصب جرم او تهدید جرم ترمنځ توپیر: ........................................ ۱۱۱
**دریم مبحث: د منقول مالونو د غصب مجازات ........................................ ۱۱۳**
**څلورم مبحث: د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې د نښې د جبري اخیستلو جرم: ........................................ ۱۱٦**
لومړی وینا: د اصطلاح ګانو تعریف: ........................................ ۱۱٦
دویمه وینا: د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې د درج شوي عمل جرمي ځانګړنه او هغه پورې اړوند مسایل........ ۱۱۷
**پنځم بحث: چپاول ګري (نهب) ........................................ ۱۲۰**
**د دویم څپرکي پایلیزه: ........................................ ۱۲۳**

## دریم څپرکی

## د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب جرم

**لومړی مبحث: په افغانستان کې د غیر منقول مالونو د جرم انګاری تاریخچه: ........................................ ۱۲٦**
**دویم مبحث: د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب جرم تعریف ........................................ ۱۲٦**
**دریم مبحث: د ځمکې د غصب جرم عناصر: ........................................ ۱۲۸**
لومړی وینا: د ځمکې د غصب جرم مادي عنصر: ........................................ ۱۲۸
دویمه وینا: معنوي عنصر ........................................ ۱۳۳
**څلورم مبحث: د ځمکې د غصب جرم مجازات: ........................................ ۱۳۵**
لومړی وینا: د ځمکې د غصب جرم د عادي حالت جزا: ........................................ ۱۳۵
دویمه وینا: د ځمکې د غصب جرم د مشدده حالاتو جزا: ........................................ ۱۳۷
دریمه وینا: د غصب په اړه د جزایي حکم د صادرولو حقوقي آثار: ........................................ ۱۳۹
څلورمه وینا: د ځمکې په غصب کې د جرم تعدد: ........................................ ۱٤۰
پنځمه وینا: د غصب په حکم کې جرمونه: ........................................ ۱٤۱
**د دریم څپرکي پایلیزه: ........................................ ۱٤۲**

**عمومي پایلیزه: ........................................ ۱٤٤**

**آخځلیکونه: ........................................ ۱٤۸**

# سریزه

مال د انسانانو د ژوند ثبات دی او له هغه پرته د دوی معیشیت یا خو ناممکن دی او یا به په سختۍ سره پرمخ ځي. له همدې امله ده چې قانون هغه تر خپل ملاتړ لاندې ونیو او په مالونو تجاوز یې که عمومي، دولتي او خصوصي وي، جرم وګڼلو او د هغه مرتکبینو ته یې مجازات پېشبیني کړل، ځکه چې په مال تجاوز د مال څښتن ته زیان اړوي او قانون دنده لري چې له زیانمنو څخه ملاتړ وکړي.

لکه څرنګه چې مالونه د ملکیت له پلوه په شخصي، دولتي او عمومي مالونو او د ډول له پلوه په منقول او غیر منقول وېشل کېږي، په مالونو د تجاوز ډولونه هم ډېر دي او بېلابېلې جرمي ځانګړنې لري؛ په دولتي او عامه مالونو تجاوز د اختلاس، غدر او استیلاء جرمي ځانګړنې درلودلای شي، خو په خصوصي مالونو تجاوز د سرقت، فریبکارۍ او په امانت کې د خیانت په څېر جرمي ځانګړنې لري، ځینې نورې جرمي ځانګړنې هم شتون لري چې هم په دولتي او عامه مالونو په تجاوز او هم په خصوصي مالونو په تجاوز اطلاق کېږي، لکه غصب، تخریب او اتلاف. په دې روزنیزه رساله کې د خصوصي مالونو ضد جرمونو په اړه او په ځانګړي ډول د سرقت جرم او غصب جرم په اړه بحث صورت موندلی دی، او دې دوه ډوله جرمونو اړوند مسائل د ۱۳۹۶ کال د جزا کود او د نورو اړوندو قوانینو د احکامو په رڼا کې تحلیل او ارزول شوي دي.

# لومړی څپرکی

# د سرقت (غلا) جرم

**موخې:**

د دې روزنيزې ناستې په پايله کې به ګډونوال په دې وتوانېږي چې:

- د مالونو ضد جرمونو د ډولونو ترمنځ ګډ ټکي او د مالونو ضد جرمونو جزايي سياست وپېژني؛
- د سرقت جرم په اړه د جزا کود مادې تحليل او تجزيه کړي؛
- د سرقت جرم تعريف او د سرقت مشابه حالات له غصب څخه جلا کړي؛
- د سرقت د جرم تشکيلوونکي عناصر په سمه توګه تشخيص کړي؛
- د سرقت اړونده جزايي قضيو ته د جزا کود په رڼا کې سم جرمي وصف ورکړي؛
- د سرقت د جرم مشدده حالات د هغه له عادي حالاتو څخه توپير او د هر يو پېشبيني شوې جزاګانې په سمه توګه تطبيق کړي؛

**عنوانونه:**

- د مالونو ضد جرمونو کليات.
- د سرقت تعريف.
- د سرقت د جرم عناصر.
- د افغانستان په جزا کود کې سرقت.
  - په جزا کود کې د سرقت د جرم موارد.
  - په جزا کود کې د سرقت په حکم کې جرمونه.
  - په جزا کود کې د وسلې په استعمال سره د اکراه يا تهديد له امله سرقت.
  - په جزا کود کې د سرقت د جرم جزا.
  - د مسروقه مال يا د هغه د بيې رد.

# لومړی څپرکی

## د سرقت جرم

سرقت (غلا) هغه پدیده ده چې د مال د څښتن سربېره انساني ټولنه هم زیانمنوي. له همدې کبله، د مالکیت په حق هر ډول تېری، د ټولنې د کرکې وړ ګرځي او سرقت د ملتونو د ژوند په ټولو آیینونو او قوانینو کې منع شوی او د هغه مرتکب ته یې مجازات ټاکلي دي. نن ورځ، د هېوادونو په قوانینو کې له یو ډول سرقت سره نه مخ کېږو، بلکه د سرقت بېلابېل ډولونه چې هر یو جلا شرایط او مجازات لري، په دې قوانینو کې پېشبیني شوي دي. د دوی له ډلې، د افغانستان په جزایي قوانینو کې هم کولای شو د عادي سرقت (له مشدده احوالو پرته)، مشدده سرقت، د وسلې په استعمال سره د اکراه یا تهدید له امله سرقت، د تاریخي آثارو سرقت، د هستوي توکو سرقت، د موټر د نمبر پلیټ سرقت او د سایبري سرقت نومونه واخلو، دې تنوع، قانون جوړوونکی اړ ایست څو د سرقت د جرم بېلابېل ډولونه جرم انګاري کړي او د هغه جزا د جرم په خفت او شدت او مجني علیه ته د وارد شوي زیان له میزان سره متناسب وټاکي. سربېره پردې، قانون جوړوونکي له دې پدیدې سره د غوره مبارزې لپاره د سرقت جرم اړوندو جرمونو نور ډولونه هم جرم انګاري کړي دي څو د هغه د ارتکاب زیاتېدو لارې وتړي. د لا زیاتو توضیحاتو لپاره لاندې مبحثونه مطالعه کړئ.

## لومړی مبحث: د مالونو ضد جرمونو کليات

د مالونو ضد جرمونو په کلياتو کې د مالونو ضد جرمونو پېژندل (لومړی وينا) او د ۱۳۹٦کال په جزا کود کې په مالونو د تجاوز د جرم انګاري سياست (دويمه وينا) شامل دي.

### لومړی وينا: د مالونو ضد جرمونو پېژندل

د مالونو ضد جرمونو څخه مراد هغه جرمونه دي چې د هغوی له امله د نورو هغه شمېر حقوق چې مالي ارزښت لري، له تجاوز سره مخ کېږي او يا په خطر سره ګواښل کېږي په دې حقوقو کې هر هغه حق چې اقتصادي ارزښت او اهميت ولري، هم شامل دي او په همدې شاخص سره، د مالونو ضد جرمونه له د اشخاصو په وړاندې جرمونو څخه توپير کېږي.

د مالونو ضد جرمونو او د اشخاصو په وړاندې جرمونو ترمنځ توپير د دوی ترمنځ د اړيکې د نشتون په معنی نه دی، ځکه چې څرګنده ده چې د مالونو ضد جرمونو زيان، له دې کبله شخص ته رسېږي چې د دوی مالي ذمه[1] تر هدف لاندې راولي او په دې کې شک نشته چې د انسان د " ذمې" او "شخصيت" ترمنځ نږدې اړيکه شتون لري، ځکه چې هر شخص "ذمه " لري، او غالباً " ذمه " "اشخاصو" ته نسبت ورکول کېږي. سربېره پردې، په ځينو جرمونو کې ښايي دواړه حقونه (مالي ذمه او د انسان شخصيت) تر تجاوز لاندې ونيول شي، لکه له اکراه سره د سرقت جرم، يا د وسله وال سرقت جرم په هغه کې د ملکيت حق او د جسمي سلامتيا حق دواړه په يو وخت کې له خطر سره مخ کېږي.

### لومړی مطلب: د مالونو ضد جرمونو ترمنځ ګډ ټکي:

د مالونو ضد جرمونو ترمنځ که دا سرقت، غصب، نهب، په امانت کې خيانت، فريبکاري، تخريب او اتلاف وي، ګډ ټکي شتون لري چې ځينو ته يې لاندې اشاره کېږي.

[1] له ذمې څخه مراد هغه اعتباري محل دی چې د شخص حقوق او وجائب په هغه پورې اړه لري.

د مالونو ضد جرمونو پېښېدنه، د دوؤ شرطونو په رامنځته کېدو پورې مستلزمه ده: ۱- «په تر تجاوز لاندې مال کې د بل چا د ملکيت ثبوت» او «د تر تجاوز لاندې مال د څښتن نارضايت ». لومړی شرط مال پورې او دويم شرط د مال څښتن پورې اړه لري چې دواړه لاندې واضح کېږي.

**۱. په تر تجاوز لاندې مال کې د بل چا د مالکيت ثبوت:**

اصل پر دې دی چې د مالونو ضد جرمونو کې د نورو مال تر تجاوز لاندې نيول کېږي. له دې امله، شخص يا نورو اشخاصو ته تر تجاوز لاندې د مال د ملکيت ثبوت د دې جرم د ارتکاب لپار شرط دی، ځکه چې که چېرې مال په خپله د تجاوز کوونکي (مرتکب) ملکيت وي، په مال د تجاوز جرم نه دی رامنځته شوی.

**۲. تر تجاوز لاندې مال د څښتن نارضايت:**

لکه څرنگه چې په تر تجاوز لاندې مال کې د بل چا د ملکيت ثبوت د مالونو ضد جرمونو رامنځته کېدو لپاره لومړی شرط وؤ، نو د تر تجاوز لاندې مال د څښتن نارضايت د هغه د رامنځته کېدو دويم شرط دی، ځکه چې د مال د څښتن رضايت د فعل په پېښېدو سره په دې معنی کېدلی شي چې د حق څښتن غوښتي چې خپل حق د بل په وسيله ترلاسه کړي او په ورته حالت کې د جرم پېښېدل له تصور څخه دباندې دي. البته ظاهري او يا حقيقي رضايت په اړه او هغه پورې اړوند موضوعات د سرقت د جرم عناصرو باندې د بحث پرمهال زيات تفصيل او جزئيات به وړاندې شي.

**د پام وړ ټکی:**

د لومړي او دويم موادرو په اړه چې پورته ذکر شول، بايد وويل شي چې په خپل مال يا د بل په مال د شخص تصرف په مطلق ډول جواز نه لري، بلکه له مشروع حد څخه د سرغړونې يا له مال څخه د ناوړې استفادې په صورت کې متصرف مجرم پېژندل کېږي. د بېلگې په ډول: د جزا کود ۳۴۴ مه ماده، د مال د عمدي حريق په اړه داسې صراحت لري: «**هغه شخص چې ځان يا نورو ته د ضرر رسولو په مقصد عمداً منقول يا غير منقول مال ته اور واچوي له احوالو سره سم په قصير حبس محکومېږي.**»

همدارنګه، په خپل مال او ملکیت کې د مالک تصرف چې د نورو حق هم په هغه پورې اړه لري، جواز نه لري، لکه د راهن په وسیله په مرهونه مال کې تصرف، او د مالک تصرف په هغه مال کې چې د حجز یا د قضا د تصرف لاندې قرار ولري، په همدې ترتیب؛ قضاء ته د تسلیم شوو سندونو سرقت، که څه هم دا سرقت د نومورې سندونو د مالک په وسیله صورت موندلی وي[1]. د افغانستان د جزا کود ۷۲۴مه ماده هم په دې اړه ورته حکم لري.[2]

## دویم مطلب: له مالونو څخه په ملاتړ کې د قانون جوړونې سیاست:

د ۱۳۹۶کال د جزا کود ۷۱۲ او ۷۱٦ مادو او د ۱۳۵۵کال د مدني قانون ۲۲۷۲ او ۲۲۸۸ مادو ته په اشارې، لیدل کېږي چې نومورې قوانینو په ځینو مواردو کې له مالونو څخه یو شان ملاتړ نه دی کړی، د

[1] ـ حسنی ، نجیب، شرح قانون العقوبات، القمسم الخاص، ص ۸۰٤، دار نافع للطباعة والنشر، ۱۹۸۷، القاهرة.
لیدل کېږي چې دا نظریه د افغانستان په جزا کود کې په څو مواردو کې هم په داسې ډول انعکاس موندلی او پرې حکم شوی دی، د هغه په اړه کولای شو چې د جزا کود ۴۵۸ مادې (۲) بند ته چې د رسمي اسنادو د سرقت تر عنوان لاندې بیان او په هغه کې ویل شوي دي چې «د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شیانو غل یا پټوونکی او تلف کوونکی په متوسط حبس محکومېږي.» ته یې اشاره کړې، څکه نو قانون جوړوونکي په دې ځای کې په مطلق ډول د دې سندونو د سارق له مجازاتو څخه یادونه کړې ده، له دې پرته تفکیک کړئ چې سارق، خپل سندونه سرقت کړې دي یا یې د نورو، همدې منوال ته د دې کود په ۴۷۱مه ماده کې او د قضاء د تضلیل په قصد د مالونو سرقت، پټولو یا تلف کولو تر عنوان لاندې هم همدا طریقه کارول شوي دي او محکمې یا د قضایي ضبط مامورینو ته د تسلیم شوو جرمي مالونو یا شیانو سارق په قصیر حبس او نقدي مجازاتو محکوم شوي دي، پرته له دې چې د نومړو مالونو د مالک یا نورو په وسیله د سرقت ترمنځ توپیر صورت ونیسي، له همدې کبله لیدل کېږي چې نومورې مادې د همدې نظریې تائیدوونکي دي چې د یو شخص مال پورې د نورو د حقوقو تعلق درلودل، نومورې شخص په هماغه مال کې له مطلق او آزادانه تصرف څخه مخنیوی کوي.

[2] ـ د جزا کود ۷۲۴مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري: «لاندې اعمال په امانت کې د خیانت په حکم کې پېژندل کېږي، مرتکب په قصیر حبس یا له لسو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي:
۱ -په هغه صورت کې چې د هغه منقول مال مالک چې د هغه مالونه د قانون په حکم یا د محکمې په قرار تر حجز لاندې نیول شوي یا د قضا تر تصرف لاندې اېښودل شوي وي، مال په ناوړه نیت د ځان یا د بل شخص د منفعت لپاره استعمال یا په هغه کې تصرف وکړي یا هغه پټ کړي یا یې هغه شخص ته چې په نومورې مال کې له هغه څخه د مطالبې حق ولري، تسلیم نه کړي، په داسې ډول چې د مال په هکله د نیول شوو اجراآتو منظور تر لاسه نه کړای شي.
۲- په هغه صورت کې چې ګرو اخیستونکي، مرهونه مال د هغه له مالک سره په امانت کېږدي او نومورې مالک د ځان یا د ځان د منفعت یا د بل شخص د منفعت لپاره هغه په ناوړه نیت سره استعمال یا د هغه مقصد پر خلاف چې هغه ته سپارل شوی، په هغه کې تصرف وکړي.»

مالونو په ملاتړ کې دا نامساوات په دوؤ برخو (جزايي او مدني) کې د ملاحظې وړ دی چې هغه لاندې توضیح کوؤ.

**لومړی فرعه: په جزا کود کې په مالونو د تجاوز د جرم انګاری سیاست**

د افغانستان په جزا کود کې په مالونو د تجاوز د جرم انګاری سیاست توپیر لري؛ په دا ډول چې منقول مالونه نسبت غیر منقولو مالونو ته تر زیات ملاتړ لاندې نیول شوي دي. د بېلګې په ډول: د جزا کود په ۷۰۹مه ماده کې لیدل کېږي چې د کم بها مالونو (چې قیمت یې له پنځو زرو افغانیو څخه لږ وي) سرقت لپاره قصیر حبس یا له لسو زرو تر شپېتو زرو افغانیو نغدي جزا ټاکل شوې ده، خو د ځمکې په غصب کې، که چېرې د ځمکې ارزښت تر درې سوو زرو افغانیو پورې وي، د هغه جزا قصیر حبس دی (د جزا کود د ۷۱٦مې مادې ۱ فقره). ملاحظه دا ده چې تر تجاوز لاندې د حق ارزښت او په منقول او غیر منقول مالونو کې د هغه جزا ترمنځ تناسب وجود نه لري؛ په منقول مال تجاوز ته چې ارزښت یې له پنځو زرو افغانیو څخه لږ دی، او په غیر منقول مال تجاوز ته چې ارزښت یې تر سلو زرو افغانیو پورې وي، یو ډول جزا (قصیر حبس) ټاکل شوی دی. همدارنګه د جزا کود د ۷۱۲مې مادې په ۳ جزء او د ۷۱٦مې مادې په ۲ او ۳ جزونو کې لیدل کېږي چې د هغه منقول مال غصب چې ارزښت یې له لسو زرو تر سلو زرو افغانیو پورې وي، او د هغه غیر منقول مالونو غصب چې ارزښت یې له سلو زرو تر پنځو میلیونو افغانیو پورې وي، دواړو ته متوسط حبس ټاکل شوی دی.

**دویمه فرعه: په مدني قانون کې له مالونو څخه په ملاتړ کې د قانون جوړونې سیاست**

په مدني قانون کې له مالونو څخه ملاتړ هم یو شان نه دی؛ منقول مالونه نسبت غیر منقول مالونو ته تر ډېر ملاتړ لاندې نیول شوي دي. د بېلګې په ډول: د مدني قانون په ۲۲۷۲مه ماده کې لیدل کېږي چې په عقار د تعرض د دفع د دعوا صحت یې پوره د یوه کال لپاره د حیازت په دوام پورې مشروط ګڼلی دی، او داسې تصریح کوي: «**که څوک د عقار حیازت لاس ته راوړي او د هغه حیازت پوره یو کال دوام وکړي او تر هغې وروسته یې په حیازت تعرض واقع شي، نو کولای شي چې د یوه کال په اوږدو کې د دې تعرض د منع کېدو دعوی اقامه کړي.**» په داسې حال کې چې د مدني قانون د ۲۲۸۸مې مادې په نظر، د منقول مالونو حیازت له پیل څخه او د ټاکلې زماني مودې له تداوم پرته تملک افاده کړي، په دې شرط چې له

ښه نیت سره وي او په صحیح سبب تکیه وي، ماده دا ډول صراحت لري: «**که څوک په منقول مال یا په منقول مال باندې د عیني حق یا د داسې سند چې د هغه د حامل په نامه اعتبار ولري او صحیح سبب او ښه نیت ته مستند وي، حایز شي، د هغې مالک ګڼل کېږي.**»

د قانون جوړونې دې ډول سیاست لپاره سم تفسیر دا کېدلی شي چې قانون جوړوونکي غوښتي دي چې د وارد شوي ملاتړ چې په جزا کود او مدني قانون کې په پام کې نیول شوی، یو ډول هماهنګي و تناسب رعایت کړل شي، ځکه چې د غیر منقول مالونو څښتن له نورو حمایوي اجراآتو څخه برخمن دی چې د حیازت په دعوای کې مطرح کېږي، لکه څرنګه چې د غیرمنقول مالونو حائز نه شي کولای چې د ("الحیازة فی المنقول سند الملکیة" د منقول مال حیازت د هغه پر ملکیت سند دی) قاعده وکاروي، همدارنګه د غیر منقول مالونو طبعیت او ثبات دا ډول دی چې له هغو ډیرو خطرونو او تجاوزاتو چې عموماً منقول مال له هغه سره مخ دی یا د هغه په معرض کې قرار لري، په امن کې دی.

د یادونې وړ ده چې د مالونو ضد جرمونو کې د جزایي سیاست پېژندل او د ملاتړ د شدت مواردو په اړه پوهېدل څارنوالانو او قاضیانو ته د اهمیت وړ دي، ځکه چې دوی د دې سیاست په پېژندلو سره به وکولای شي چې د مالونو ضد جرمونو ته د رسیده ګۍ او د متناسبو مجازاتو د ټاکلو په اړه مناسبه پرېکړه وکړي.

## دویمه وینا: په جزا کود کې په مالونو د تجاوز جرم انګاري

د افغانستان جزا کود د مالونو جنس که: عمومي، دولتي او خصوصي وي، تر ملاتړ لاندې نیولي او په هغو د تېري کوونکو لپاره یې مجازات ټاکلي دي. د مالونو ضد جرمونه د جزا کود په نهم باب کې په اتو فصلونو او ۵۴ مادو (له ٦٩٩مې تر ۷۵۲مې مادو پورې) کې تنظیم کړي دي. په ذکر شوو جرمونو کې د منقولو مالونو سرقت، غصب او نهب (لومړی فصل)، د ځمکې او غیر منقول مالونو غصب (دویم فصل)، په امانت کې خیانت (درېیم فصل)، فریبکاري (څلورم فصل)، د جرم له ارتکاب څخه د را پیدا شوو شیانو اختفا (پنځم فصل)، د تاریخي یا فرهنګي آثارو پر وراندې جرمونه (شپږم فصل)، د فکري ملکیتونو پر حقوقو تجاوز (اووم فصل) او د ویجاړولو، اتلاف او انتقال جرمونه (اتم فصل) شامل دي. د مالونو ضد ټولو جرمونو په اړه بحث د دې روزنیزې رسالې له حوصلې څخه دباندې ده، نو له دې کبله، اوسنۍ رساله

د سرقت او غصب جرمونو ته ځانګړتیا ورکوي چې د اړتیاوؤ ارزولو د پایلو او د حقوقي مساعدینو، څارنوالانو او قضیانو د اړتیاوؤ په سر کې یې ځای نیولی وؤ.

## دویم مبحث: د سرقت تعریف

د جزا کود د ٦٩٩مې مادې (٢) فقرې ته په کتو، که چېرې د سرقت په جرم کې د حد د اقامې شرایط بشپړ نه شي[1] یا دې ته په کتو چې د اوسنۍ روزنیزې رسالې موضوع په تعزیري جرمونو باندې بحث کوي، لهذا لومړی په جزا کود کې د سرقت تعریف بیانوؤ او بیا هغه د ١٣٥٥ کال د جزا په قانون کې د سرقت له تعریف سره پرتله کړو.

---

[1] که څه هم د هېواد قاضیان او څارنوالان د جزا کود د دې مادې مفهوم و حکم تل یادوي، له دې سره سره د ښاغلو لوستونکو په ذهنونو کې د موضوع د تذکر او تقریب له باب څخه یادونه کوؤ چې: فقهاوؤ د حد مستوجب سرقت داسې تعریف کړی دی چې: «هِی أَخْذُ مُكَلَّفٍ خُفْيَةً قَدْرَ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ مَضْرُوبَةٍ مُحْرَزَةٍ بِمَكَانٍ أَوْ حَافِظٍ"، سرقت په پټه توګه د مکلف شخص له لورې له خوندي ځای څخه د هغه مال له راخیستلو څخه عبارت دی چې ارزښت یې لس شرعي درهمه وي.

د دې تعریف اساسي قیود یا ځانګړتیاوې:

١. د مال د راخیستلو طریقه: مال باید په پټه توګه راخیستل شوی وي. په ښکاره ډول د بل چا د مال راخیستل د فقهاوؤ له نظره سرقت نه دی.
٢. د راخیستل شوي مال ارزښت: د مسروقه مال ارزښت باید لس شرعي درهمه وي؛ یو شرعي درهم له ٢٩،٧٥ ګرامه نقرې (تقریباً دېرش ګرامه) سره مساوي دی، په نړیوالو بازارونو کې د نقرې في ګرام اوسط بیه ٠.٦٠ ډالره، یعنې د پنځه څلویښتو افغانیو په شاوخوا کې کېږي چې په مجموع کې د لسو شرعي درهمو بیه (د سرقت د جرم نصاب) له ١٣٣٩ افغانیو سره مساوي ده، په دې معنی چې که چېرې د مسروقه مال بیه له ذکر شوو پیسو څخه لږه وي، د ورته مال پټول د فقهاوؤ له نظره سرقت نه دی.
٣. هغه ځای چې ور څخه مال راخیستل شوی دی: هغه ځای چې له هغه څخه مال راخیستل شوی وي باید خوندي وي، له دې کبله که چېرې مال له داسې ځای څخه چې خوندي نه وي او پر هغه ساتنه شتون ونه لري، را واخیستل شي، دا عمل د فقهاء له نظره سرقت نه دی.
٤. هغه شخص چې مال یې راخیستی دی: مرتکب باید مکلف وي، یعنې عاقل او بالغ وي. له دې کبله، د صغیر یا لیوني پوسیله د دې عمل ارتکاب له دې حکم څخه دباندی دی.

له همدې کبله، که چېرې د سرقت د جرم ارتکاب په داسې طریقه صورت ونیسي چې د فقهاوؤ په تعریف کې را نغاړېدل شوي او فقهاء هغه د حد مستوجب ګڼلی دی، د سرقت د جرمي کړنې دا ډول تعذیري ګڼل شوی او هغه ته رسیدګي به له جزا کود سره سم صورت ونه نیسي.

## لومړۍ وینا: په جزا کود کې د سرقت تعریف

د ۱۳۹٦ کال د جزا کود ٦۹۹مه ماده سرقت دا ډول تعریفوي: «**سرقت له رضایت پرته د تملک په مقصد د غیر ملکیت د منقول مال له اخیستلو څخه عبارت دی.**»

**د تعریف قیود:** د پورته تعریف په قیودو کې (اخیستل، مسروقه باید مال وي، مال باید منقول وي، مال باید د غیر ملکیت وي، د مال د څښتن نارضایت او د تملک په مقصد د مال اخیستل) شامل دي چې هر یو یې لاندې واضح کېږي.

۱- اخیستل: اخیستل، فعل دی. له همدې امله، سرقت د ارتکابي جرمونو له جملې څخه ګڼل کېږي. اخیستل د سرقت جرم له مادي او تشکیلوونکو عناصرو څخه یو دی چې په خپل ځای به پرې بحث وکړو.
۲- مسروقه باید مال وي: د مدني قانون د ۴۷۲مې مادې سره سم، مال عبارت د عین یا د هغه حق څخه دی چې د خلکو په نزد مادي قیمت ولري. له دې کبله، هغه شیان چې مادي قیمت نه لري، د سرقت د جرم موضوع نه شي کېدلای.
۳- مال باید منقول وي: غیر منقول مالونه د سرقت د جرم موضوع نه شي کیدلی.
٤- مال باید د غیر ملکیت وي: که چېرې ثابته شي چې اخیستل شوی مال په خپله د مرتکب ملکیت وؤ یا د هیڅ شخص ملکیت په هغه کې ثابت نه دی، نو دا عمل سرقت نه ګڼل کېږي.
٥- له رضایت پرته: د غیر ملکیت منقول مال اخیستل د هغه په رضایت سره د تملک په مقصد، سرقت نه ګڼل کېږي.
٦- د تملک په مقصد: د غیر ملکیت منقول مال اخیستل د هغه له رضایت پرته د استعمال یا له تملک پرته د نورو مقصدونو لپاره سرقت نه حسابېږي، خو باید یادونه وشي چې په دې اړه راتلونکو مطالبو کې به لا زیات جزئیات وړاندې کړو.

**دريیمه وينا: په جزا قانون کې د سرقت تعريف**

سربېره پردې چې د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون د جزا کود په واسطه لغوه شوی دی او د هغه احکامو ته د مراجعې اړتيا نشته، خو په دې ځای کې د نوموړي قانون له نظره د سرقت تعريف په جزا کود کې د سرقت تعريف سره د پرتله کولو په مقصد او په غوره توګه د سرقت په اړه پوهېدلو لپاره ذکر کوؤ. سرقت د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون د ۴۵۴مې مادې په (۲) فقره کې داسې تعريف شوی و: «**د دې قانون په مقصد که شخص د غير د ملکيت منقول او متقوم مال په پټه توګه واخلي، غل شمارل کېږي.**»[1]

**د تعريق قيود:** د ۱۳۵۵ کال په جزا قانون کې د سرقت تعريف هم قيود لري او په دې ځای يوازې هغه قيود يادوؤ چې د ۱۳۹٦کال د جزا کود د سرقت په تعريف کې ذکر شوي نه دي.

۱- مال بايد متقوم وي: د متقوم اصطلاح يوه فقهي اصطلاح ده چې د هغه مفهوم د فقهې په کتابونو کې هم بيان شوی دی؛ متقوم مال له هغه مال څخه عبارت دی چې مالي ارزښت ولري او د هغه کارول جواز ولري[2]، او په بل عبارت؛ متقوم مال هغه دی چې مالي ارزښت ولري او د هغه تلف کول د ضمان مستوجب وي[3]. له دې کبله، هغه مال چې د هغه کارول جواز ونه لري، غير متقوم دی او د سرقت د جرم موضوع نه شي کيدلای، لکه شراب، په خپله د مړ شوي حيوان غوښه او داسې نور.

۲- په پټه توګه د مال اخيستل: په دې ځای (د جزا قانون) کې او په ټوله کې د جزا د حقوقو د سرقت په موضوع کې له پټوالي څخه منظور د سارق غافلگيري او پټول دي، نه دا چې که چېرې مال په پټه توګه وانه خيستل شي، سرقت نه ګڼل کېږي، ځکه چې ليدل کېږي چې د جزا قانون سرقت

[1] ـ د جزا قانون په ۱۳۵۵ کال کې په ۳۴۷ ګڼه رسمي جريده کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د عدليې وزارت له لورې خپور شوی.

[2] - البورنو، محمد صدقی، موسوعة القواعد الفقهية، انتشارات التوبة، رياض، چاپ اول ۱۹۹۷م، ج ۱، ص ۹۸..

[3] - بدائع الصنائع، ج ۷، ص ٦٧. فتح القدير، ج ٤، ص ۲۳۰

له اکراه سره هم " سرقت " ګڼلی دی، په داسې حال کې چې امکان نه لري چې په اکراه سره سرقت په خفیه ډول صورت ونیسي..[1]

## درېیم مبحث: د سرقت د جرم عناصر

لکه څرنګه چې وړاندې ورته اشاره وشوه، سرقت د حدود جرمونو له جملې څخه وؤ، او د جزا کود ۲مې مادې ته په کتو، د حدود جرمونه لومړی د حنفي فقهې له نظره ارزول کېږي؛ که چیرې د حد د اقامې شرایط بشپړ شوي وي، مرتکب د حنفي فقهې له احکامو سره سم مجازات کېږي. که چېرې د سرقت په جرم کې د حد د اقامې شرایط بشپړ نه شي یا په یو ډول نه یوه ډول د سرقت د حد جزا ساقطه شي، مرتکب تعزیراً د جزا کود د دویم کتاب، نهم باب، لومړي فصل له احکامو سره سم مجازات کېږي. (د جزا کود ٦٩٩مه ماده)

د سرقت د حد د اقامې شرایط او هغه حالات چې په کې د سرقت د حد جزا ساقطېږي، د حنفي فقهې په کتابونو کې په تفصیل سره بیان شوي دي او لوستونکي کولای شي چې هغوی ته مراجعه وکړي[2]. دې ته په کتو چې اوسنۍ رساله د جزا کود تشریح او تحلیل ته ځانګړې شوې ده او تعزیري جرمونه تر بحث لاندې نیسي، له همدې کبله په راتلونکو کرښو کې د سرقت د جرم عناصر (تعزیري) یوازې د جزا کود له نظره تر بحث لاندې نیسو.

[1] ـ د حقوقو ځیني ښوونکي د سرقت د پټوالي شرط په اړه داسې ویلي دي: که څه هم مخفیانه او پټوالی یې سرقت لپاره د قانوني مقررو شرطونو جزء شمېرلی دی، لیکن د پټوالي قید ښایي هغه سرقتونه چې په بشپړ ډول په ښکاره او علني ډول صورت نیسي، د سرقت له شمول څخه باسي. لیکن حقوقپوهان پټوالی داسې تفسیر کړی چې سرقت د مال د خاوند له آګاهۍ او رضایت پرته صورت نیولی وي او مرتکب له پټولو سره یوځای د نورو مالونو په سرقت اقدام کړی وي. https://www.talebilawyer.ir/۲۰۱۷/۰۱/۲۳. /سرقت/

[2] - د رایجو مذهبونو او اسلامي متعارفو فقهي کتابونو سربېره، د ځانګړو معلوماتو او د هغه د لا زیاتې پرتلې لپاره مینوال کولای شي چې لاندې معاصرو لیکنو ته هم مراجعه وکړي: ابوزهرة ، محمد، الجریمة والعقوبة فی الفقه الاسلامی، ص ۲۸۰-۲۹۱، دار الفکر العربی، القاهرة، العوده، التشریع الجنائی الاسلامی مقارنا بالقانون الوضعی ،ص: ۷۷۰- ۷۸۱، دار الکاتب العربی ، بیروت. نجیب حسنی، التشریع الجنائی الاسلامی،ص ۳۵ و ۳٤۷ ، (د پي ډي ایف نسخه ، له پوښ پرته)

د سرقت جرم درې عناصر (قانوني، مادي او معني) لري چې هر یو په جلا ویناوۀ کې تر بحث لاندې نیول کېږي.

## لومړۍ وینا: د سرقت جرم قانوني عنصر

د جرم قانوني عنصر په جزا کود کې د جرمي عمل او د هغه د ټاکلې جزا له تصریح څخه عبارت دی[۱]. هیڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو دا چې جزا کود نوموړی عمل د هغه له ارتکاب څخه وړاندې جرم ګڼلی وي، او هیڅ جزا تطبیق کېدای نه شي خو دا چې په جزا کود کې تصریح شوې وي.[۲] د سرقت جرم اوسیدل د جزا کود په ٦٩٩ تر ٧١٠ مادو کې تصریح شوی دی او د هغه جزا هم ټاکل شوې ده. له دې کبله، ویلای شو چې د سرقت جرم قانوني عنصر د جزا کود ٦٩٩ تر ٧١٠ مادو پورې دی.

## دویمه وینا: د سرقت جرم مادي عنصر

د جزا کود په عام برخه کې د جرم مادي عنصر تعریف ته په اشارې ویلای شو چې: د سرقت جرم د مادي عنصر په اجزاوۀ کې فعل، پایله او د سببیت اړیکه شامل دي؛ فعل (جرمي کړنه) د فاعل په وسیله ترسره کېږي چې د هغه په اړه به د "جرم فاعل" تر عنوان لاندې بحث وکړو. همدارنګه جرمي کړنه پر یو شي واقع کېږي چې د هغه په اړه به د جرم د موضوع تر عنوان لاندې، د وسایلو په کارولو سره د جرمي کړنې ارتکاب صورت ومومي، نو د هغه په اړه به د "جرم د ارتکاب وسیلې" تر عنوان لاندې بحث وکړو. په همدې ډول، په مشخص وخت یا ځای کې د جرمي کړنې پېښېدل هم د "د جرم د ارتکاب وخت " ، "د جرم د ارتکاب ځای" تر عنوانونو لاندې د بحث او ارزونې وړ دي. له دې کبله، هغه اجزاوې چې د سرقت جرم د مادي عنصر لاندې په دې روزنیزه رساله کې د بحث، ارزونې او تحلیل وړ دي له: جرمي کړنې، د جرم فاعل، د جرم موضوع، د جرم د ارتکاب وسیلې، د جرم د ارتکاب وخت، د جرم د ارتکاب ځای، د جرم پایلې او د سببیت اړیکې څخه عبارت دي چې هر یو به یې په لاندې ډول په تفصیل سره بیان شي:

---

[۱] - د جزا کود ۳۲مه ماده.

[۲] -د جزا کود د ۷مې مادې (۱) او (۲) فقرې.

## لومړی مطلب: د سرقت جرمي کړنه

د سرقت په جرم کې جرمي کړنه، اخيستل دي؛ د غير د ملکيت منقول مال د هغه له رضايت پرته د تملک په مقصد اخيستل. د افغانستان جزا کود د "اخيستل" کلمه په مطلق ډول او له قيد پرته ذکر کړې ده، له دې کبله د غير د ملکيت مال د هغه له رضايت پرته د تملک په مقصد په پټه توګه يا په ښکاره ډول اخيستل، سرقت ګڼل کېږي، خو د افغانستان د ۱۳۵۵کال په جزا قانون کې د اخيستلو فعل د "په پټه توګه" قيد سره ذکر شوی وؤ. همدارنګه د مال د مالک له حيازت څخه د بل شخص حيازت ته د هغه انتقالول د اخيستلو له لوازمو څخه دی، له دې کبله سرقت په ملکيت او حيازت تجاوز دی د مالک له حيازت څخه د مال په باسلو کې معيار؛ د هغه د مالکانه تسلط او تصرفاتو ته د پای ټکی کېښودل دي، او په خپله د سارق يا بل شخص په حيازت کې د مال په انتقال کې معيار؛ د نوي حائز تسلط پيدا کول او په هغه کې تصرف ته د هغه لار پيدا کول دي چې د مال د حيازت له مقتضياتو څخه وي؛ يعنې کولای شي چې په نوموړي مال کې مالکانه او آزادانه تصرف ولري. شرط نه دی چې مسروقه مال دې تل يا د اوږدې مودې لپاره د سارق په حيازت کې قرار ولري، بلکه د مال په اخيستلو سره ولو که د لږې مودې لپاره وي، تحقق ومومي، يا په بل عبارت، په سرقت کې د سارق اوسنی حيازت او تسلط د سرقت رامنځته کېدو لپاره شرط نه دی، بلکه امکان لري چې د مال د خاوند له حيازت څخه د مال په باسلو سره سرقت، د سرقت تعريف ته په کتو، رامنځته شي او د هغه دايمي تسلط شرط نه دی، په هغه حالت کې هم امکان لري چې سارق له سرقت وروسته مال تلف کړي، خو که چېرې مال د مالک له حيازت څخه دباندې او د سارق په حيازت کې ولو که د لږې مودې لپاره وي، قرار ونه نيسي، د هغه عمل د سرقت جرم نه ګڼل کېږي.

ځيني حقوقپوهان د دې مطلب په تاييد سره داسې ويلي دي چې: يوازې د مال اخيستل او د مالک له حيازت څخه د هغه باسل، پرته له دې چې نوی حيازت رامنځته شي، سرقت نه پېژندل کېږي، لکه داسې چې يو شخص مرغۍ يا حيوان له پنجرې آزاد کړي، يا دا چې مال پ هماغه ځای کې داسې تخريب او تلف کړي چې تر حيازت لاندې راتللو وړتيا له لاسه ورکړي، نو په دې صورت کې سرقت نه پېژندل کېږي. خو که چېرې داسې عمل ترسره کړي چې د حيازت له مقتضياتو څخه وي او د اعمال په ډول تصرف او سلطه وګڼل شي، په دغه صورت کې ښايي سرقت ونومول شي، لکه دا چې شخص يو پلورنځي

ته ننوځي او د هغه د مالک له رضایت پرته خوراکي توکي واخلي او ویې خوري او یا هغه حیوان ته ورکړي.[١]

**(١) لومړی فعالیت**

**فرضي قضیې او مباحثوي پوښتنې:**

(١) شخص یو موبایل سیټ (گرځنده ټیلیفون) په پټه توگه د دکاندار له رضایت پرته د تملک په مقصد له دوکان څخه اخلي او په بازار کې پلوري او پیسې یې مصرفوي، دا چې دوکان په پټو کمرو سره مجهز وؤ، نو څو ورځې وروسته، سارق گرفتار او تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

(٢) شخص یو موبایل سیټ په پټه توگه د دوکاندار له رضایت پرته د تملک په مقصد له دوکان څخه اخلي، کله چې له دوکان څخه دباندې ځي، د دوکان څښتن له قضیې خبرېږي او ور پسې منډې وهي، سارق موبایل په ځمکه غورځوي او تښتي او په پای کې گرفتار او تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

(٣) شخص ملي بس ته خېژي او د سرقت په مقصد د میرمنې له دستکول څخه پیسې اخلي، خو همدا چې پام یې کېږي چې د ملی بس له سپرلیو څخه بل شخص هغه ولید او د هغه په جرم پوه شوی دی، نو وهل او غلا شوې پیسې د بل مسافر په جیب کې اچوي، مرتکب گرفتار او تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

(٤) شخص غوښتل چې یو دانه گلدانۍ د سرو زرو په اوبو سره پالش شوې وه، له دوکان څخه پټه کړي، گلدانۍ د اخیستلو پرمهال په ځکمه غورځي او ماتېږي، شخص تښتي او دوکاندار او خلک په هغه پسې منډې وهي، هغه گرفتار او تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

(٥) شخص غوښتل چې قیمت لرونکې مرغۍ له پنجرې پټه کړي، کله چې د پنجرې دروازه پرانېزي، مرغۍ الوزي او په خپله مخه ځي، شخص گرفتار او تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

[١] نجیب حسنی ٨٤٠/٢.

**پوښتنې:**

لومړی: له پورته قضیو څخه په کومه یوه کې مال د مرتکب په حیازت کې قرار موندلی دی؟

دویمه: د پورته قضیو څخه د هرې یوې جرمي وصف تشخیص کړئ؟

**د (۱) لومړي فعالیت احتمالي ځواب**

**لومړی ځواب:** په (۱، ۲ او ۳ قضیو) کې مال د مالک له حیازت څخه وتلی او د سارق په حیازت کې راغلی دی، سربېره پردې چې په (۲ او ۳) قضیو کې مسروقه مال د خورا لږې مودې لپاره له سارق سره وؤ، ځکه نو د حیازت د مودې زیاتوالی د سرقت رامنځته کېدو لپاره شرط نه دی.

په (۴) او (۵) قضیو کې مال د مرتکب حیازت ته داخل شوی نه دی.

**دویم ځواب:** د (۱)، (۲) او (۳) قضیو جرمي ځانګړه سرقت دی.

(۴) او (۵) قضیې دوه جرمي ځانګړې ځانته غوره کوي: ۱- د سرقت په جرم پیل (د جزا کود ۴۷مه ماده). ۲- د ویجاړولو او اتلاف جرم (د جزا کود ۷۴۹ او ۷۵۰ مادې).

د دې ځوابونو په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**نوټ:**

د مال سپارل د مال اخیستلو په حکم کې نه راځي؛ که چېرې شخص د خپل ملکیت منقول مال بل ته د پور، امانت، عاریت یا اجارې په توګه وسپاري، خو اخیستونکی شخص هغه د مالک له رضایت پرته د تملک په مقصد پټ کړي او مالک ته یې بېرته ور نه کړي، نو دا ډول کړنه د سرقت جرمي وصف نه لري، بلکه ځانته بل جرمي وصف غوره کوي.

## دويم مطلب: د سرقت د جرم فاعل يا مرتکب

سرقت کېدلای شي چې د هر شخص په وسيله ارتکاب ومومي؛ که فقير يا غني، کورني اتباع يا بهرني اتباع، عادي يا د عامه خدمتونو مؤظف او يا هر بل وصف وي. د جزا کود ٦٩٩ تر ٧١٠ مادو ته په دقيق ډول کتو سره موندو چې قانون جوړوونکي د سرقت د جرم مرتکب ته مشخص وصف ذکر کړی نه دی، - پرته له يو مورد څخه – له همدې امله د سرقت جرم مرتکب لپاره د ځانګړي وصف درلودل د جرمي کړنې د وصف د بدلون يا د مجازاتو د شدت يا خفت باعث نه ګرځي. خو په يو مورد کې چې د جزا کود د جرم مرتکب لپاره ځانګړی وصف ذکر کړی او د "کارګر اوسيدلو" له وصف څخه عبارت دی؛ لکه څرنګه چې که کارګر د خپل کار فرما مال غلا کړي، دا ډول سرقت د مشدده حالاتو څخه ګڼل کېږي. (د جزا کود د ٧٠٢مې مادې (٦) جزء).

له بله پلوه، د جزا کود د فاعل له لورې د جرم د ارتکاب طريقې يا وسيلې په اړه، يعنې د هغه د اخيستلو طريقې، په اړه قيد يا شرط نه دی ايښی، نو کله چې سارق په هره ممکنه وسيلې يا طريقې سره لکه د آلې يا حيوان ګمارنه او يا هم د بل داسې شخص مکلفول چې نيک نيت ولري، د بل مال د هغوی له حيازت څخه د تملک په مقصد خپل حيازت ته انتقال کړي، نو هغه د سرقت د جرم مرتکب پېژند کېږي، که څه هم په خپله هغه په عملي او شخصي ډول دا فعل ترسره کړی نه وي.

## مطلب دوم: فاعل يا مرتکب جرم سرقت:

سرقت می‌تواند توسط هر شخص ارتکاب يابد؛ فقير يا غنی، شهروند يا تبعه‌ی خارجی، عادی يا مؤظف خدمات عامه و يا هر وصف ديگری .

با دقت نظر به مواد ٦٩٩ تا ٧١٠ کود جزا، می‌يابيم که قانون‌گذار برای مرتکب جرم سرقت، وصف مشخصی را ذکر نکرده است، - جز در يک مورد – بنابرين داشتن وصف خاصی برای مرتکب جرم سرقت، باعث تغيير وصف رفتار جرمی يا تشديد يا تخفيف مجازات نمی‌شود. مگر در يک مورد، که کود جزا وصف خاصی را برای مرتکب جرم ذکر کرده و عبارت از وصف "کارگر بودن" است؛ طوريکه اگر "

کارگر" مال کار فرمای خود را سرقت کند، این نوع سرقت از حالات مشدده محسوب می‌شود. (جزء ٦ ماده ۷۰۲ کود جزا)

از سوی دیگر، کود جزا در مورد نحوه یا وسیله ارتکاب جرم توسط فاعل، یعنی طریقه گرفتن وی، قید و یاشرطی نگذاشته است، بناء وقتی سارق به هر وسیله وطریقه ممکنه مانند استخدام آلة یا حیوان ویا هم مکلف ساختن شخصی دیگری که حسن نیت داشته باشد، مال دیگران را از حیازت آنان، به قصد تملک به حیازت خود انتقال دهد، پس وی مرتکب جرم سرقت شناخته می شود، هرچند خود وی به گونه عملی وشخصی این فعل را انجام نداده باشد.

## درېیم مطلب: د سرقت جرم موضوع

د جرم موضوع هغه څه دي چې جرم په هغه باندې واقع کېږي. د جزا کود د ٦۹۹مې مادې (۱) فقرې ته په کتو، یوازې منقول مال د سرقت جرم موضوع کېدلای شي. له دې امله، غیر منقول مالونه یا منافع نه شي کېدلای چې د سرقت د جرم موضوع واوسي. د سرقت د جرم موضوع (منقول مال) اړوندو جزئیاتو تشریح په لاندې ډول ده.

**لومړۍ فرعه: د مال تعریف**

د سرقت له تعریف سره سم، د سرقت موضوع باید مال وي، سر بېره پردې چې مدني مفاهیم په ټوله کې له جزایي مفاهیمو څخه په بشپړ ډول جلا دي، خو د مالونو پر وړاندې جرمونو کې په دې دلیل چې د مرتکب مجرمانه کړنه پر مجني علیه د مالي زیان موجب گرځي، د جرم ارتکاب له مال سره تړون پیدا کوي. له همدې کبله، د یوې مالي اړیکې (د مالونو پر وړاندې جرمونه) د نقضولو اړوندو جرمي پېښو په څېړنه کې قاضي اړ دی چې مدني حقوقو ته مراجعه وکړي. نو له همدې کبله د سرقت په ارتکاب کې هم د سرقت شوي شي د مال اوسېدلو یا نه اوسیدلو د تشخیص لپاره باید د افغانستان په مدني قانون کې د مال تعریف ته وکتل شي. د مدني قانون د ۴۷۲مې مادې سره سم: «**مال، عبارت د عین یا د هغه حق څخه**

**دی چې د خلکو په نزد مادي قيمت ولري.**» له دې تعريف څخه پوهېدل کېږي چې مال دوه عناصر لري: ١- عين چې مادي قيمت ولري، او ٢- حق چې مادي قيمت ولري.

١- عين هغه څه دي چې د لمس وړتيا ولري، لکه نغدې پيسې، زيورات، ساعت، موبايل، لپ ټاپ، موټر، تيل، ګاز، اوبه[١] او داسې نور. اعيان کېدلای شي جامد، مايع يا ګاز اوسي. له دې کبله، هر عين چې مادي قيمت ولري، د سرقت د جرم موضوع کېدلای شي.[٢]

٢- حق: « حق له هغه امتياز څخه عبارت دی چې قانون د شخص په واک کې ورکړی دی، او هغه يې له بېلابېلو لارو تضمين کړی دی»[٣]. حق په مالي او غير مالي وېشل کېږي؛ مالي حق هغه دی چې د هغه اجرا په مستقيم ډول درلودونکي ته داسې ګټې را منځته کوي چې په پيسو د اوړېدو وړتيا لري، لکه د کتاب د چاپ حق چې په مستقيم ډول د هغه ليکوال ته پولي ارزښت لري. غير مالي حق هغه دی چې د هغه اجرا داسې ګټه نه رامنځته کوي چې په مستقيم ډول په پيسو د اوړيدو وړتيا ولري، لکه د ارتفاق حقوق[٤]. غير مالي حق، د سرقت موضوع نه شي کېدلای. د بېلګې په ډول: يو څوک چې د بل چا د اوبو د کارولو نوبت (حقابه حق) د هغه له رضايت پرته واخلي، سارق نه شمېرل کېږي. په نورو مواردو کې هم ځيني وخت مالي حق تر تېري لاندې نيول کېږي، لکه دا چې يو شخص د ليکوال له رضايت پرته د هغه کتاب چاپ او بيا يې وپلوري، خو په دې حالت کې هغه سارق نه ګڼل کېږي، بلکه قانون جوړوونکي دې عمل ته له سرقت پرته بله جرمي ځانګړنه يعنې د فکري ملکيتونو پر حقوقو تجاوز ورکړې ده.

- افکار: افکار، د سرقت د جرم موضوع نه شي واقع کېدلای؛ که چېرې شخص د بل شخص افکار او ليکنې ځانته نسبت کړي يا د بل د هنري فنونو لکه میناتورۍ او داسې نورو څخه ګټه پورته

[١] - د ويالې يا سيند اوبه، د سرقت د جرم موضوع نه شي کېدلای ځکه چې د ټاکلي شخص په خيازت کې نه دي، خو که چېرې يو چا اوبه ذخيره کړي وي يا هغه په يوه لوښي کې تر خپل حيازت لاندې راولي، په دغه صورت کې د سرقت د جرم موضوع کېدلای شي.

[٢] - حسنی، نجيب، شرح قانون العقومات المصری، ص ٨١٣-٨١٤

[٣] - ثقت الاسلام، محی الدين، معمار و قانون، ص٢١، چاپ اول ١٣٩٢، ناشر: البرز فردانش

[٤] - هماغه، ص ٢٢-٢٣

کړي، د هغه عمل د سرقت جرمي وصف نه لري، خو د هغه له رضايت پرته او د تملک په مقصد هغه کتاب را اخيستل چې د هماغه شخص افکار په کې درج شوي وي، سرقت ګڼل کېږي.[١]

- ګټې: ګټې، د سرقت د جرم موضوع نه ګرځي؛ که چېرې څوک د کرايې له ورکړې پرته د ښاري سرويس موټرو له څوکۍ څخه ګټه پورته کړي، يا خپل خوراکي توکي د پل په استوپ ګرم کړي، يا خپل څښاک د بل په يخچال کې د سړولو لپاره د هغه له رضايت پرته کښېږدي، د هغه عمل سرقت نه ګڼل کېږي.[٢]

لنډه دا چې؛ حقوق، افکار او ګټې د سرقت د جرم موضوع نه ګرځي، خو دا چې مادي شيان اړه ولري، لکه څرنګه چې د مادي شيانو د حصول سرچينه، يا د هغه د اثبات وسيله وګرځي، په دې صورت کې د سرقت د جرم موضوع کېدلای شي، لکه د انټرنيټ امتياز، د مخابراتي خدمتونو کريډيټ، چک، د کتاب چاپول او داسې نور.

**دويمه فرعه: هغه شيان چې مالي حقوق پرې مرتب کېږي**

د هغو شيانو په اړه چې مالي حقوق پرې مرتب کېږي، د مدني قانون ۴۷۳، ۴۷۴ او ۴۷۵ مادې داسې صراحت لري:

۴۷۳مه ماده: «**کوم شيان چې د طبيعت په اقتضاء د ورکړې راکړې مورد نه ګرځي، د هغه شيانو څخه عبارت دي چې هيڅوک يې حيازت ځان ته نه شي تخصيصولی.**»

۴۷۴مه ماده: «**کوم شيان چې د طبيعت په اقتضاء يا د قانون په حکم د ورکړې راکړې مورد ګرځي، مالي حقوق پرې مرتب کېږي.**» لکه د لمر وړانګې، د هوا آکسيجن، انسان، د بدن غړي او وينه او داسې نور. خو که چېرې قانون د ورته شيانو راکړې ورکړې ته اجازه ورکړي؛ لکه د لمر د وړانګو او د هوا آکسيجن زېرمه کولو جواز او هغه تر حيازت لاندې نيول، يا په بانکونو کې د انسانانو د وينې زېرمه کول او د هغه

[١] ـ پوښتنه : آيا په کرايي موټرو کې کښېناستل او کرايه نه ورکول، د بل په وسايلو او لوښو کې د ډوډۍ پخول، د بل په يخچال کې د خواړو ساړه ساتلو او داسې نور، د هغه د مالک له اجازې پرته، سرقت ګڼل کېږي؟

[٢] - حسنی، نجيب، شرح قانون العقوبات المصری، ص ٨١٧.

پلورل. په دې صورت کې مالي حقوق پر هغه مرتب کېږي، او د ۴۷۳مې مادې مفاد په هغه صدق کوي، او د سرقت د جرم موضوع هم گرځېدلای شي. له دې کبله، که څېړې يو څوک د بل د لمر زېرمه شوې وړانگې يا زېرمه شوی اکسيجن د هغه له رضايت پرته او د تملک په مقصد واخلي، د هغه عمل سرقت گڼل کېږي.

۴۷۵مه ماده: «**کوم شيان چې د قانون په حکم د ورکړې راکړې مورد کېدلای نه شي، عبارت د هغو شيانو څخه دي چې د قانون له لحاظه پرې مالي حقوق نه مرتب کېږي.**»

له همدې کبله، هر هغه شي چې د شرعې او قانون او د خلکو د عرف له نظره په پيسو د تقويم وړتيا درلوده او د خلکو ترمنځ د تبادلې او راکړې ورکړې وړ وگرځي، مال گڼل کېږي او بالتبع د سرقت د جرم موضوع هم نيول کېدلای شي.

په بل عبارت، په دې ځای کې له مال څخه مراد هغه څه دي چې د عيني حق ځای ونيسي او د تملک وړتيا ولري او لکه څرنگه چې وړاندې ورته اشاره وشوه، د مال په تعريف کې د مدني او جزايي قانون په نظرونو کې توپير ليدل کېږي، ځکه نو د مدني قانون له نظره هر هغه څه چې په قانوني توگه د تداول او معاملې وړ نه وي، په هيڅ ډول پر هغه مالي حقوق نه مرتب کېږي، خو د جزايي حقوقو له نظره دا ډول مالونه که څه هم افرادو ته د تملک وړتيا ونه لري، خو دولت پر هغو باندې د ملکيت حق ولري، نو د هغوی سرقت جرم گڼل کېږي، لکه د وسلې يا نشه يي توکو سرقت. يعنې لازمه نه ده چې د مسروق د مال حيازت د قانون له نظره مباح اوسي، بلکه ممکنه ده چې د هغه حيازت د قانون له نظره جرم وي، په دې صورت کې که څېړې دا ډول مالونه په غير پورې اړه ولري، نو دا سرقت د رامنځته کېدو وړ دی، لکه د غير قانوني وسلې سرقت.

**د پام وړ ټکی:** هغه څه چې ځانته د مال وصف نه اخلي، د سرقت د جرم موضوع نه پېښېږي؛ لکه د کوچني پټول يا د هغه اختطاف، د سرقت جرمي وصف نه، بلکه بل جرمي وصف ځانته ته غوره کوي.

**(۲) دویم فعالیت**

**فرضي قضیې او مباحثوي پوښتنې:**

(۱) شخص چې کور یې له دولتي برېښنا سره نه ده وصل شوی، د شپې لخوا یو لین د عمومي برېښنا له کیبل یا د گاونډي د برېښنا له لین سره - د هغه له آگاهۍ پرته - وصلوي او تر سهاره له برېښنا څخه یې گټه پورته کوي.

(۲) شخص چې کور یې دولتي برېښنا سره وصل شوی دی او زیاته گټه ترې پورته کوي، خو له میتر خوانۍ څخه وړاندې د میتر امپیر را وروسته کوي څو لگښت یې لږ وښایي.

(۳) شخص چې کور ته یې د دولتي اوبو نل وصل شوی دی او له هغه څخه زیاته گټه پورته کوي، خو له میټر خوانۍ څخه وړاندې د میټر امپیر را وروسته کوي څو لگښت یې لږ وښایي.

پوښتنه: له پورته قضیو څخه په کوم یو کې د سرقت جرم پېښ شوی دی او د هغه موضوع څه ده؟

**د (۲) دویم فعالیت احتمالي ځوابونه**

په (۱) قضیه کې سرقت واقع شوی دی او د هغه موضوع د مادي قیمت لرونکی عین دی، ځکه چې د برېښنا انرژي د حیازت او انتقال وړتیا لري. خو په (۲) او (۳) قضیو کې د سرقت جرم نه دی واقع شوی، ځکه چې په (۲) قضیه کې د برېښنا له انرژۍ څخه گټه اخیستلو او په (۳) قضیه کې له اوبو څخه گټه اخیستلو صورت موندلی دی، خو مستهلک له هغه څخه د توافق خلاف گټه اخیستې ده. دا عمل سرقت نه دی بلکه بله جرمي ځانگړنه ځانته غوره کوي. (نجیب محمود حسنی، شرح قانون العقوبات، القسم الخاص، ص ٨١٤-٨١٥)

**(۳) درېيم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

آیا هغه شیان لکه د انټرنیټ امتیاز، د مخابراتي خدمتونو کریډیټ، د ATM کارت، چک او داسې نور، د سرقت جرم موضوع کېدلای شي؟ که چېرې مو ځواب هو وي، نو آیا د هغه موضوع د مادي قیمت درلودونکي اعیانو جرمونه دي یا که د مادي قیمت درلودونکي حقوق دي؟

**د (۳) درېيم فعالیت احتمالي ځواب**

د (۳) درېيم فعالیت په مباحثوي پوښتنه کې درج شوي شیان د سرقت د جرم موضوع گرځېدلای شي. نوموړي شیان د مادي قمیت لرونکي حقونه دي.

دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**درېیمه فرعه: د مال مادي کېدل یا محسوس کېدل**

د "مال" کلمه غالباً دا ذهنیت رامنځته کوي چې نوموړی مال باید محسوس وجود ولري او د لمس وړتیا ولري، که دا جامد یا مایع وي. د مطرح کېدو وړ پوښتنه دا ده چې آیا برق مادي شی دی او د سرقت د جرم موضوع کېدلای شي یا نه؟ پخوا دا شک د حقوقپوهانو ترمنځ شتون درلود، له همدې کبله په دوؤ مخالفو او موافقو ډلو ووېشل شول؛ د فرانسې او ایټالیې په حقوقي نظام کې رویه په دې ده چې "برېښنا د سرقت موضوع کېدلای شي"[1]. په آلمان کې د برېښنا ځانگړي قانون (د ۱۹۰۰ زېږدیز کال د اپریل ۹مه نېټه) سره سم، د سرقت موضوع کېدلای شي.[2] د انگلستان محکمو د قضیو څخه په یوه کې چې په ۱۳۷۵ هجري شمسي کال کې یې په اړه پرېکړه وشوه، برېښنا یې "مال" و نه گاڼه او په پایله کې یې هغه د پټولو

[1] - محمودی جانکی، فیروز، رهنمود ماکس پلانگ برای حقوق جزای اختصاصی افغانستان، ۱۳۹۱ ص ۱٦۳ . و جندی، عبد الملک بک، الموسوعه الجنائیه ج ٤ ص ۲۰٤ به نقل از احکام صادره ی محاکم فرانسه از جمله محکمه Troyes بلتان و دیگر

[2] - جندی، عبد الملک بک، الموسوعه الجنائیه ج ٤ ص ۲۰٤ به نقل از احکام صادره ی محاکم فرانسه از جمله محکمه Troyes بلتان و دیگر

وړ ونه مانه[١] خو دا نظر وروسته بدلون وموند او د دې هېواد قانون جوړوونکو د ۱۹۱٦ زېږديز کال د "سرقت قانون " له لسمې مادې سره سم، د برېښنا سرقت يې د سرقت له ډولونو څخه يو ډول ومانه[٢].

د مصر په حقوقي نظام کې برېښنا کېدلای شي چې د سرقت د جرم موضوع وګرځي، ځکه چې برېښنا د هغه د توليدوونکي له تصرف لاندې ده او په خپله کولای شي چې هغه په خپله خوښه وکاروي او يا د نورو تر تصرف لاندې يې راولي، له دې کبله د ملکيت او حيازت وړتيا يې درلوده او ښايي چې له يو ځای څخه بل ځای ته او له يو حيازت څخه بل حيازت ته ولېږدول شي، نو له همدې امله ښايي د سرقت وړتيا پيدا کړي. د مصرS ستره محکمه د خپلو پريکړو څخه په يوه کې داسې حکم ور کړی دی: د "منقول" په اصطلاح کې برېښنا هم شاملېږي، ځکه چې له منقول څخه مراد هر هغه شی دی چې مادي قيمت ولري، د تملک، حيازت او انتقال وړتيا ولري او برېښنا هم دا ځانګړتياوې لري.[٣]

د افغانستان په حقوقي نظام کې د دې ترديد پر خلاف چې پورته يې يادونه وشوه - د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون برېښنا، اوبه او ګاز د ماي مالونو په توګه د سرقت وړ پېشبيني شوي او د جزا قانون[٤] ۵۱۸مه ماده محکمو ته د ښه عمل معيار وؤ، په جزا کود کې هم د سرقت په حکم کې "په نامجاز ډول د برېښنا، ګاز او اوبو اخيستلو" جرم او د هغه مرتکب د مجازاتو وړ پېژندل شوی دی. (د جزا کود د ۷۰۱مې مادې ۲ بند)، له همدې کبله، د سرقت په مورد کې په وضع شوو حکمونو بر بنسټ "په نامجاز ډول د برېښنا ځواک اخيستلو مجرمانه کړنه د مجازاتو وړ دی، ولې په دې مورد کې د دقت وړ ټکی، له مېټر څخه د برېښنا له واردېدلو څخه مخکې په نامجاز ډول د برېښنا "اخيستل" دي"ولې که څوک د برېښنا د کارولو اجازه ولري، په خپل کنټرول کې په لاسوهنې سره، باعث شي چې لږه اندازه پيسې د برېښنا د لګښت په توګه د هغه

---

[١] - صادقی، حسین میر محمد، جرایم علیه اموال و مالکیت، درې څلوېښتم چاپ، د ۱۳۹۴ کال د تلې په میاشت کې خپور شوی ، ۱۳۹٤، ص ۲٥٤

[٢] - جندی، عبد الملک بک، الموسوع الجنائیه، الجزء الرابع ص ۲۰٤

[٣] حسنی، نجیب، ۸۱٥/۲

[٤] د جزا قانون ۵۱۸مه ماده: "که څوک عمداً برق، ګاز، اوبه او په معدني پيداوار يا د ځنګلونو ونې د صلاحيت لرونکو مقامونو د اجازې په غير د خپل ځان کې يا په کښې مالکانه تصرف وکړي د هغه دا عمل د غلا په حکم کښې دی ارتکاب کوونکی علاوه د مال يا د هغې د مثل د قيمت په ورکولو په حبس چې د دوه کلونو څخه زيات نه وي يا نقدي جزاء چې څلور وېشتو زرو افغانيو څخه تجاوز ونه کړي، محکومېږي".

حساب ته منظور شي.. او د برېښنا اداري د مقرراتو برخلاف د انشعاب[1] د حق له ورکړې څخه تېښتې لپاره" په غير مجاز ډول په ميټر کې لاسوهنه کوي، نو د سرقت د جرم د "اخيستلو" مادي عنصر تحقق موندلی نه دی او د شخص کړنه سرقت شمېرل کېدلای نه شي.

البته د دې قانوني نظريې (د برېښنا د سرقت والي وړتيا) توجيه به داسې وي چې دا چې د هغه د توليدوونکي تر تصرف لاندې وه او په خپله کولای شي هغه په خپله خوښه وکاروي او يا د نورو تر تصرف لاندې ونيول شي، نو د ملکيت او حيازت وړتيا درلودونکې ده او امکان لري چې له يو ځای څخه بل ځای ته او له يو حيازت حخه بل حيازت ته انتقال ومومي، له همدې کبله ښايي د سرقت وړتيا پيدا کړي چې د دې نظريې په تاييد سره د مصر سترې محکمې د خپلو پرېکړو څخه په يوه کې داسې حکم کړی چې: د د برېښنا د ځواک " منقول" اصطلاح هم په کې شاملېږي، ځکه نو له منقول څخه مراد هر هغه څه دي چې مادي قميت ولري، د تملک، حيازت او انتقال وړتيا ولري او برېښنا هم همدا ټولې ځانګړتياوې لري.[2]

له همدې کبله که چېرې شخص د خپلې د برېښنا لين د عمومي برېښنا له لين يا بل لين سره وصل کړي او پرته له دې چې د هغه لګښت ورکړي، له نومورې برېښنا څخه ګټه پورته کوي، او يا هم د ګاونډي له اجازې پرته خپل د برېښنا لين د ګاوند د برېښنا له لين سره وصل کړي او برېښنا يې وکاروي چې لګښت يې ګاوندی پرې کوي، په دغو ټولو حالاتو کې د برېښنا سارق ګڼل کېږي.[3]

[1] صادقی، حسين مير محمد، جرايم عليه اموال و مالکيت درې څلوېښتم چاپ، د ۱۳۹۴ کال د تلې خپرونه، ص ٢٥٤
[2] حسنی، نجيب، ٨١٥/٢
[3] ـ نجيب حسنی ٨١٦/٢ ، صادقی حسين مير محمد، جرايم عليه اموال و مالکيت، ص ٢٥٤، چاپ ٤٣، تله ١٣٩٤،

## (۴) څلورم فعالیت

**مباحثوي پوښتنه:**

سرقت، غصب، فریبکاري، په امانت کې خیانت، احتکار، اختطاف او داسې نور... مشخص جرمي وصفونه دي او د تعریف او عناصرو پر بنسټ پېژندل کېږي.

ستاسو په نظر آیا هغه اصطلاحات لکه «د سرقت په حکم کې[۱]» ، «د غصب په حکم کې[۲]» ، «په امانت کې د خیانت په حکم کې[۳]» ، «د احتکار په حکم کې[٤]» کولای شي چې مشخص جرمي وصف رامنځته کړي؟ یا دا به غوره وای که چېرې د سرقت، غصب، په امانت کې د خیانت یا احتکار وصف، په ذکر شوو اعمالو صدق نه کولو، قانون جوړوونکي دوی ته ځانګړی جرمي وصف ورکړی وای.

**د (۴) څلورم فعالیت احتمالي ځواب**

که څه هم په حقوقي عرف کې د "سرقت په حکم کې.... په امانت کې د خیانت په حکم کې.... د .... په حکم کې" اصطلاح یوه منل شوې اصطلاح او معمول ده، خو له د بل له نظره یو عمل سرقت دی یا نه دی. که چېرې سرقت نه دی، نو د "سرقت په حکم کې" په نوم ښایي څه مناسب نه وي، بلکه غوره به وای چې قانون جوړوونکي هغه ته مشخصه جرمي ځانګړنه ورکړې وای. لکه دا چې د افغانستان د جزا کود قانون جوړوونکي په ځینو مواردو کې دا ډول کار کړی دی، لکه ۹۰۷مه ماده، کله چې د لقطه "ورک شوي" مال په اخیستلو باندې د سرقت جرمي ځانګړنه صدق نه دی کړی، قانون جوړوونکي دغه عمل ته د "موندل شوي مال نه تسلیمولو" په نوم یوه مشخصه جرمي ځانګړنه ورکړې ده، د مصر په حقوقي نظام

---

[۱] - د جزا کود ۷۰۱مې مادې (۲) فقره.

[۲] - د جزا کود ۷۱۹مه ماده.

[۳] - د جزا کود ۷۲۴مه ماده.

[٤] - د جزا کود ۸۰۳مه ماده.

او د هغه په قوانینو کې دا ډول جرمونه یې د " سرقت پورې تړلي... په امانت کې د خیانت پورې تړلي....او... جرمونه" توصیف کړي دي.

**(۵) پنځم فعالیت**

**فرضي قضيې:**

۱ـ احمد په کور کې دولتي برېښنا کاروي، خو هغه د برېښنا میټر داسې عیار کړی دی چې د هغه حرکت یې سست جوړ کړی او د برېښنا د لګښت اندازه یې له حقیقي اندازې څخه کمه ښیي.

۲ ـ قدیر په کور کې دولتي برېښنا کاروي، د میټر خوانۍ د دورې په پای کې ګوري چې د برېښنا د لګښت اندازه یې ۲۰۰۰ واټو ته رسېدلې ده، هغه د برېښنا په میټر کې ګوتې وهي او مصرف شوې شمېره بېرته ۱۰۰۰ واټو ته را رسوي.

له پورته مواردو څخه کوم یو یې سرقت ګڼل کېږي، سم ځواب وټاکئ او دلیل یې هم ولیکئ؟

الف) احمد.

ب) قدیر.

ج) دواړه.

د) هیڅ یو.

د سم ځواب استدلال:

**د (۵) پنځم فعالیت احتمالي ځواب**

د جزا کود د ۷۰۱مې مادې (۲) فقرې ته په کتو، له پورته فرضيو څخه په هيڅ يوې کې سرقت رامنځته شوی نه دی، بلکه د احمد او قدير عمل د سرقت په حکم کې راځي او د هغه عمل جزا چې د سرقت په حکم کې دی، د سرقت د جزا په نسبت خورا لږه پېشبيني شوې ده.

دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**څلورمه فرعه: د سرقت د موضوع مال بيه يا ارزښت:**

د افغانستان جزا کود په ٦۹۹مه ماده کې، مال يې په مطلق ډول او د هغه د ارزښت له ټاکلو پرته ذکر کړی دی[1]، همدارنګه د افغانستان مدني قانون په ۴۷۲مه ماده کې د هغه عين يا حق ارزښت چې مادي قيمت لري، نه دی ټاکلی، بلکه د هغه د ارزښت معيار يې خلکو ته پرېښی دی چې داسې تصريح کوي: (مال، عبارت د عين يا د هغه حق څخه دی چې د خلکو په نزد مادي قيمت ولري.) له دې کبله، د هغه مال يا حق د ارزښت معيار چې غلا شوی دی، عرف ته پرېښودل شوی دی؛ که چېرې عرف سرقت شوی مال يا حق ته په مادي ارزښت قايل شي، په هغه صورت کې امکان لري چې نوموړی مال د سرقت د جرم موضوع وګرځي، که څه هم هيڅ يا لږ وي، خو دا چې د هغه مالک د نوموړي مال د سارق پر وړاندې د دعوې يا عدلي تعقيب په اقامې اقدام وکړي يا له هغه څه سترګې پټې کړي، نو دا بيا بله موضوع ده.

**پنځمه فرعه: د سرقت د موضوع مال منقوال والی:**

د مال سرقت کولو ته لازمه چې دا مال بايد منقول اوسي، ځکه چې سرقت د مال له "اخيستلو" او د مالک له حيازت حخه د سارق حيازت ته د هغه انتقال امکان نه لري؛ نو په همدې دليل، قانون جوړوونکي د سرقت په تعريف کې د مال منقول والی قيد کړی دی.

د افغانستان مدني قانون ۴۷۸ ماده د منقول او غير منقول مالونو په تعريف کې داسې وايي: "**عقار عبارت د هغه شيانو څخه دی چې ثابت اصل لري او وړه او راوړه يې بې د تلفېدو ممکن نه وي. کوم شيان چې دا صفت ونه لري، منقول شيان ګڼل کېږي**". خو ليدل کېږي چې مدني قانون په دې ځای کې د منقول

[1] - په اسلامي فقه کې د مسروقه مال د ارزښت اندازه، لس شرعي درهمه ده.

مالونو لمنه پراخه کړې ده او هغه شمېر منقول مالونه چې له عقار څخه د کارولو په موخه کارول کېږي، هم يې د غير منقول مالونو تر څنګ شامل کړي او د دې قانون ۴۷۹مه ماده په دې اړه داسې وايي: «**کوم منقول شيان چې مالک يې د عقار د استفادې دپاره تخصيصوي، هغه هم عقار ګڼل کېږي.**»

له همدې کبله، په عقار کې د سرقت د پېښېدو امکان شتون نه لري، ځکه چې په محل کې "اخيستل" متصور دي چې له يوه ځای څخه بل ځای ته د هغه د انتقال امکان شتون ولري، د عقاراتو برعکس چې ثابت اصل لري او له تلفېدو پرته د هغه د انتقال امکان شتون نه لري.

په دې ځای کې د دويم ځل لپاره ليدل کېږي چې د " منقول" د تعريف په اړه، د مدني او جزايي قانون ترمنځ توافق او يا ثبات وجود نه درلود، هغه څه چې مدني قانون پرې د غير منقول نوم ايښی، د جزا قانون له نظره منقول پېژندل شوی او د هغه له اجازې پرته يې اخيستل سرقت پېژندل کېږي، ځکه نو د جزا حقوقو له نظره هر هغه مال چې له يوه ځای څخه بل ځای ته د هغه انتقال ممکن وي، منقول ګڼل کېږي، که د هغه انتقال د هغه د تخريب باعث شي يا نه؟ له همدې کبله، ويلای شو چې ځمکه او يا کور که څه هم له غير منقول مالونو څخه ګڼل کېږي، د سرقت ځای نه نيسي، خو د ځمکې خاوره، شګه، ډبره او کان او يا هم لرګي، ګاډر، الماری او نور اړين وسايل چې په کور کې کارول کېږي، که د هغه له ځای څخه جلا شي، د مدني قانون له ظاهر خلاف، منقول ګڼل شوی او د هغه سرقت جرم پېژندل کېږي. په بل عبارت، "هر هغه شی چې له يوه ځای څخه بل ځای ته د هغه د انتقال امکان شتون ولري، کېدلای شي چې د سرقت موضوع وګرځي، که څه هم د مدني حقوقو له نظره د ثابت اصل (عقار) درلودونکی پېژندل کېږي "[1]. لکه څرنګه چې د مصر د نقض محکمې هم پر دې بنسټ په دې اړه داسې پرېکړه کړې ده چې "د دروازې، کړکۍ او د چت تختو په اخيستلو او د حيازت په انتقال سره د سرقت جرم واقع کېدلای شي".[2]

---

[1] جندی، عبد الملک، الموسوعه الجنائيه، الجزء الرابع، ص ۲۰۰

[2] سرور، احمد فتحی، الوسيط فی قانون العقوبات، القسم الخاص، کتاب الثانی، ص ۵۰۷ به نقل از نقض ۳ ديسمبر سال ۱۹۸۰، مجموعه الاحکام، س ۳۱، شماره ۲۰٤ ص ۱۰۵۹

له همدې کبله، د جزا قانون له نظره او د سرقت په اړه د بحث پرمهال یوازې د هغه " غیر منقول " شیانو څخه یادونه وکړو چې ثابت ځای ولري او له هغه ځای څخه د هغه اخیستل، لکه د ځمکې ټوټه، کور او یا اپارتمان ممکن نه وي.[١]

**(٦) شپږم فعالیت**

**فرضي قضیې:**

لومړی: شخص د بل د ملکیت ونو څانگې د هغه له رضایت پرته د کور په بخارۍ یا تنور کې د کارولو په مقصد پرې کړي او له ځان سره یې یوسي.

دویمه: شخص د ترڅنگ شخص د کرنیزې ځمکې خاوره د هغه له رضایت پرته، د زرنج نقلیه واسطې په وسیله خپلې ځمکې ته لېږدوي.

درېیمه: شخص، د گډې پولې ځای چې د هغه د ځمکې او د هغه ترڅنگ ځمکې ترمنځ د حد واټن په توکه شتون لري، تغییروي او د خپلې ځمکې مساحت پراخوي.

د پورته قضیو څخه د هر یو جرمي وصف مشخص کړئ او د هغه دلیل لاندې ذکر کړئ؟

**د (٦) شپږم فعالیت احتمالي ځوابونه**

لومړی: لومړۍ فرضي قضیه، سرقت دی، ځکه چې ونه عین دی او د خلکو پر وړاندې مادي ارزښت لري و تر څو چې په ځمکه کې منصوب ده، عقار پېژندل کېږي، خو کله چې له ځمکې جلا شي، منقول مال حسابېږي او د سرقت د جرم موضوع گرځي.

دویم: دویمه فرضیه قضیه سرقت دی، ځکه چې د کرنیزې ځمکې خاوره مال دی او د خلکو پر وړاندې مادي ارزښت لري او کله چې له ځمکې جلا شي، منقول حسابېږي او د سرقت د جرم موضوع گرځي.

[١] ـ حسنی ٢/ ٨٣٤. باتصرف.

دریېیم: درېیمه فرضي قضیه غصب دی نه سرقت، ځکه چې کوم څه له یو ځای څخه بل ځای ته انتقال شوی نه دی او د مسروقه مال مهمه ځانګړنه چې هماغه د هغه منقول اوسیدل دي، نه ده رامنځته شوې، بلکه ځمکه د عقار په توګه پر خپل ځای پاتې ده، خو یوازې له دې عقار څخه یوه برخه د هغه د مالک له تصرف څخه او د هغه له رضایت پرته وتلې ده او د نوي متصرف تر مالکانه تصرف لاندې راغلې ده.

دې ځوابونو په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**ب) د سرقت په جرم کې مال د غیر د ملکیت اوسېدل:**

مال د غیر ملکیت اوسېدل، د سرقت د جرم د موضوع مال دویمه ځانګړنه ده چې د افغانستان جزا کود په ٦٩٩مه ماده کې ذکر شوې ده. دا چې ویل کېږي؛ مال باید د غیر ملکیت وي، په دې معنی نه ده چې مال باید د مسروقه منه ملکیت وي، بلکه همدومره کافي ده چې مسروقه مال، په خپله د سارق ملکیت نه وي.

د "غیر" په کلمه کې حقیقي او حکمي اشخاص شاملېږي؛ دولت، سازمانونه، مؤسسات، عبادت ځایونه او داسې نور، حکمي اشخاص دي، که چېرې شخص د غیر ملکیت مال که د حقیقي او حکمي شخص وي، د هغوی له رضایت پرته د تملک په قصد واخلي، سارق ګڼل کېږي.

**(٧) اووم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

شخص د شپې لخوا جومات ته ننوځي او د میکروفون دستګاه، دیوالي ساعتونه او د جومات د امام جاینماز اخلي او په خپل موټر کې یې وړدي، نوموړی شخص د پولیسو پوستو څخه په یوه کې نیول کېږي. د نوموړي شخص جرمي وصف مشخص کړئ او د خپل تشخیص دلیل هم ذکر کړئ؟

**د (٧) اووم فعالیت احتمالي ځواب**

د نوموړي شخص عمل سرقت دی، ځکه چې هغه د غیر ملکیت مال د تملک په مقصد اخیستی دی او مسروقه مال د جومات ملکیت وؤ او جومات حکمي شخص ګڼل کېږي. په حکمي اشخاصو کې د رضایت بحث شرط نه دی.

دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

که چېرې ثابته شي چې مسروقه مال د غیر ملکیت دی، د سرقت د جرمي وصف په تشخیص کې د څارنوال او قاضي مسوؤلیت سخت کار نه دی، خو داسې موارد شتون لري چې مالونه د ملکیت له پلوه په نورو وضعیتونو کې ښایي شتون ولري او د هغه اخیستل د تملک په مقصد، څېړنې ته اړتیا لري څو مشخص شي چې آیا نوموړي مالونه د سرقت د جرم موضوع اخلي یا نه، لکه:

١- هغه مال چې مالک یې مشخص نه دی.
٢- هغه مال چې د اخیستونکي او بل شخص ترمنځ ګډ او مشترک دی.
٣- متنازع فیه مال.
٤- هغه مال چې په خپله د اخیستونکي مال دی خو بل شخص سره په امانت، عاریت یا رهن ایښودل شوی دی.

د پورته مواردو تشریح په لاندې ډول ده:

**١- هغه مال چې مالک یې مشخص نه دی:**

هغه مالونه چې مالک یې مشخص نه وي، څو ډوله کېدلای شي؛ عامه مال، هغه مال چې د عامه کارولو ته ځانګړی شوی وي، مباح مال، لقطه مال، او داسې نور...

- **عامه مال:** په دې مالونو کې عقار او منقول شامل دي؛ عقاري عامه مالونه لکه عامه څړځایونه چې د سرقت د جرم موضوع نه شي کېدلای. عامه منقول مالونه لکه د میوې ونې چې په اصل کې عقار دي خو د هغوی میوه، په منقول شکل رامنځته کېدلای شي او د سرقت د جرم موضوع کېدلای شي. له دې کبله،

که چېرې د کلي له خلکو څخه يو فرد د هغوی له رضايت پرته د پستې يا جلغوزو ځنګل ته ننوځي او يوه اندازه يې د تملک په مقصد له ځان سره يوسي، د هغه عمل سرقت ګڼل کېږي، د دې عمل په ارتکاب کې د سرقت د جرم عناصر تکميل دي؛ پسته او جلغوزي منقول مال او د غير (عامه وګړو) ملکيت دی چې د هغوی له رضايت پرته د تملک په مقصد اخيستل شوي دي.

- **هغه مال چې د عامه کارولو لپاره ځانګړی شوی دی:** هغه مال چې عامه کارولو لپاره ځانګړی شي؛ وړاندې د شخص په ملکيت کې قرار لري، لکه د اوبو سړولو يخچالونه چې د جوماتونو، مکتبونو دباندې يا د عمومي لارو په غاړه کې ایښودل کېږي څو خلک سړې اوبه وڅښي. که چېرې دا ډول مال يا د دې په څير مال د تملک په مقصد واخلي، د هغه عمل سرقت نه ګڼل کېږي، ځکه چې د سرقت له عناصرو څخه يو دا دی چې "مال بايد د غير ملکيت وي" خو دا ډول يخچالونه سربېره پردې چې د چا ملکيت وؤ خو کله چې يې د عامه کارولو لپاره ځانګړی کړ، نو د هغه له ملکيت څخه يې تنازل کړی دی. خو د افغانستان جزا کود په ۷۰۱مه ماده کې يې دا ډول عمل ته "د سرقت په حکم کې د جرم " وصف ورکړی دی نه د سرقت، او ښايي دليل يې همدا وي چې "مال د غير ملکيت کېدل" په دې عمل کې وجود نه لري.

- **لقطه:**

لقطه په لغت کې هغه شي ته ويل کېږي چې په ځمکه غورځول شوی وي[1]، او په اصطلاح کې «له هغه مال څخه عبارت دی چې له څښتن څخه ورک شوی او بل شخص پيدا کړی وي.»[2]

د لقطې احکام د افغانستان په حقوقي نظام کې مدني او جزايي اړخونه لري؛ د هغه د مدني اړخ په اړه، مدني قانون په ۱۹۹۰مه ماده کې لقطې پورې د اړوندو احکامو تنظيم په ځانګړي قانون پورې تفويض شوی دی، خو تر اوسه داسې قانون وضع شوی نه دی. د هغه جزايي اړخ د جزا کود په ۹۰۷مه ماده کې داسې تنظيم شوی دی: «**هغه شخص چې هغه ورک شوي سندونه يا مال چې د هغو بيه له زرو افغانيو څخه زياته وي، پيدا کړي او له مؤجه عذر څخه پرته د يوې اونۍ په موده کې له موضوع څخه د مال**

[1] - لسان العرب، و قاموس المحيط.

[2] - فتح القدير ۱۱۸/٦، و معني المحتاج ٤٠٦/۲

**څښتن یا د پولیسو تر ټولو نږدې ادارې ته اطلاع ور نه کړي، د مال په رد سربېره، د پنځو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.»** په دې ماده کې یوازې مال ته بیه ورکړل شوې ده نه اسنادو ته، ځکه چې اسناد مادي قیمت نه لري، ځکه نو د نومورې مادې په حکم کې هر سند شاملېږي.

د بحث وړ ټکی دا دی چې آیا د لقطې (مال یا سندونو) اخیستل د تملک په مقصد، سرقت دی یا نه؟ حقوقپوهان په دې اړه د نظر اختلاف لري؛ ځینې یې سرقت نه مني،[1] خو یو شمېر نور یې په دې باور دي چې نوموړی عمل سرقت ګڼل کېږي.[2]

د افغانستان جزا کود د لقطې اخیستل او د هغې په اړه اطلاع نه ورکول یې سرقت نه دی ګڼلی، بلکه هغه یې «د پیدا شوي مال نه تسلیمولو» تر عنوان لاندې جرم انګاري کړی دی او هغه ته یې د پنځو زرو افغانیو نغدي جزا ټاکلې ده.

---

[1] - ځکه چې د پیدا کړل شوي مال ساتل که څه هم د تملک په نیت وي، خو دا چې په حقیقت کې د هغه د مالت تر مادي حیازت لاندې قرار نه لري، او په حیازت د تجاوز عمل نه دی رامنځته شوی، نو دېته سرقت نه ویل کېږي. خو که چېرې د هغه د معنوي حیازت درلودونکی وي، ر.ک: جندی، عبد الملک بک، الموسوع الجنائیه، الجزء الرابع ص ۲۱۵ ، حسنی، نجیب ۸۳۱/۲-۸۳۲.

[2] - ځکه چې یا شخص عملاً د غیر ملکیت مال یې اخیستی دی، او مالک یې د هغه له ملکیت څخه تنازل نه دی کړی، که مال عملاً د هغه تر حیازت لاندې قرار ونه لري، " اخیستل" په سرقت کې، معیار دا دی چې د مرتکب فعل ته ترکیز او زیاته پاملرنه صورت ونیسي، څو د مال د څښتن ملکیت، له دې ځایه ده چې ځیني وخت که چېرې د مال مالک هم نه پیژني، خو یوازې دا چې مال غیر پورې اړه لري، نو د هغه عمل سرقت ګڼل کېږي.

د راجع نظر ترلاسه کولو لپاره لازمه ده باید په دوؤ حالتونو کې جلا کړل شي. لومړی دا چې آیا شخص د مال د اخیستلو څخه وړاندې د مال د تملک قصد درلود یا نه، که چېرې حالت د تملک قصد ښودونکی وي، په دې صورت کې دویمه رایه غوره ده او که چېرې د پیښې شواهد د دې ښودونکی وي چې مرتکب له موجه عذر پرته موضوع د مال خاوند یا د پولیسو نږدې ادار ته اطلاع نه ده ورکړې، په دې صورت کې د جزا کود د ۹۰۷ مې مادې له حکم سره سم په قباحت مرتکب شوی او د موجه عذر د احراز په صورت کې د شخص کړنه به د مجازاتو وړ نه وي. لیدل کېږي چې د جزا کود قانون جوړوونکي په دې ماده کې هغه رای ته هیڅ ډول تصریح نه ده وړاندې کړې چې پورته ورته ترجیح وکړل شوې: رک: جندی، عبد الملک بک، الموسوع الجنائیه، الجزء الرابع ص ۲۱۵ ، حسنی، نجیب ۸۳۱/۲-۸۳۲.

## (٨) اتم فعالیت

**فرضي قضیه:**

د عاکفې په نوم مېرمن څخه له یاده وتې وؤ چې خپل د طلا سیټ یې په خپل کور کې چېرته ایښی دی، له زیات پلټلو وروسته، د هغه له پیدا کولو څخه نا هیلې شوه. څو ورځې وروسته، د کوکبې په نوم مېرمن چې د عاکفې له خپلوانو څخه ده، د هغې کور ته مېلمنه راځي، عاکفه له کوکبې څخه غواړي چې د پخلنځي له آلمارۍ څخه چاینک راوړي څو چای دم کړي، کوکبې چې کله چاینک را واخیست ویې لیدل چې په چاینک کې دننه د طلا یو سیټ دی، هغه یې واخیست او په خپل دسکول کې یې واچوؤ او چاینک یې عاکفې ته ورکړ. دوه میاشتې وروسته عاکفې په یوه واده کې خپل د طلا سیټ د کوکبې په غاړه ولید او له هغې څخه یې وپوښتل چې دا د طلا سیټ یې له کومه ځایه کړی دی، کوکبې ورته وویل چې دا مې پیرلی دی. عاکفه د کوکبې پر ضد د پولیسو ادارې ته شکایت کوي.

ستاسو په نظر، د کوکبې عمل کوم جرمي وصف لري؟

الف – سرقت.

ب – په امانت کې خیانت.

ج – د ورک شوي مال پیدا کول او مال څښتن ته یې په اړه اطلاع نه ورکول.

**د (٨) اتم فعالیت احتمالي ځواب**

د کوکبې عمل سرقت دی، ځکه چې د ورک شوي مال او له یاده وتلي مال ترمنځ توپیر شتون لري؛ په له یاده وتلي مال کې د هغه مالک یا حائز یوازې د هغه د موجودیت ځای په اړه نه پوهېږي، خو مال د هغه له حیازت او د مادي سیطرې له حدودو څخه لرې شوی نه دی او په هغه کې د حیازت مادي او معنوي عنصر ممکن دی، ځکه چې شخص پر خپل کور حیازت لري. له همدې کبله، له یاده وتلی مال له ورک شوي مال سره یو شان حکم نه لري او که چېرې شخص له یاده وتلی مال د هغه د مالک له رضایت پرته

او د تملک په مقصد واخلي، نو هغه سارق ګڼل کېږي. (نجيب محمود حسنی، شرح قانون العقوبات، القسم الخاص، ص ٨٣١/٢.)

دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**- مباح مال:**

د افغانستان مدني قانون، مباح مال په صراحت سره تعريف کړی دی خو په ١٩٨٥مه ماده کې، د مباح مال د تسلط لاندې راوړلو حکم داسې بيان کړی دی: « **که څوک مباح مال تر نورو دمخه ترلاسه کړي، د هغې مالک پېژندل کېږي.**» همدارنګه په ١٩٨٦مه ماده کې له خپل مال څخه د مالک صرف نظر کولو په اړه داسې صراحت لري: «**که د منقول مال مالک د هغې د ملکيت څخه طرف نظر وکړي، نو په مباح مال بدلېږي.**»

د نومړو مادو څخه په استنباط سره کولای شو مباح مال داسې تعريف کړو: مباح مال هغه مال دی چې د ټاکلي شخص ملکيت نه وي يا مالک د هغه له ملکيت څخه صرف نظر کړی وي..

د تملک په مقصد د مباح مال اخيستل سرقت نه ګڼل کېږي، ځکه چې اخيستل شوی مال د غير ملکيت نه دی، بلکه د هغه اخيستل او ترلاسه کول د ملکيت د ترلاسه کولو له مشروع اسبابو څخه يو دی. لکه د صحرايي حيوان، الوتونکو، ماهيانو، ارزښت لرونکي سمندري دانو او داسې نورو را اخيستل. همدارنګه هغه مالونه چې مالکان يې له ملکيت څخه صرف نظر وکړي، لکه زاړه کالي، د کور زاړه لوازم ، اضافي خوراکي توکي او داسې نور چې خلک يې معمولاً په خځلو يا په نورو ځانګړو ځايونو کې غورځوي. په پورته ذکر شوو دواړو بېلګو کې شرط دا دی چې بل شخص دمخه پر دغه مباح مالونو خپل تسلط ترلاسه کړی وي.[1]

[1] ـ مخکينی مرجع ٨٢٣/٢، " د جزا کود مادې چې دې موضوع پورې اړه لري، بايد اضافه شي)

**٢- هغه مال چې د اخیستونکي او بل شخص ترمنځ مشترک دی:**

له هغو مواردو څخه یو چې مال کېدلای شي د اخیستونکي او بل شخص ترمنځ ګډ او مشترک وي، مشاع مال دی. د مشاع مال حکمونه د افغانستان په مدني قانون کې تنظیم شوي دي، خو نوموړی قانون د مشاع مال تعریف نه لري.

مشاع مال له هغه مشترک مال څخه عبارت دی چې د دوؤ یا له دوؤ څخه د زیاتو اشخاصو ترمنځ وېشل شوی نه وي، په داسې ډول چې د هر یو شریک برخه په کُل کې د مشاع مال اجزاوؤ پورې اړه ولري.[1] مشاع مال د افغانستان په قوانینو کې تعریف شوی نه دی، د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون[2]، د درېیمې مادې په ١٦ جزء کې مشاع ځمکه داسې تعریف کړې ده: «**مشاع ځمکه هغه ځمکه ده چې د دوؤ یا له هغو څخه د زیاتو اشخاصو ترمنځ مشاع وي او له هغو څخه هر یو د خپلې برخې په اندازه د مالکانه تصرف حق ولري.**»

په مشاع مال کې د شریک تصرف جواز لري، د مدني قانون ١٩٣٥مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري: «**که د یوه عین ملکیت د دوه نفرو یا د هغوې څخه د زیاتو ترمنځ شریک وي نو هر یو د خپلې حصې په اندازې د هغې څخه د ګټې اخیستلو حق لري، او کولی شي په هغه کښې داسې تصرف وکړي چې بل شریک ته ورڅخه ضرر ونه رسیږي همدارنګه که د شریک عین اندازه معلومه وه نو په شریکه توګه د هغې خرڅول، استثمار او استعمال جواز لري، خو په دې شرط چې د نورو شریکانو حقوقو ته ضرر ونه رسیږي.**»

هغه پوښتنه چې زموږ د موضوع اړوند کېږي دا ده چې که چېرې یو له شریکانو څخه د مشاع مال یوه برخه د نورو شریکانو له رضایت پرته د تملک په مقصد واخلي، آیا سارق پېژندل کېږي؟ دې پوښتنې ته په ځواب کې دوه نظریې وجود لري:

---

[1] - لسان العرب.

[2] - د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون، د ١٣٩٦کال د وري په ٢٦مه نېټه په ١٢٥۴مه ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی.

**لومړۍ نظريه:** د نورو شريکانو له رضايت پرته د تملک په مقصد د مشاع مال اخيستل سرقت نه دی، ځکه چې په مشاع مال کې هر يو له شريکانو څخه د هغه مال په اجزاوؤ کې د تصرف حق لري، نو له دې کبله په مشاع مال کې د شريک تصرف د هغه د مالکيت په اعتبار سرقت نه ګڼل کېږي، که څه هم مرتکب له مدني نظره ضامن دی.

**دويمه نظريه:** د نورو شريکانو له رضايت پرته د تملک په مقصد د مشاع مال اخيستل دوه حالتونه لري؛ چې په يو حالت کې سرقت، او په بل حالت کې سرقت نه دی:

**لومړی حالت**: که چېرې مشاع مال د اخيستونکي تر تسلط او حيازت لاندې نه وي، د هغه عمل سرقت دی، ځکه چې ټول شريکان د مشاع مال له اجزاوؤ څخه په هر جزء کې ونډه لري او د هغه له اجزاوؤ څخه د هر جزء اخيستل د غير د مال اخيستلو په معنی د غير له حيازت څخه دی.[1] د بېلګې په ډول: د يو سوپر مارکيټ مال د دريو کسانو (کمال، جمال او جلال) ترمنځ مشاع دی، نوموړی سوپر مارکيټ د کمال تر تسلط او حيازت لاندې دی، له شپو څخه په يوه شپه کې جمال د دروازې د قفل په ماتولو سره سوپر مارکيټ ته ننوځي او ځيني شيان د تملک په مقصد له ځان سره اخلي، د جمال عمل سرقت ګڼل کېږي.

**دويم حالت**: په پورته بېلګه کې که چېرې د جمال عمل کمال ترسره کړي، نو سرقت نه دی، بلکه په امانت کې خيانت دی، ځکه چې د سوپرمارکيټ مال د کمال تر حيازت لاندې دی او هغه دې مال ته په نسبت امين پېژندل کېږي.

د لومړي او دويم حالتونو ترمنځ توپير دا دی چې په لومړي حالت کې جمال د غير مال له غير حيازت سره اخلي، خو په دويم حالت کې کمال غير مال له خپل حيازت څخه اخيستی دی.

[1] - وليدی، محمد صالح، حقوق جزای اختصاصی، جرايم عليه اموال، انشارات امير کبير، ١٣٨٧، ص ٣١٢ جندی، عبد الملک، الموسوعه الجنائيه ج ٤ ص ٢٢٧

خو باید وویل شي چې: د دواړو نظریو د استدلال طریقه له یوه پلوه یوشان او له بله پلوه د یو بل پر ضد ده. ځکه چې په لومړي نظر کې یوازې د مرتکب اړخ ته او په دویه نظریه کې د مجني علیه اړخ او د (نورو شریکانو) زیانمنېدلو ته پام شوی دی.

خو لیدل کېږي چې د مدني قانون او جزا قانون له نظره موضوع او د هغه تعقیب او د راجح نظر موندلو لپاره هڅې ته په ژورې کتنې سره بېلابېلې پایلې ترلاسه کېږي، ځکه چې د مدني حقوقو له نظره، " په مشاع مال کې وېش رجعي پایله لري "، په دې معنی چې فرض پر دې دی چې شریک د خپلې ونډې مالک دی ولو که له وېش څخه وړاندې وي، خو له وېش څخه وروسته په لومړنۍ طریقې سره د خپلې ونډې مال دی. له دې پلوه، که چېرې شریک د مشاع مال په اخیستلو لاس پورې کوي، آیا ممکنه ده چې له وېش او د هغه په ونډه کې د هماغه سرقت شوي مال له رسېدلو څخه وروسته د سرقت تور له هغه څخه دفع کېږي؟ له مدني نظره دې پوښتنې ته ځواب مثبت دی.

خو له بل نظره، منفي ځواب دی، ځکه چې "تشبیه او د مدني مسؤولیت د قواعدو تطبیق، که تجارتي او اداري وي، په جزایي موضوعاتو باندې سمه نه ده، ځکه چې جزایي قواعد د بل هدف تحقق لپاره ترسیم شوي دي، چې هماغه د ټولنیزې مصالح ساتنه ده، خو په مشاع مال کې د وېش پایلې رجعي ګڼل د مدني اعتباراتو پر بنسټ او د صحې په منظور هغو تصرفاتو ته اېښودل کېږي چې شریکان د هغه له وېش څخه وړاندې هغه ترسره کړې وي، نو دا حکم باید جزایي قواعدو ته سرایت ونه کړي. له همدې ځایه ده چې د جزا قانون له نظره د مال د مالک ملکیت د سرقت د عمل ارتکاب پرمهال د اعتبار وړ ګرځي، نه د هغو بدلونونو او تغیراتو پرمهال چې له هغه څخه وروسته صورت ونیسي."[1]

سربېره پردې، د مشاع مال د رجعي پایلې نظریه یوازې افتراضی او مجازي نظریه ده چې باید په جزایي موضوعاتو کې د تطبیق مجال ونه لري، ځکه چې د جزایي حکمونو پر بنسټ د واقعیتونو حقایق باید تشکیل کړي، نه خیال وهنې او مجازي افکار.[2]

[1] سرور، احمد فتحی، الوسیط فی قانون العقوبات، القسم الخاص، کتاب الثانی، ص ٥١٦

[2] ـ حسنی ، نجیب، ٢ ٨٢٧-٨٢٨.

**۳- متنازع فيه مال:**

كه چېرې شخص متنازع عليه مال د مقابل لوري له رضايت پرته او د تملك په قصد واخلي، آيا د هغه عمل سرقت ګڼل كېږي او كه نه؟ استاد نجيب حسنى رحمه الله - د مصر دجزا قانون په شرحه كې - دا پوښتنه دا ځواب كړې ده: په دې ځاى كې د سرقت جرم ته رسيده ګي د ملكيت موضوع ته رسيده ګۍ پورې تړلې ده او د هغه په رڼا كې د سرقت جرم رامنځته كېدنه يا نه رامنځته كېدنه په خپله روښانه كېږي، لكه څرنګه چې كه د نوموړي مال ملكيت تورن ته ثابت شي، نو هغه سارق نه دى او العكس بالعكس.

په دې مورد كې داسې نيوكه چې د سرقت جرم د قضايي حكم له صادرېدو څخه وړاندې ارتكاب شوى دى، د پايلې په تغير باندې هيڅ اغېزه نه لري، ځكه چې قضايي حكم مثبت نه، بلكه مظهر دى او په دې ځاى كې د تورن په ملكيت د حكم صادرول په دې معنى دى چې نوموړى شخص لومړى د نوموړي مال مالك وؤ او له همدې كبله د هغه له لورې د بل پر ملكيت هيڅ ډول تېري صورت نه دى موندلى[1].

**٤- هغه مال چې په خپله د اخيستونكي ملكيت دى خو بل شخص سره يې په امانت، عاريت يا رهن ايښى دى:**

كه چېرې شخص خپل مال بل سره په امانت، عاريت يا رهن ايښى وي، وروسته يې له هغه څخه غلا كړي، د هغه عمل سرقت نه ګڼل كېږي، ځكه چې د مسروقه مال له شرايطو څخه يو شرط دا دى چې بايد د غير ملكيت اوسي.[2] دا ډول اعمال بل جرمي وصف ځانته غوره كوي. د افغانستان د جزا كود په ۷۲۴مه ماده كې ورته موارد يې په امانت كې د خيانت په حكم كې د جرمونو تر عنوان لاندې جرم انګاري كړي دي چې د تأمل وړ دي.[3]

[1] حسنى، نجيب، ۸۲۱/۲.

[2] - جندى، عبد الملک، الموسوعه الجنائيه، ج ٤ ص ۲۲۳ ، نجيب، حسنى ۸۲۰/۲-۸۲۱.

[3] ـ د جزا كود د ۷۲۴مې مادې متن په دې اړه داسې وايي: " لاندې اعمال په امانت كې د خيانت په حكم كې پېژندل كېږي، مرتكب په قصير حبس يا له لسو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محكومېږي:

## څلورم مطلب: د سرقت جرم د ارتکاب وسیله

د سرقت جرم په ارتکاب کې د وسایلو کارول شرط نه دی اینبودل شوی، بلکه دا جرم د هرې وسیلې په واسطه یا له وسیلې پرته ارتکاب موندلای شي. یوازې د سرقت د جرم په ارتکاب کې د ځانګړې وسیلې کارول د هغه د مجازاتو د تشدید باعث ګرځېدلای شي. لکه د وسلې[1]، ساختګي کلي ګانو[2]، نظامي جامو یا د نورو عامه خدمتونو مؤظفینو لباس یا د تزویر شوي امر او یا حیله آمیزو وسایلو کارول[3].

**(۹) نهم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

یو شخص غواړي چې له دوکان څخه بکس غلا کړي، خو د افشاء کېدلو وېره لري. هغه جمال ته وایي: د دوکان له داخل څخه راته زما بکس راوړه. جمال په دې ګومان سره چې بکس یې اخیستی دی، ورته یې راوړي او د دوکاندار هیڅ پام نه کېږي. یا شخص د تربیه شوي سپي په کارولو سره د خلکو مال غلا کوي.

آیا دا ډول اعمال د سرقت جرمي وصف ځانته غوره کوي، په استدلال سره ځواب ورکړئ؟

**د (۹) نهم فعالیت احتمالي ځواب**

---

۱- په هغه صورت کې چې د هغه منقول مال مالک چې د هغه مالونه د قانون په حکم یا د محکمې په قرار تر حجز لاندې نیول شوي یا د قضا تر تصرف لاندې اینبودل شوي وي، مال په ناوړه نیت د ځان یا د بل شخص د منفعت لپاره استعمال یا په هغه کې تصرف وکړي یا هغه پټ کړي یا یې هغه شخص ته چې په نوموړي مال کې له هغه څخه د مطالبې حق ولري، تسلیم نه کړي، په داسې ډول چې د مال په هکله نیول شوو اجراآتو منظور تر لاسه نه کړای شي.

۲- په هغه صورت کې چې ګرو اخیستونکی، مرهونه مال د هغه له مالک سره په امانت کېږدي او نوموړی مالک د ځان یا د ځان د منفعت یا د بل شخص د منفعت لپاره هغه په ناوړه نیت سره استعمال یا د هغه مقصد پرخلاف چې هغه ته سپارل شوی، په هغه کې تصرف وکړي".

[1] - د جزا کود د ۷۰۲مې مادې ۳ جزء.

[2] - د جزا کود د ۷۰۲مې مادې ۴ جزء.

[3] - د جزا کود د ۷۰۲مې مادې ۵ جزء.

هو، نوموړي اعمال د سرقت جرمي ځانګړنه لري، ځکه چې له وسايلو څخه استفاده يا له هغو څخه نا استفاده د سرقت جرم په رامنځته کېدو يا نه رامنځته کېدو کې شرط نه دی.

دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

## پنځم مطلب: د سرقت د جرم پايله

د «اخيستلو» کلمه د جزا کود د ٦٩٩مې مادې په (١) فقره کې داسې افاده کېږي چې د سرقت جرم له پايله لرونکي (پايلې پورې مقيد) جرمونو څخه دی. د سرقت په ارتکاب کې جرمي پايله د غير منقول مال د سارق په لاس ورکول دي. د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې څه وخت د سرقت جرم مادي عنصر «اخيستل» رامنځته کېږي، څو د هغه په تشخيص سره وکولای شي د تام سرقت د ارتکاب او د هغه د پيل ترمنځ توپير رامنځته کړي؟ په دې اړه بېلابېلې نظريې شتون لري چې لنډيز يې په لاندې ډول دی:

لومړۍ نظريه: د سرقت جرم مادي عنصر «اخيستل»، يوازې د هغه له ځای څخه د مال را اخيستل رامنځته کېږي، ولو که مال بل ځای ته نه وي لېږدول شوی يا د مالک له تسلط او حوزې څخه دباندې وتلی نه وي.

دويمه نظريه: د سرقت جرم مادي عنصر «اخيستل»، مادي مال د هغه له ځای څخه بل ځای ته په لېږدولو سره رامنځته کېږي، ولو که مال د مالک له تسلط يا حوزې څخه وتلی نه وي.

درېيمه نظريه: د سرقت جرم مادي عنصر «اخيستل»، هغه وخت رامنځته کېږي چې مال د مسروق منه له تسلط او حيازت څخه وتلی او د سارق يا بل شخص په تسلط او حيازت کې راشي[1].

د "اخيستلو" کلمې تفسير د لومړۍ نظريې له نظره پراخه او د دويمې نظريې له نظره منځنی او د درېيمې نظريې له نظره مضيق دی.

[1] - سرور، احمد فتحی، الوسيط فی قانون العقوبات، القسم الخاص، کتاب الثانی، ص ٥٤٤ جندی، عبدالملک، الموسوعه الجنائيه ج ٤ ص ٢٤٠ به نقل از حکم محکمه طهطا سال ١٩١٥ المجموعه الرسميه، س ١٦ ، شماره ١٠١

البته په اغلب گومان سره حقوقي نظامونه همدا درېیمه رایه منلې ده، نو که چېرې په مسکوني منزل کې سرقت واقع شي، تر څو چې سارق مال په بشپړ ډول له منزل څخه ونه باسي، تام سرقت نه رامنځته کېږي، ځکه چې تر اوسه مال په کور کې دی او د کور مالک د کور او د هغه د محتویاتو حائز دی او د سرقت د ارتکاب اجرايي عملیات بشپړ شوي نه دي. لکه څرنگه چې د وروستۍ رایې پر بنسټ "په باغ کې د سرقت پېښېدنه چې تور له هغه څخه له وتلو وړاندې نیول شوی دی، په سرقت پیل گڼل کېږي"[1] خو که چېرې امکان ولري، د "اخیستلو" مادي عنصر له منزل څخه د مرتکب له وتلو پرته هم رامنځته شوی وي او د سرقت د ارتکاب مادي اجزاوې بشپړې شي، لکه دا چې سارق مسروقه خواړه وخوري یا مسروقه مال د منزل په محوطه کې داسې ښخ کړي چې مالک پر هغه تسلط ونه مومي، او یا هم د مال خادم چې د خپل مخدوم له کور څخه سرقت کړی وي، خپلې ځانگړې کوټې یا په خپل بکس یې ځای پر ځای کړي"[2]. هغه څه ته په پام چې وویل شول، د خزانې ماتول، د جوړې شوو کِلیو کارول، په دیوال د پروته کېدلو هڅه، د دروازې ماتول او هر ډول بل مادي عمل چې د جرمي پایلې لامل شي، په سرقت پیل دی.

**د فرضي قضیې په طرحه کولو سره د پورته نظریاتو تطبیق:**

شخص له دوکاندار سره آشنایي لري او کله کله د هغه دوکان ته تگ راتگ کوي. یوه ورځ همدا شخص له دوکان څخه په پټه توگه د تملک په مقصد مال را اخلي او له دوکان څخه د وتلو پرمهال (البته له وتلو څخه وړاندې) نیول کېږي. آیا د هغه عمل سرقت گڼل کېږي؟

د لومړۍ نظریې پر بنسټ: هو، نوموړی عمل سرقت گڼل کېږي.

[1] سرور، احمد فتحی، الوسیط فی قانون العقوبات، القسم الخاص، کتاب الثانی، ص ٥٤٤ جندی، عبدالملک، الموسوعه الجنائیه ج ٤ ص ٢٤٠ به نقل از حکم محکمه طهطا سال ١٩١٥ المجموعه الرسمیه، س ١٦ ، شماره ١٠١

[2] جندی، عبد الملک بک، الموسوع الجنائیه، الجزء الرابع ص ٢٤٠ و ٢٤١ به نقل از احمد بک امین ص ٢٤٦ و ٢٤٧، حسنی، نجیب ٨٥٩/٢-٨٦٠.

د دویمې نظریې پر بنسټ: نه، نوموړی عمل سرقت نه ګڼل کېږي، بلکه د سرقت په جرم پیل حد کې قرار لري. خو که چېرې مال د دوکان په پس خانه یا د همدې دوکان دننه په بل ځای کې پټ کړي څو په مناسب فرصت کې یې له دوکان څخه وباسي، په دغه صورت کې د هغه عمل سرقت ګڼل کېږي.

د دریيمې نظریې پر بنسټ: نه، سرقت نه ګڼل کېږي، حتی که چېرې مال د دوکان په پس خانه یا د دوکان دننه په بل ځای کې پټ کړي څو په مناسب فرصت کې یې له دوکان څخه وباسي، بیا هم سارق نه ګڼل کېږي، ځکه چې تر هماغې لحظې هم مال د هغه د مالک په حوزه کې قرار لري. نوموړی غل تر هغې لحظې د سرقت په جرم د پیل حد کې قرار لري. نوموړی هغه وخت سارق ګڼل کېږي چې مال له دوکان څخه وباسي، ځکه چې په دې صورت کې ویلای شو چې مال د مالک له حوزې څخه دباندې او د سارق حوزې ته داخل شوی دی.

**(١٠) لسم فعالیت**

**په بېلابېلو حالتونو کې فرضي قضیې:**

**الف:** لومړی حالت: شخص له شتمن شخص سره د ډرایور په توګه کار کوي. د کور څښتن د حویلۍ په یوه کونج کې ډرایور ته کوټه ورکړې ده څو خپل فارغ وخت په کې تېر کړي. یوه ورځ ډرایور د کور د څښتن کوټې ته ننوځي او لپټاپ یې د تملک په مقصد را اخلي او غواړي چې هغه په خپله کوټه کې پټ کړي او په مناسب فرصت کې یې بازار ته یوسي او ویې پلوري. خو د کور څښتن هغه د دهلیز په منځ کې او خپلې کوټې ته له رسیدو وړاندې نیسي، آیا د ډرایور عمل سرقت ګڼل کېږي؟

دویم حالت: که چېرې نوموړی ډرایور په دې بریالی شي چې لپټاپ په خپله کوټه کې پټ کړي، خو تر اوسه په دې نه دی بریالی شوی چې هغه بازار ته یوسي او ویې وپلوري. په دې صورت کې د هغه د عمل جرمي وصف څه کېدلای شي؟

دریيم حالت: که چېرې نوموړی ډرایور لپټاپ په خپله کوټه کې کنېږدي او له هغه څخه شخصي ګټه واخلي، یا را اخیستل مال، یوه قیمت لرونکی د عطرو بوتل دی چې ډرایور هغه هره ورځ کاروي.

ذکر شوې قضيې د جزا کود له نظره وڅېړئ او ځواب ورکړئ.

**د (۱۰) لسم فعاليت احتمالي ځوابونه**

په لومړي حالت کې د ډرايور عمل سرقت نه ګڼل کېږي، ځکه چې مال د هغه تر تسلط لاندې او حيازت کې نه دی راغلی، يعنې د "اخيستلو" جرم مادي عنصر رامنځته شوی نه دی. له همدې کبله، د هغه عمل د سرقت په جرم پيل ګڼل کېږي.

په دويم حالت کې د ډرايور عمل سرقت ګڼل کېږي، ځکه چې مال د مالک له حيازت او تسلط څخه وتلی او د سارق په حيازت کې راغلی دی، د حويلۍ په محوطه کې د ډرايور د خونې ځای پر ځای کول په دې معنی نه دي چې د ډرايور د خونې فضا د کور د څښتن تر حيازت لاندې شتون لري، بلکه ډرايور د خپلې خونې په فضا باندې بشپړ تسلط لري.

په درېيم حالت کې د ډرايور عمل په لومړۍ طريقې سره سرقت ګڼل کېږي، ځکه چې هغه سربېره پردې چې مال يې تر خپل تسلط او حيازت لاندې راوستی دی، په هغه کې مالکانه تصرف هم کوي. ستاسو نظر څه دی؟

**ب: فرضي قضيه:**

يو شخص استوګنيز کور ته ننوځي او ګازي بخارۍ چې بيه يې درې زره افغانيو ته رسېږي، سرقت کوي، خو مخکې له دې څخه چې د نوموړي کور څخه د دې په باسلو برياله شي، نيول کېږي او تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېږي. د قضيې مؤظف څارنوال د جزا کود ۷۰۰مې مادې ته په استناد او له استوګنيز کور څخه سرقت ته د جرمي ځانګړنې په ورکولو سره نوموړي تورن ته د متوسط حبس مجازات غواړي. خو قاضي ۷۰۹مې مادې ته په استناد سره او دا چې د مسروقه مال بيه له ۵۰۰۰ افغانيو څخه لږه ده، هغه د ۱۰۰۰ افغانيو په نغدي جزا محکوموي. لطيفه د تورن مدافع وکيله، د استناف غوښتنې تر څنګ اعتراض وکړ چې دا چې د تورن شخص فعال د سرقت په جرم (جنحه) پيل دی او د جنحې په جرم د پيل مجازات د جزا کود له ۵۳مې مادې سره سم حد اقل د هغې جزا يو پر څلورمې څخه زياته نه ده چې په قانون کې

د اصلي جرم لپاره پېشبيني شوې ده، نو له ۲۵۰۰ افغانيو څخه لږې ته د نغدي مجازاتو د تنزيل غوښتنه يې کړې ده. د استناف محکمه د مدافع وکيلې اعتراض پر ځای بولي، خو د جزا کود د ۱۴۰مې مادې د دويمې فقرې په استناد سره چې وايي هغه نغدي جزا چې د محکمې په حکم ټاکل کېږي، له ۵۰۰۰ افغانيو څخه لږه نه ده، نو تورن د ۵۰۰۰ افغانيو په نغدي جزا محکوموي.

**په دې قضيه کې:**

لومړۍ پوښتنه: د څارنوال، لومړنۍ محکمې قاضي، مدافع ويکلې او د استناف قاضي د اجرأتو او مطالباتو ترمنځ کوم يو سم او له قانون سره سم کېدلای شي؟

دويمه پوښتنه: فرض کړئ چې که سارق له کور څخه بخارۍ باسلې ده او له کور څخه دباندې ونيول شي، يعنې جرم تکميل شي، نو په دې صورت کې نوموړی سارق د کومې مادې سره سم مجازات کېدلای شي؟ ۷۰۰مه ماده يا ۷۰۹مه ماده؟

## درېيمه وينا: د سرقت جرم معنوي عنصر

د جرم معنوي عنصر د مرتکب د قصد په اړه بحث کوي؛ جرمي قصد په دوه ډوله دی: عام قصد او ځانګړی قصد؛ چې د هر يو په اړه په لاندې مطالبو کې بحث کوؤ:

## لومړی مطلب: د سرقت جرم په ارتکاب کې عام قصد

د سرقت جرم مرتکب سره د عام قصد شتون د دې جرم د رامنځته کېدلو لپاره شرط دی. عام قصد دوه مهم جزونه (علم او اراده) لري چې دواړه يې واضح کوؤ.

**لومړۍ فرعه: د مرتکب علم:**

د سرقت جرم مرتکب سره د علم يا پوهېدلو شتون په دې معنی دی چې هغه په دې اړه چې د پام وړ مال؛ ۱- د غير ملکيت دی، او ۲ – هغه د مالک له رضايت پرته، او ۳ – د تملک په مقصد، اخلي. دغه درې واړه موارد چې د علم اجزاوې تشکيلوي، لاندې بيانېږي.

**الف) د غیر ملکیت په اړه علم:**

مرتکب د مال اخیستلو پرمهال باید علم ولري چې دا مال د بل شخص په ملکیت کې دی. نو که چیرې مال په دې باور سره چې مباح مال دی، واخلي، د هغه عمل د معنوي عنصر له اجزاوؤ څخه د یوه د نشتون له نظره سرقت نه ګڼل کیږي[1].

**ب) د مالک د نا رضایت په اړه علم:**

د مالک نا رضایت که څه هم د سرقت جرم د مادي عناصرو له ډلې هم پېژندل کیږي، خو په معنوي عناصرو کې هم د مالک د نا رضایت په اړه علم د دې جرم له کلیدي عناصرو څخه ګڼل کیږي، لکه څرنګه چې د علم درلودلو عنصر په دې ځای کې دا دی چې مرتکب په دې خبر وي چې د مال مالک د هغه په دې کړنې سره رضایت نه لري. که چیرې مرتکب د غیر مال په نیک نیت سره او په دې باور سره چې د مال مالک د هغه له کړنې څخه راضي دی، واخلي، د هغه عمل د معنوي عنصر له اجزاوؤ څخه د یوه د نشتوالي په دلیل سرقت نه ګڼل کیږي[2].

باید یادونه وشي چې د سرقت له فعل یا د هغه له قصد څخه د "رضایت" او "خبر درلودلو" ترمنځ توپیر شتون لري؛ په دې منځ کې نارضایت ته اعتبار ورکول کیږي نه ناخبرۍ ته، ځکه چې ځیني وختونه ښایي مالک د سارق له قصد څخه خبر وي خو ممانعت یې نه کوي یا یې ممانعت نه شي کولای، او یا هم عمداً چپ پاتې کیږي څو سارق په روښانه جرم ونیول شي.

له بله پلوه، د مالک د رضایت شتون یا نشتون، په خپله د سرقت د جرمي فعل په ریښنه باندې اغیز نه کوي، که څه هم سارق په دې اړه علم ونه لري یا د هغه خلاف ګومان وکړي. له دې کبله، که چیرې شخص د بل کس مال د تملک په مقصد واخلي او ګومان وکړي چې مالک د هغه په اخیستلو راضي نه دی، په داسې حال کې چې مالک د هغه په اخیستلو راضي دی، د مرتکب دا عمل سرقت نه ګڼل کیږي[3]. د بېلګې

[1] هماغه ص ٤٩٥

[2] جندی، عبد الملک بیک، الموسوع الجنائیه، ج ٤ ص ٢٣٢ به نقل از احمد بک أمین ص ٦٤١

[3] ـ حسنی، نجیب ٨٤٢/٢.

په ډول: که چېرې شخص د سرقت په قصد د چا له باغ څخه میوه پټه کړي او گومان وکړي چې د باغ مالک د هغه په دې عمل سره رضایت نه لري، په داسې حال کې چې د باغ مالک خپله میوه ټولو ته یا ټاکلې طبقې ته چې دا شخص په کې هم شاملېږي، وقف کړې ده یا یې اجازه ورکړې ده. خو که چېرې په دې گومان مال واخلي چې مالک د هغه په اخیستلو سره رضایت لري، په داسې حال کې چې هغه رضایت نه لري، نو دا عمل سرقت گڼل کېږي.

بل اړین ټکی دا دی چې د مالک رضایت یا نارضایت هغه وخت اعتبار لري چې د سرقت له عمل څخه وړاندې یا له هغه سره یوځای وي، خو هغه رضایت چې د "اخیستلو" له فعل څخه وروسته صادر شي، د سرقت په جرمي وصف کې بدلون نه رامنځته کوي.[1]

ومو ویل چې د اخیستونکي عمل د مالک د رضایت د شتون په صورت کې سرقت نه دی، خو د هغه شرط دا دی چې د مالک رضایت حقیقي وي. د تهدید، اکراه، جنون، او کوچني سن او نورو عواملو چې د شخص اراده او ادراک سلبوي، له امله رضایت اعتبار نه لري.

**(۱۱) یوولسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

په دې برخه کې د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې له غلطۍ څخه د را ولاړ شوي رضایت حکم څه دی؟ د بېلگې په ډول:

۱ ـ لالاگل خپل ساعت د ترمیم لپاره ساعت جوړوونکي ته وسپاره، وروسته د بېرته راخیستلو پرمهال، ساعت جوړوونکي په اشتباه سره له هغه غوره او قیمتي ساعت لالا گل ته ورکړ. لالا گل پوهېدلو چې دا ساعت د هغه له ساعت څخه غوره دی، خو په دې اړه پوهېدلو سره بیا هم ساعت اخلي او له ځان سره یې وړي. آیا د هغه دا عمل سرقت دی؟

[1] ـ مخکینی مرجع ۴۸۱/۲ .

٢ ـ تور لالا، په دې گومان چې ١٥٠٠٠ افغانۍ له خان لالا څخه پور وړی دی، دا اندازه افغانۍ هغه ته ورکوي، په داسې حال کې چې تور لالا ١٠٠٠٠ افغانۍ پور وړی دی. خان لالا سربېره پر دې چې په حقیقت پوهېږي، خو پنځه زره افغانۍ اضافه هم اخلي او په هغه باندې مالکانه تصرف کوي، آیا خان لالا د پنځه زرو افغانیو په سرقت مرتکب پېژندل کېږي او که نه؟

٣- که چېرې پوسته رسوونکی مال په اشتباه سره د مال څښتن آدرس ته نه بلکه د بل شخص آدرس ته ورکړي، او دا شخص په دې پوهېږي چې دا مال هغه پورې اړه نه لري، اړونده مرجع ته خبر نه ورکوي، بلکه هغه له ځان سره اخلي او په هغه مالکانه تصرف کوي.

په لومړۍ بېلگه کې د مال په ډول کې غلطي، او په دویمه بېلگه کې د مال په اندازه کې غلطي، او په درېیمه بېلگه کې په ذیحق شخص کې غلطي رامنځته شوې ده.

گډونوال باید پوره درې واړو مواردو ته ځواب ووایي چې آیا سرقت پېښ شوی دی او که نه.[١]

بل ټکی چې په دې ځای کې یې یادولو ته اړتیا ده، دا دی چې که چېرې داسې حالت رامنځته شي چې د مال مالک په خپله د هغه د بېرته ورکولو په شرط بل ته تسلیم کړي خو هغه،تسلیم شوی مال قصداً ته بېرته ور نه کړي، یا مبیعه د بشپړې تسلیمۍ څخه وړاندې د هغه بیه پیرودونکي ته تسلیم کړي خو پیرودونکي د مبیعه پاتې بیه بائع ته قصداً ور نه کړي. آیا همدا ډول اعمال سرقت گڼل کېږي یا نه؟ په ځواب کې باید وویل شي چې بل شخص ته د مال د تسلیمۍ د طریقې او د هغه موخې او د هغه د حیازت ډولونه او نحوې د اوږدو تطبیقي مباحثو له ډلې څخه دی چې د دې د روزنیزې رسالې له حوصلې څخه دباندې دی،خو په لنډ ډول لاندې څو مواردو ته اشاره کوؤ:

١ـ د مال تسلیمي هغه وخت د حیازت د لیږد لامل گرځي چې تسلیموونکی د هغه د لیږد نیت او تسلیم اخیستونکی د هغه د تملک نیت ولري؛ دا عمل ښایي ځیني وخت بشپړ حیازت او ځیني وخت ناقص حیازت وي، خو په دواړو صورتونو کې د سرقت د جرم رامنځته کېدو مانع گرځي، د بېلگې په ډول:

[١] - د نجیب حسنی، شرح قانون العقوبات القسم الخاص، ص ٨٤٧ و ٨٤٨ نظریې ته مراجعه وکړئ.

- **د بشپړ حیازت لېږد:** که چېرې مالک اجازه ورکړي چې د هغه مال دې د بل شخص تر بشپړ تصرف لاندې راشي، لکه دا چې مبیعه هغه پیرودونکي ته چې ثمن مؤجل یې نه وي ورکړی، تسلیم کړي او یا چا ته په پور پیسې ورکړي، خو پېرېدونکی نه د هغه مبیعه او نه ثمن بائع ته سپاري، یا پور وړی له خپل پور ورکولو څخه ډډه وکړي، په دواړه صورتونو کې که څه هم مالک د مال په اخیستلو کې رضایت نه لري، خو د سرقت جرمي عمل رامنځته شوی نه دی.

- **د ناقص حیازت لېږد:** که چېرې شخص اجازه ورکړي چې بل شخص ته په جزئي ډول د هغه په مال کې د تصرف حق یا د هغه د کارولو حق وکړي، - چې غالباً له عقود څخه په یو ډول تنظیمېږي، لکه عاریت او اجاره – خو هغه د اجارې د مودې له ختمېدو څخه وروسته نوموړی مال د هغه مالک ته بېرته ورکول نه غواړي او اعلان کړي چې هغه حاضر نه دی چې مال د هغه مالک ته تسلیم کړي، دا عمل سرقت نه ګڼل کېږي.[1]

- **د حیازت نه لېږد:** ځیني وختونه ښايي شخص خپل مال په خپل رضایت سره تسلیم کړي، په داسې حال کې چې د بشپړ یا ناقص حیازت د لېږد له ډولونو څخه هیڅ یو له ځان سره ونه لري او یوازې د هغه مقصد، په هم هغه مال باندې د شخص د عارضي یا مؤقتي تسلط وي، په دې صورت کې که چېرې شخص چې مال ورته تسلیم شوی دی، هغه دوباره مالک ته ور نه کړي، د هغه عمل سرقت ګڼل کېږي، لکه دا چې:

ـ بائع خپل مال پېرېدونکي ته تسلیم کړي څو هغه یې وګوري او د هغه د پېرودلو یا نا پېرودلو په اړه خپل نظر وړاندې کړي.

ـ شخص مال اهل خبره ته سپاري څو د هغه بیه وټاکي.

ـ شخص وسایل خادم یا کارګر ته سپاري څو ټاکلی عمل ترسره کړي.

---

[1] حسنی، نجیب، شرح قانون العقوبات القسم الخاص، ص: ٨٤٣ - ٨٤٦

په پورته ذكر شوو درې واړو حالتونو كې: كه چېرې نوموړي اشخاص مال د هغه مالک ته ور نه كړي، دغه ټول سارق پېژندل كېږي، ځكه چې د مالک له لورې يادو اشخاصو ته د مال له تسليمۍ څخه مراد د نوموړو مالونو د هيڅ ډول تام يا ناقص حيازت انتقال نه دی. ځکه نو د نوموړي مال د تسليمۍ په نشتوالي كې يا له هغه سره تنبتېدلو كې، د سرقت جرمي كړنه او د نوموړو مالونو د مالكينو پر حيازت او ملكيت تجاوز صورت موندلی دی.[١]

## ج) د تملک قصد:

د معنوي عنصر له اجزاوؤ څخه بل مهم جزء د سرقت مرتكب سره د تملک قصد شتون دی او د دې جرم د رامنځته كېدو لپاره شرط دی؛ د تملک قصد په دې معنی چې د غير مال مرتكب د هغه له رضايت پرته د دې لپاره اخلي چې هغه په ملكيت كې راولي او په هغه مالكانه تصرف وكړي. له دې كبله، كه چېرې شخص د بل مال د هغه له رضايت پرته د مؤقتي كارولو په مقصد واخلي، د هغه عمل د سرقت جرمي وصف ځانته نه غوره كوي.

### دويمه فرعه: د مرتكب اراده:

اراده په دې معنی ده چې مرتكب خپله جرمي كړنه په آزادې ارادې سره تر سره كړې ده. له دې امله كه چېرې شخص د سرقت جرمي كړنه تر اكراه او اجبار لاندې ترسره كړې وي، د سرقت د جرم مرتكب نه ګڼل كېږي، ځكه چې د عام قصد مهم جزء چې هماغه "اراده" ده، وجود نه لري. همدارنګه كه چېرې لومړی شخص د دويم شخص مال د درېيم شخص په جيب يا بكس كې واچوي او درېيم شخص پرته له دې چې له موضوع څخه خبر وي، هغه له ځان سره واخلي. بله بېلګه دا چې شخص د سارقينو ډله په بالفعل نيولو په منظور په جرم كې په ګډون يا له هغه سره په هوكړه كې تظاهر وكړي.

په پورته ټولو مواردو كې نوموړي اعمال د فاعلينو له آزادې ارادې پرته ترسره شوي دي. مجنون، معتوه او سكران هم آزادې ارادې نه لري.

[١] ـ نجيب حسنی ٨٤٢/٢-٨٥٨، شرح القانون الجنائی المغربی، العلمی، عبد الواحد ٣٣٥/٢-٣٤٢.

بل مهم ټکی چې د "د جرمي عمل د ارادي کېدو " په اړه د یادونې وړ دی دا دی چې اراده له جرمي فعل سره همزمانه وي. په عمدي جرمونو کې - د سرقت له ډلې - د جرم د مادي عنصر (د اخیستلو فعل) او د معنوي عنصر (د فعال ارادي اوسېدل) ترمنځ همزماني شرط ده؛ یعنې په هماغه لحظه کې چې د سرقت د ارتکاب مادي عنصر پېښېږي، معنوي عنصر هم باید شتون ولري. له دې کبله، که چېرې شخص مال په دې باور سره چې د هغه مالک یې په اخیستلو سره راضی دی، واخلي، ولې وروسته معلومه شي چې مالک راضي نه دی. سر بېره پر دې، اخیستونکی د تملک په مقصد مال له ځان سره وساتي او هغه بېرته مالک ته ور نه کړي یا شخص بل مال د بلې اجازې اخیستلو په مقصد واخلي، خو مالک اجازه ور نه کړي او اخیستونکی مال د تملک په مقصد له ځان سره وساتي او هغه مالک ته بېرته ور نه کړي. دریېیمه بېلګه دا چې شخص مال په دې باور چې مباح مال دی، واخلي، خو وروسته ثابته شي چې نوموړی مال د بل شخص ملکیت دی، د هغه اخیستونکی د تملک په مقصد هغه له ځان سره وساتي او بېرته یې مالک ته ور نه کړي. په دې بېلګو کې د سرقت جرم نه دی واقع شوی، ځکه چې د مادي عنصر او معنوي عنصر ترمنځ د وخت د تقارن شرط نه دی رامنځته شوی؛ بلکه مادي عنصر په یو وخت کې واقع شوی او معنوي عنصر په بل وخت کې رامنځته شوی دی.

د مادي عنصر او معنوي عنصر ترمنځ همزماني د جزا کود د ۴۴مې مادې په (۱) فقره کې داسې تصریح شوی دی «**جرم هغه وخت عمدي پېژندل کېږي چې د هغه د مرتکب سره جرمي قصد محقق وي**» په همدې دلیل که چېرې څوک یو شی د عاریت په قصد واخلي، وروسته د هغه قصد بدلون ومومي او له هغه سره د تملک قصد رامنځته شي او مال د تملک په مقصد له ځان سره وساتي او هغه عاریت کوونکي ته بېرته ور نه کړي، د هغه عمل سرقت نه ګڼل کېږي.

## دویم مطلب: د سرقت د جرم په ارتکاب کې ځانګړی قصد

د سرقت په جرم کې د مال د تملک قصد شتون، ځانګړی قصد دی؛ یعنې د غیر مال اخیستلو څخه د مرتکب منظور دا دی چې هغه تر خپل مالکیت لاندې راولي او په هغه باندې مالکانه تصرف وکړي. د سرقت په جرم کې ځانګړی قصد د دوؤ عنصرو متضمن دی:

۱ـ سلبي عنصر: یعنې مرتکب د اصلي مالک پر خپل مال د تسلط څخه د محرومولو قصد لري. دا عنصر غالباً په دې اړه پرېکړه کولو سره چې مرتکب خپل ځان سره مال ساتي، رامنځته کېږي. که دا پرېکړه د مال اخیستلو پرمهال وکړي یا د هغه د اعادې غوښتنې پرمهال.

۲ ـ ایجابي عنصر: یعنې مرتکب غواړي خپل تسلط او مالکانه تصرفات د مالک په ځای کې غوره کړي او د اصلي مالک په څیر په هغه تصرف ولري.

لنډه دا چې سلبي عنصر د غیر د ملکیت نفې او ایجابي عنصر په مال باندې د خپل ملکیت اثباتول دي.

له دې امله، که چېرې څوک د بل مال د هغه له رضایت د کارولو په مقصد نه بلکه د تملک په مقصد واخلي او هغه له کارولو وروسته پرېږدي یا یې مالک ته بېرته ورکړي، سارق نه ګڼل کېږي[1]. یا شخص د شوخۍ او ټوکو په قصد د خپل ملګري مال د هغه له رضایت پرته واخلي، سارق نه ګڼل کېږي، ځکه چې له هغه سره معنوي عنصر "د تملک قصد یا ځانګړی قصد " شتون نه لري. "خو دا چې شوخي د مال ترلاسه کولو لپاره وسیله وګرځوي ".[2]

اړینه پوښتنه چې دلته مطرح کېږي، دا ده چې: آیا مالک پر خپل مال د مالکانه تصرف څخه په دایمي ډول محروموول د سرقت د رامنځته کېدو لپاره شرط دی، یا دا چې د هغه مؤقت محرومیت هم سرقت ګڼل کېږي؟ لکه دا چې شخص د بل نقلیه واسطه د مؤقتي کارولو په قصد (د هغه له اجازې پرته) واخلي او د خپل ضرورت د رفع کولو څخه وروسته یې خپل مالک ته بېرته ورکړي، آیا د هغه عمل د سرقت جرمي وصف ځانته غوره کوي؟

په دې اړه ډېر نظریات شتون لري چې لاندې ورته اشاره کېږي:

[1] - سرور، احمد فتحی، الوسیط فی قانون العقوبات، القسم الخاص، کتاب الثانی، ص ٥٥١

[2] - جندی، عبد الملک بک، الموسوع الجنائیه، ج ٤ ص ٢٣٤ به نقل از جارسون ن ٢٨٢ و ٢٨٣

الف: نوموړی عمل سرقت نه دی، ځکه چې مرتکب یوازې د ګټې اخیستنې قصد لري، نه د تملک قصد[١].

ب: نوموړی شخص د موټر د تیلو د سرقت مرتکب شوی دی[٢].

ج: د فرانسې سترې محکمې دا عمل سرقت ګڼلی دی.[٣]

نجیب حسنی، مصري حقوقپوه، لومړي نظر ته ترجیح ورکوي، ځکه چې قانون جوړوونکي مرتکب سره د تملک قصد شتون د سرقت رامنځته کېدو لپاره شرط ګڼلی دی او یوازې د مال په "اخیستلو" یې بسنه نه ده کړې. داکتر حسین صادقي، ایراني حقوقپوه، داسې وایي: «په هغه مواردو کې چې شخص د غیر مال د تملک په قصد نه، بلکه د مؤقتي کارولو او مالک ته د هغه د بېرته ورکولو په مقصد د خپل ضرورت د رفع کولو څخه وروسته اخلي، نشو کولای ووایو چې هغه مال د غلا په توګه اخیستی دی »[٤].

یادونه یې اړینه ده چې ځینې، ځانګړی قصد د سرقت رامنځته کېدو لپاره کافي ګڼي، ځکه چې د دوی په نظر مادي عنصر "اخیستل" چې د غیر په مال له تسلط او د هغه له حیازت څخه خپل حیازت د راوستلو څخه عبارت دی، د تملک د قصد له موجودیت پرته امکان نه لري او په دې صورت کې د سرقت د جرم په ارتکاب کې د ځانګړي قصد د موندلو لپاره ځای نه پاتې کېږي[٥].

[١] - سرور، احمد فتحی، الوسیط فی قانون العقوبات، القسم الخاص، کتاب الثانی، ص ٥٥١ د فرانسې د محکمې له احکامو څخه را نقل شوی، جارسون ٣٧٩ ماده، ٣٩٥ شمېره

[٢] - هماغه ص ٥٥١ منقول از Rolland, he vol d: T.C.P. ١٩٥٧

[٣] - هماغه، منبع ص ٥٥١ نقض ١١ ینایر سال ١٩٩٠ م، مجموعه الأحکام، س ٤١ ، شماره ١٤ ص ٦,١٠٧ و نور

[٤] - صادقی، حسین میر محمد، جرایم علیه اموال و مالکیت، ص ٢٦٩

[٥] - وګورئ: محمود نجیب حسنی، القسم العام چاپ سال ٢٠١٢ ، ص ٩٨٠ و فوزیه عبد الستار، قسم عام، ٢٠١٢ ، ص ٧٥٤ و نیز سرور، احمد فتحی قسم خاص، ص ٥٥٢ و ٥٥٣

**(۱۲) دولسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

۱ـ شخص چې د بل مال د هغه له رضایت پرته د تملک په قصد واخلي او هغه نورو اشخاصو ته ډالۍ یا صدقه یا تلف کړي، یعنې مرتکب له خپل سرقت څخه هیڅ گټه نه ترلاسه کوي او نه یې ترې لري.

۲ ـ شخص هغه مال چې د هغه د مالک په وړاندې ډېر ارزښت لرونکی دی او غواړي چې څوک په هغه کې لږ هم تصرف وکړي، د هغه له رضایت پرته یې واخلي، خو د هغه لپاره معادل قیمت ایږدي. یعنې مسروق منه له مالي پلوه هیڅ نه زیانمنیږي.

آیا په پورته مواردو کې درج اعمال سرقت دی؟

**د (۱۲) دولسم فعالیت احتمالي ځواب**

هو، په دواړو مواردو کې سرقت رامنځته شوی دی، ځکه چې د مسروقه مال درلودل یا له هغه څخه د سارق گټه اخیستنه، یا د مسروق منه زیانمنېدل د سرقت د جرم رامنځته کېدو لپاره شرط نه دي. (نجیب محمود حسنی، شرح قانون العقوبات، القسم الخاص، ص ۸٦۵/۲-٦۸۸)

دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**(۱۳) دیارلسم فعالیت**

**گروپي کار:**

۱. د باغ مالک فقیر ته اجازه ورکړې وه چې کولای شي د خپل ضرورت په اندازه میوه هر وخت چې وغواړي د هغه له پوښتنې پرته له ځان سره کور ته وړلای شي. څه موده وروسته مالک خپل باغ خرڅوي

او له یاده یې ووځي چې فقیر ته خبر وکړي. یوه ورځ فقیر له معمول سره سم باغ ته ځي او ډېره میوه له ځان سره وړي، د باغ نوی مالک هغه د سرقت په جرم تورنوي.

۲. گل کاکا، د یو شرکت کارکوونکی دی، د خپلې کورنۍ څخه یو پیغام ترلاسه کوي چې له هغه څخه یې په کې غوښتي چې فوراً کور ته راشي او د هغه د کورنۍ له غړو څخه یو چې صحي حالت یې شدیداً خراب شوی دی، روغتون ته ولېږدوي. نوموړی کارکوونکی د همکارانو څخه د یوه کوټې ته ننوځي څو د موټر کِلي را واخلي او ناروغ روغتون ته یوسي، خو د هغه همکار په خپله کوټه کې نشته، خو د موټر کِلي په میز پرته ده. نو گل کاکا کِلي را اخلي او د همکار د موټر په وسیله ناروغ روغتون ته لېږدوي. د موټر مالک فکر کوي چې موټر یې غلا شوی دی، نو فوراً د ۱۱۹ شمېرې ته زنگ وهي. پولیس گل کاکا له موټر سره د ښار په یوې څلور لارې کې نیسي.

۳. شیر لالا چې په یوه ساختماني شرکت کې کار کوي، د شرکت مالک د شیر لالا د مکررې غوښتنې سربېره هغه ته د دریو میاشتو معاش نه دی ورکړی. یوه ورځ شیر لالا د شپې له لورې شرکت ته ننوځي او د شرکت ځیني وسایل چې د هغه د درې میاشتو د معاش په اندازه قیمت لري، د تضمین په مقصد له ځان سره وړي او په خپل کور کې یې ساتي.

٤. په ۳ شمېره فرضیه کې شیر لالا نوموړي وسایل بازار ته وړي او پلوري یې او د خپل درې میاشتو معاش قیمت له دې لارې ترلاسه کوي.

گډونوال دې پورته قضیې وڅېړي او خپل نظریات دې له یو بل سره شریک کړي. د روزنیز پروگرام استاد باید د گډونوالو نظریې راټولې کړي او وروسته دې پایله څرگنده کړي.

**د (۱۳) دیارلسم فعالیت ځواب**

احتمالي ځواب نه دی ورکړل شوی، بلکه د گډونوالو گروپي کار ته حقیقي ځواب ورکړل شوی دی.

## پنځم مبحث: د افغانستان په جزا کود کې سرقت

د افغانستان جزا کود، مسکوني ځای ته په داخلېدو سره د سرقت (۷۰۰مه ماده)، د ټېلفوني آلاتو یا وسایلو سرقت (۷۰۵مه ماده)، د نقلیه واسطې د نمبر پلیټ سرقت (۷۰٦مه ماده)، د غلې یا کرنیزو (زراعتي) محصولاتو سرقت (۷۰۷مه ماده)، په عبادت ځای کې سرقت (۷۰۸مه ماده)، او د کم بها مالونو سرقت (۷۰۹مه ماده) په څېر موارد ذکر کړي دي چې کولای شو د هغه په اړه د "سرقت جرم موارد" تر عنوان لاندې بحث وکړو.

د سرقت په حکم کې جرمونه (۷۰۱مه ماده)، د وسلې په استعمال سره د اکراه یا تهدید له امله سرقت (۷۰۳مه ماده)، د سرقت د جرم مشدده حالات (۷۰۲مه ماده) او د مشدده احوالو اجتماع (۷۰۴مه ماده) په څیر نور موارد هم په دې رساله کې تر بحث لاندې نیول کېږي.

هغه موضوعات چې د «افغانستان په جزا کود کې سرقت» تر عنوان لاندې پرې بحث کېږي، په لاندې ډول دي:

په جزا کود کې د سرقت د جرم موارد (لومړی وینا)، د سرقت د جرم له مواردو څخه موخه د سرقت هغه موارد یا نمونې دي چې قانون جوړوونکي هغه د سرقت په فصل (د جزا کود له ٦۹۹مې مادې تر ۷۱۰مې مادې پورې) کې بیان کړي دي. په دې مواردو کې د سرقت د جرم عادي حالات شامل دي. د سرقت د جرم مشدده حالات (د جزا کود ۷۰۲مه ماده) او د سرقت جرم د مشدده احوالو اجتماع (د جزا کود ۷۰۴مه ماده) په دې مواردو کې نه دي شامل شوي، بلکه په جلا ډول تر بحث لاندې نیول کېږي.

د سرقت د جرم موارد تر لومړی وینا لاندې په لاندې شپږو مطالبو کې بیانېږي:

لومړی مطلب: مسکوني ځای ته په داخلېدو سره سرقت.

دویم مطلب: د ټیلفوني آلاتو یا وسایلو سرقت.

درېیم مطلب: د نقلیه واسطې د نمبر پلیټ سرقت.

څلورم مطلب: د غلې یا کرنیزو (زراعتي) محصولاتو سرقت.

پنځم مطلب: په عبادت ځای کې سرقت.

شپږم مطلب: د کم بها مالونو سرقت.

په دویمې تر څلورمې ویناوؤ کې لاندې موضوعات تر بحث لاندې نیول کیږي:

دویمه وینا: په جزا کود د سرقت په حکم کې جرمونه.

درېیمه وینا: په جزا کود کې د وسلې په استعمال سره د اکراه یا تهدید له امله سرقت.

څلورمه وینا: په جزا کود کې د سرقت د جرم جزا:

لومړی مطلب: د سرقت د جرم د عادي حالاتو جزا.

دویم مطلب: د سرقت د جرم د مشدده حالاتو جزا.

درېیم مطلب: د سرقت د جرم د مشدده حالاتو د اجتماع جزا.

## لومړی وینا: په جزا کود کې د سرقت د جرم موارد:

د افغانستان په جزا کود کې د سرقت د جرم ارتکاب په ځینو مواردو کې قباحت او په نورو مواردو کې جنحه شمېرل شوې ده، ځکه چې د هغه جزا له متوسط حبس څخه تېرې نه دی کړی. (د جزا کود ۷۰۰مه، ۷۰۱مه، ۷۰۵مه، ۷۰٦مه، ۷۰۷مه، ۷۰۸، او ۷۰۹مه مادې). په مشدده حالاتو کې سرقت (۷۰۲مه ماده) او د مشدده احوالو په اجتماع کې سرقت (۷۰۴مه ماده)، جنایت ګڼل کیږي، ځکه چې د هغه جزا طویل حبس پیشبیني شوې ده.

د سرقت د جرم غیر مشدده حالاتو ته د سرقت د جرم عادي حالاتو نوم ورکوؤ او د هغه موارد په لاندې ډول بیانوؤ:

## لومړی مطلب: مسکوني ځای ته په داخلېدو سره سرقت:

مسکوني ځای یا هغه ځای ته چې د استوګنې لپاره چمتو شوی یا د هغه له محلقاتو یوه ته په داخلېدو سره سرقت د سرقت د جرم له مواردو څخه یو دی چې د جزا ود په ۷۰۰مه ماده کې پېشبیني شوی دی. ذکر شوي ځایونه په لاندې ډول تشریح کېږي:

### لومړی فرعه: مسکوني ځای:

مسکوني ځای هغه ځای دی چې په اصل کې استوګنې لپاره ځانګړی شوی دی او شخص د خپل وخت یوه برخه د آرام، خوارو خوړلو او یا د ویده کېدو په موخه په کې تېروي. په پراخه مفهوم سره، مسکون ځای هغه ځای ته ویل کېږي چې په هغه کې عملاً اقامت ولري، لکه منزلونه، هوټل، روغتون، مدرسه، زندان، خیمه او نورو هغه ځایونه چې په عرف کې د استوګنې ځای ته تلقي کېږي[1]. همدارنګه شرط نه ده چې مسکوني ځای ذاتاً استوګنې لپاره ځانګړی شوی وي، بلکه د استوګنې د علایم د شتون په صورت کې مسکوني ځای ګڼل کېږي، لکه د دولتي اداره یوه برخه چې په هغې کې یوازې څوکیدار ویده کېږي[2]. بنایي ځیني ځایونه کله کله د هغه هدف په خلاف چې جوړ شوی دی، کارول کېږي او لږ تر لږه یو کس په کې اوسیږي[3] او په هغه کې د استوګنې علایم ولیدل شي، لکه د کارخانو د ساتونکو اتاقونه، انبارونه او تجارتي ځایونه او داسې نور[4].

### دویمه فرعه: هغه ځای چې د استوګنې لپاره چمتو شوی وي:

قانون جوړوونکي د مسکوني ځای په څنګ کې له هغه ځای څخه چې د استوګنې لپاره چمتو شوی وي، هم یادونه کړې ده. په دې ډول ځایونو کې لاندې موارد شاملېدلای شي:

---

[1] - سرور، احمد فتحی، الوسیط فی قانون العقوبات، القسم الخاص، کتاب الثانی، ص ٥٦٢

[2] - الدره، ماهر، عبد شویش، بی تا، شرح قانون العقوبات، القسم الخاص، ص ٢٨١

[3] - جندی، عبدالملک، الموسوعه الجنائیه، ج ٤ ص ٢٥٩

[4] - سرور، احمد فتحی، الوسیط فی قانون العقوبات، القسم الخاص، کتاب الثانی، ص ٥٦٢.

الف) هغه ځایونه چې نوي د استوګنې لپاره چمتو شوي وي، خو تر اوسه په کې څوک استوګن شوي نه وي.

ب) هغه ځایونه چې د هغه استوګن کله کله په هغه ځای کې اوسیږي، لکه هغه ځایونه چې د کال له فصلونو څخه په یوه کې کارول کېږي، یا هغه ځایونه چې اوسېدونکي یې له یوه ځای څخه بل ځای ته د مسافرۍ پرمهال ترې ګټه پورته کوي[1].

ج) هغه ځایونه چې په کې اشخاص اوسېدل، وروسته یې هغه ځای خالي کړی او تر اوسه نوي اشخاص په هغه ځای کې استوګن شوي نه دي.

**دریمه فرعه: د مسکوني ځای یا هغه ځای ملحقات چې د استوګنې لپاره چمتو شوی وي**

قانون جوړوونکي د جزا کود په ۷۰۰مه ماده کې د "هغه" ضمیر په کارولو سره داسې تعبیر کړی دی: "یا د هغه له ملحقاتو څخه په یوه سره ". د "هغه" ضمیره مفرد ته اشاره ده چې له دې دوؤ ځایونو (۱- مسکوني ځای، یا ۲- هغه ځای چې د استوګنې لپاره چمتو شوی وي) څخه یوه ته اشاره کوي، نه دواړه ځایونو ته. د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې د قانون جوړوونکي هدف د کوم ځای له ملحقاتو څخه دی؛ ۱- د مسکوني ځای ملحقات، یا ۲- د هغه ځای ملحقات چې استوګنې لپاره چمتو شوی دی؟ که چېرې د قانون جوړوونکي هدف د دواړو ځایونو له ملحقاتو څخه وي، نو باید د جمع ضمیر په کارولو سره هغه دا ډول تعبیر شي: "یا د هغو له محلقاتو څخه یوه ته ".

اما که چېرې دا ټکی په حسن نیت سره توجیه شي، نو ویلای شو چې د (آن) ضمیر نږدې ته راجع کېږي، یعنې د هغه ځای ملحقات چې استوګنې ته چمتو شوی وي چې په دې توجیې سره مسکوني ځای په لومړنۍ طریقې سره په دې حکم کې شاملېږي، ځکه چې د طبیعت له مخې هغه ځای دی چې استوګنې ته چمتو شوی دی. په بل عبارت، مسکوني ځای هغه ځای دی چې استوګنې ته چمتو شوی وي او چمتو شوی ځای استوګنې ته حکم لري، که چېرې په هغه کې څوک استوګن نه وي.

[1] - سرور، احمد فتحی، الوسیط فی قانون العقوبات، القسم الخاص، کتاب الثانی، ص

په هر صورت، د ځای له ملحقاتو څخه منظور؛ هغه ساحې عبارت دي چې ځای پورې اړه لري، لکه حویلۍ، د محوطې دیوال دننه، گراج، تهکوي، د بام سطحه، ځانگړې لار، د حویلۍ باغچه، د حیواناتو د ساتلو ځای، د الوتونکو د ساتلو ځای او داسې نور. په دې ټولو مواردو کې شرط دا دی چې د منزل او مسکون ځای جزئي ملحقات اوسي.[1]

**څلورمه فرعه: مسکوني ځای ته په داخلېدو سره د سرقت حالات او ....**

مسکوني ځای ته په داخلېدو سره سرقت دوه حالتونه لري، عادي حالت او مشدده حالت؛ د هغه د عادي حالت جزا له جزا کود ۷۰۰مه مادې سره سم متوسط حبس دی او د هغه د مشدده حالت جزا د جزا کود له ۷۰۲مې مادې (۴) جزء سره سم طویل حبس دی.

د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې د "مسکوني ځای ته په داخلېدو سره د سرقت " عادي حالاتو او مشدده حالاتو ترمنځ د توپیر معیار څه دی؟ په ځواب کې باید وویل شي چې د دې دواړ حالتونو ترمنځ د توپیر معیار د وسایلو د ډول له کارولو څخه دی؛ په دې معنی چې که چېرې سارق ځای ته د داخلېدو لپاره د "په دیوال پورته کېدل یا د دیوال سوري کولو یا د دروازې ماتولو یا د پنجرې ماتولو یا د جوړې شویو کلیو کارولو" په څیر وسایل کارولي وي، نو دا ډول سرقتونه مشدده حالتونه گڼل کېږي، که نه نو، عادي سرقت دی.

**انتقادي فکر یا نیوکه**

که چېرې د جزا کود د ۷۰۲مې مادې د ۴ جزء په وروستۍ برخه کې د "یا په هر بل ډول " عبارت ته دقت وکړو، نو وبه مومندو چې دا عبارت اضافه دی؛ ځکه چې د نوموړي عبارت شتون، د سرقت د جرم د عادي حالاتو او مشدده حالاتو ترمنځ د توپیر معیار – چې پورته مو ذکر کړ – له منځه وړي؛ په دې معنی چې که چېرې سرقت مسکوني ځای ته په هر ډول داخلېدو سره مشدده حالت وي، نو عادي سرقت کوم دی چې د جزا کود ۷۰۰مه ماده په هغه باندې د تطبیق وړ وي؟

[1] - جندی، عبدالملک، الموسوعه الجنائیه، ج ٤ ص ٢٦١

## دویم مطلب: د ټیلفوني آلاتو یا وسایلو سرقت:

د جزا کود ۷۰۵مه ماده، داسې تصریح کوي: «**هغه شخص چې هغه آلات یا وسایل چې په ټیلفوني یا انټرنیټي ارتباطاتو کې یا هغه وسایل چې د برېښنا یا ګاز یا نفتو په انتقال کې کارول شوي دي، سرقت کړي، په متوسط حبس محکومېږي.**»

د قانون جوړوونکي منظور په ټیلفوني او انټرنیټي ارتباطاتو کې د کارول شوو وسایلو سرقت، او د برېښنا، ګازو یا نفتو په انتقال کې د کارول شوو وسایلو سرقت دی لکه سیم، کیبل، پایپ، پایه، میټر، ټرانسفارمر او داسې نور، نه د ټیلفوني او انټرنیټي خدمتونو سرقت یا د برېښنا، ګاز یا نفتو سرقت. د بېلګې په ډول: که چېرې شخص په پټه توګه خپل انټرنیټ د "وایفای" په کارولو سره د بل شخص له انټرنیټ سره د هغه له رضایت پرته وصل کړي او د هغه د انټرنیټي خدمتونو څخه ګټه پورته کړي، یا د هغه موبایل را واخلي او له هېواده بهر پرې زنګ ووهي او د هغه کریډیټ مصرف کړي، د هغه عمل د انټرینټي خدمتونو او ټیلفوني خدمتونو سرقت دی چې د دې مادې په حکم کې نه شاملېږي. همدارنګه که چېرې شخص د خپلې برېښنا سیم د دولت خبرولو پرته د عمومي برېښنا له کیبل سره ونښلوي، یا د تیلو پایپ سوری کړي او تیل ترې واخلي، یا د ګازو له زېرمې د هغه د مالک له علم او رضایت پرته، ګاز واخلي، نو دا ډول اعمال د برېښنا، تیلو یا ګازو سرقت دی چې د دې مادې په حکم کې نه شاملېږي، بلکه ښایي د ۷۰۱مې مادې د (۲) فقرې په حکم کې شامل شي.

**(۱۴) څوارلسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

په ټیلفوني او انټرنیټي ارتباطاتو کې د کارول شوو وسایلو او د برېښنا، تیلو او ګازو په انتقال کې د کارول شوو وسایلو د سرقت حکم د جزا کود په ۷۰۵مه ماده کې پوره بیان شول.

آیا تاسو د جزا کود له ٦۹۹ تر ۷۱۰ مادو په رڼا کې لاندې پوښتنو ته ځواب ویلای شئ؟

۱ ـ په غیر مجاز ډول د برېښنا، ګازو او اوبو اخیستلو حکم څه دی؟

۲ ـ په غیر مجاز ډول د نفتو اخیستلو حکم څه دی؟

۳ ـ په غیر مجاز ډول د ټیلفوني او انټرنیټي خدمتونو د کارولو حکم څه دی؟

٤ ـ د ابو په انتقال کې د کارول شوو وسایلو د سرقت حکم څه دی؟

**د (۱۴) څوارلسم فعالیت احتمالي ځواب**

۱- د جزا کود د ۷۰۱مې مادې له (۲) فقرې سره سم په نامجاز ډول د برېښنا، ګازو او اوبو اخیستل سرقت نه دی، بلکه د سرقت په حکم کې دي.

۲- په نامجاز ډول د تیلو اخیستلو حکم د جزا کود د ۷۰۱مې مادې په (۲) فقره کې بیان شوی نه دی.

۳- په نامجاز ډول د ټیلیفوني او انټرنیټي خدمتونو څخه د ګټې اخیستلو حکم د جزا کود په ۷۰۵مه ماده کې بیان شوی نه دی.

۴- د اوبو په لېږد کې د کارول شوو وسایلو د سرقت حکم د جزا کود په ۷۰۵مه ماده کې بیان شوی نه دی، خو په ۷۰۱مه ماده کې ذکر شوی دی.

دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**انتقادي فکر یا نیوکه**

۱- د جزا کود د ۷۰۵مې مادې سره سم، په غیر مجاز ډول د برښنا او ګازو په انتقال کې د کارول شوو وسایلو اخیستل سرقت ګڼل شوی دی، خو د جزا کود د ۷۰۱مې مادې له (۱) فقرې سره سم، په غیر مجاز ډول د برېښنا او ګازو د تأسیساتو د وسایلو اخیستل د سرقت په حکم کې دی، نه په سرقت کې.

آیا د برېښنا او ګازو د تأسیساتو وسایل، د برېښنا او ګازو په انتقال کې کارول شوو وسایلو ته ورته نه دي؟ که چېرې دواړه موارد له یو بل سره توپیر نه لري، نو ولې ورته عمل د جزا کود په ۷۰۵مه ماده کې سرقت نومول شوی، او د جزا کود د ۷۰۱مې مادې په (۱) فقره کې ولې د سرقت په حکم کې ګڼل شوی دی؟

۲- د جزا کود په ۷۰۵مه مادې کې درج شوي د ټیلفوني او انټرنیټي ارتباطاتو وسایل او د برېښنا، ګازو او نفتو د انتقال وسایل، ټول عامه مالونه یا هغه مالونه دي چې عامه کارونې ته ځانګړي شوي دي او د هغه حکم د جزا کود په ۷۰۱مه ماده کې یو ځل بیان شوی دی. وروسته د جزا کود په ۷۰۵مه ماده کې یو ځل بیا تکرار شوی دی، په داسې حال کې چې د هغوی عناصر له یو بل سره ورته او د هغوی ټاکل شوې جزاګانې هم یوشان دي. ستاسو په نظر، آیا ورته تکرار ته اړتیا وه؟ او آیا د هغه تکرار په عدلي او قضایي مراجعو کې د مفاهیمو ګډولو باعث نه ګرځي؟ یا کوم ځانګړی نظر لرئ؟

## درېیم مطلب: د نقلیه واسطې د نمبر پلېټ سرقت:

د جزا کود ۷۰۶مې مادې سره سم، هغه شخص چې د نقلیه واسطې نمبر پلېټ سرقت کړي، په قصیر حبس محکومېږي. د جزا کود په ۶۹۹مه ماده کې د سرقت په درج شوي تعریف کې "د تملک قصد درلودل " د سرقت معنوي رکن ګڼل شوی دی، خو د نقلیه واسطې نمبر پلېټ د هغو مالونو له ډلې نه دی چې د تملک وړتیا ولري، خو دا چې داسې توجیه شي چې سارق شخص په دې ځای کې د هغه د "د تملک د بدیل قصد " ولري او په همدې موخه د هغه عمل سرقت ګڼل شوی دی.

## څلورم مطلب: د غلې یا کرنیزو (زراعتي) محصولاتو سرقت:

د جزا کود ۷۰۷مې مادې سره سم «**هغه شخص چې غله یا هغه کرنیز محصولات چې تر اوسه رېبل شوي یا ټول شوي نه وي سرقت کړي، د مسروقه مال د بیې په دوه چنده نغدي جزا محکومېږي.**»

د مدني قانون د ۲۸۰مې مادې پر بنسټ، غله یا کرنیز محصولات د غیر منقول مالونو له ډلې څخه ګڼل کېږي، خو د هغه په رېبلو یا ټولولو سره د منقول مالونو حکم اخلي.

هغه څه چې په نوموړې ماده کې ناویلي لیدل کېږي، د رېبل شوو یا ټول شوو غلو یا کرنیزو محصولاتو د سرقت د پېشبینۍ نشتوالی، خو تر اوسه له باغ یا ځکمې څخه نه دي انتقال شوي - لکه څرنګه چې د ځمکې درلودونکو او باغ لرونکو ترمنځ رائج ده - په هماغه ځای کې د راتلونکي لازمه مراحلو د اکمال یا د پېرودونکي د موندلو په منظور پاتي شي. نو که چېرې شخص دا ډول غله یا کرنیز محصولات سرقت کړي، د هغه جزا به څه وي؟

| |
|---|
| **(۱۵) پنځلسم فعالیت** |
| **فرضي قضیه:** |
| هغه زمیندار چې خپل غنم یې درمند کړي او بازار ته یې د لېږدولو لپاره منتظر دی. اشخاص د شپې لخوا د نوموړي درمند چې درې ټنه غنم وؤ، سرقت کوي. څو ورځې وروسته هغوی په بازار کې د هغه د پلورلو پرمهال ونیول شول. د نوموړو سارقینو د جزا په اړه د جزا کود د ۷۰۹مې او ۷۱۴مې مادو په رڼا کې بحث وکړئ او هغه مشخص کړئ؟ |
| **د (۱۵) پنځلسم فعالیت احتمالي ځواب** |
| احتمالي ځواب نه دی وړاندې شوی، بلکه ګډونوالو ته حقیقي ځواب ورکړل شوی دی. |

## پنځم مطلب: په عبادت ځای کې سرقت:

عبادت ځای د دیني شعایرو د لمانځلو ځای دی او د جزا کود په ۷۰۸مه ماده کې د "عبادتځای" د ټکي اطلاق دا مفهوم وړاندې کوي چې په دې حکم کې ټول عبادتځایونه شامل دي که دا د مسلمانانو یا د نورو ادیانو عبادت ځایونه وي؟ همدارنګه د "عبادتځای" د ټکي په اطلاق کې رسمي او غیر رسمي، دایمي او مؤقتي، عام او ځانګړي، مستقل او مجزا یا دفترونو، بازارونو، کارخانو، سوداګریزو ځایونو، تفریح ځایونو او داسې نورو پورې ضمیمه شوي عبادت ځایونه شاملېږي، خو په دې شرط چې نوموړی مکان یوازې د عبارت او دیني مراسمو د ترسره کولو لپاره ځانګړي شوي وي.

د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې آیا د عبادتځای ملحقات د عبادت ځای په حکم کې دي؟ په داسې حال کې چې دا ابهام د جزا کود په ۷۰۰مه ماده کې رفع شوي او په مسکوني ځای یا د هغه له ملحقاتو څخه په یوه کې سرقت له واحد حکم لاندې راغلی دی.

په عبادت ځای کې سرقت د ځینو هېوادونو په جزایي قوانینو کې د مشدده حالاتو له ډلې څخه ګڼل کېږي، ځکه چې د عبادت ځایونه له ځانګړي حرمت څخه برخمن دي او سارق له خپل جرمي عمل سره دا حرمت تر پښو لاندې کوي. له بله پلوه، سارق په دې ځای کې په عبادت بوخت شخص له بوختیا څخه په ګټنې په راحتۍ سره کولای شي چې د سرقت جرم ترسره کړي[1]، لهذا ایجابوي چې د هغه جزا شدیده اوسي او یاد ځایونه له زیات ملاتړ څخه برخمن شي. خو دا عمل د جزا کود په ۷۰۸مه ماده کې د عادي جرمونو څخه ګڼل شوي او داسې تصریح شوي دي: «**هغه شخص چې عبادت ځای ته په داخلېدو سره د سرقت مرتکب شي، په متوسط حبس چې له دریو کلونو څخه لږ نه وي محکومېږي.**»

**(۱٦) شپاړلسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

که چېرې د جزا کود د ۷۰۱مې مادې (۱) فقره په دقت سره ولولو، موندو چې د عبادت ځایونو پورې د اړوندو مالونو اخیستل د سرقت په حکم کې دي او د هغه جزا متوسط حبس دی. آیا دا عمل د جزا کود په ۷۰۸مې ماده کې له درج شوي سرقت سره توپیر لري یا نه؟ که چېرې ستاسو ځواب هو وي، د هغوی ترمنځ د توپیر ټکي واضح کړئ. او که چېرې ستاسو ځواب نه وي، نو آیا په دې باور یاست چې د جزا کود د ۷۰۱مې مادې د (۱) فقرې او ۷۰۸مې مادې ترمنځ تضاد شتون لري؟

**د (۱٦) شپاړلسم فعالیت احتمالي ځواب**

په نامجاز ډول د عبادت ځایونو پورې د اړوندو مالونو اخیستل چې د جزا کود د ۷۰۱مې مادې په (۱) فقره کې د سرقت په حکم کې ګڼل شوی دی، د جزا کود په ۷۰۸مه ماده کې له درج شوي سرقت سره

[1] ـ نجیب حسنی ۸۸۲/۲.

توپیر نه لري؛ ځکه چې د جزا کود د ۷۰۸مې مادې صراحت عام دی او عبادت ځای پورې د اړوندو مالونو سرقت او عبادت کوونکو پورې د اړوندو مالونو سرقت دواړه په کې شامل دي. نو له همدې کبله، هغه څه چې د جزا کود د ۷۰۱مې مادې په (۱) فقره کې په نامجاز ډول د عبادت ځایونو پورې د اړوندو مالونو د اخیستلو په اړه ذکر شوي، اضافه او د حذف وړ دي. ځیني حقوقپوهان دا نظر تائیدوي چې عبادت ځایونو پورې د اړوندو مالونو سرقت د عبادت کوونکو او یا نورو هغو اشخاصو پورې چې د عبادت ځای دننه دي، د اړوندو مالونو له سرقت سره توپیر نه لري[۱]. دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**(۱۷) اوولسم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

شخص د جومات محوطې ته په داخلېدو سره یو پایه ځمکنۍ پکه او درې جوړه د لمونځ کوونکو بوټان له ځان سره واخیستل او وتښتېد او وروسته ونیول شو. د نوموړي شخص مجازات د جزا کود د ۷۰۱مې مادې له (۱) فقرې او ۷۰۸مې مادې سره سم مشخص کړئ؟

د بحث وړ ټکي:

جومات پورې د اړوند مال سرقت.

لمونځ کوونکو پورې د اړوند مال سرقت.

د جومات په محوطه کې، نه د جومات له داخل څخه سرقت.

**د (۱۷) اوولسم فعالیت احتمالي ځواب**

[۱] جندی، عبدالملک، الموسوعه الجنائیه، ج ٤ ص ٢٦٢

د ورته قضيې شتون يو له هغو ټکو څخه دی چې هغه ته د صريح او واضح ځواب ورکول آسان نه دي، ځکه چې:

- د جزا کود د ۷۰۱مې مادې (۱) فقره، عبادت ځای پورې د اړوندو مالونو لکه د ځمکې باد پکه په نامجاز ډول اخيستل د سرقت په حکم کې ګڼي چې جزا يې متوسط حبس دی.

- د جزا کود ۷۰۸مه ماده، عبادت ځای ته په داخليدو سره سرقت يې که څه هم مسروقه مال په جومات پورې اړه ولري يا عبادت کوونکو پورې اړه ولري، سرقت نومولی او د هغه جزا متوسط حبس چې له درې کلونو څخه لږ نه وي، دی.

د جزا کود د ۷۰۱مې مادې په (۱) فقره کې په نامجاز ډول جومات پورې د اړوندو مالونو د اخيستلو يادونه شوې او په دې اړه چې نوموړي مالونه د جومات له داخل يا د هغه له ملحقاتو څخه اخيستل شوي، هيڅ تصريح وجود نه لري. ستاسو نظر څه دی؟

## اووم مطلب: د کم بها مالونو سرقت

د جزا کود د کم بها مالونو د سرقت په اړه داسې صراحت لري: «**که چېرې د سرقت په جرم کې، په دې فصل کې له درج شوو مشدده احوالو څخه هيڅ يو موجود نه شي يا د مسروقه مال بيه له پنځه زرو افغانيو څخه لږ وي، مرتکب په قصير حبس يا له لسو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.**»

د جزا کود د ۷۰۹مې مادې عنوان "د کم بها مالونو سرقت" دی، خو دا ماده د کم بها مالونو د سرقت د حکم بيانولو سربېره د هغه سرقت حکم چې په هغه کې له مشدده احوالو څخه هيڅ يو موجود نه شي، هم بيان کړی دی. له دې امله، د کم بها مالونو د سرقت حکم په (لومړۍ فرعه) کې او د هغه د سرقت حکم چې په هغه کې له مشدده احوالو څخه هيڅ يو موجود نه شي، په (دويمه فرعه) کې واضح کوؤ.

### لومړۍ فرعه: د کم بها مالونو د سرقت حکم

د جزا کود د ۷۰۹مې مادې صراحت ته په کتو، کم بها مالونه هغه مالونه دي چې د هغه بیه له پنځه زره افغانیو څخه لږه وي. په خپله پنځه زره پیسې په کم بها مالونو کې شامل نه دي. د کم بها مالونو د سرقت جزا په نوموړې ماده کې قصیر حبس یا له لسو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې نغدي جزا ټاکل شوې ده. تر دې ځایه مسأله خورا ساده ده، خو د دې پوښتنې په طرح کولو سره ستونزې رامنځته کېږي: که چېرې په مشدده احوالو کې د مسروقه مال بیه له پنځو زرو افغانیو څخه لږه وي، نو جزا یې څه ده؟ د دې لپاره چې سم ځواب پیدا کړو، نو ۷۰۹مې مادې ته ور گرځو او د نوموړې مادې متن په دوؤ روایتونو (د قانون جوړوونکي اصلي روایت، او زموږ د تصور روایت) را نقلوؤ، وروسته د هر حکم روایت بیانوؤ:

۱ـ د قانون جوړوونکي اصلي روایت: قانون جوړوونکي، ۷۰۹مه ماده د "یا" کلمې په کارلو سره داسې تعبیر کړې ده: «*که چېرې په سرقت جرم کې په دې فصل کې له درج شوو مشدده احوالو څخه هیڅ یو موجود نه شي* ***یا*** ***د مسروقه مال بیه له پنځو زرو افغانیو څخه لږه وي،*** *مرتکب له احوالو سره سم په قصیر حبس یا له لسو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.*»

۲ـ زموږ د تصور روایت: موږ د "یا" کلمې پر ځای د "او" کلمه کارولې ده او داسې یې تعبیروؤ: «*که چېرې د سرقت په جرم کې په دې فصل کې له درج شوو مشدده احوالو څخه هیڅ یو موجود نه شي* **او** ***د مسروقه مال بیه له پنځو زرو افغانیو څخه لږه وي، مرتکب له احوالو سره سم په قصیر حبس یا له لسو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.*** »

د قانون جوړوونکي اصلي روایت دوؤ حالتونو ته شاملېږي:

الف) هغه سرقت چې په هغه کې له مشدده احوالو څخه هیڅ یو موجود نه شي، د هغه جزا قصیر حبس یا له لسو زرو څخه تر شپېتو زرو پورې نغدي جزا ده، پرته له دې چې د مسروقه مال بیه له پنځو زرو افغانیو څخه لږه یا له هغه څخه زیاته وي.

ب) هغه سرقت چې په هغه کې له مشدده احوالو څخه یو موجود وي، لیدل کېږي چې د مسروقه مال بیه؛ که چېرې له پنځو زرو افغانیو څخه ډېره وي، نو د هغه جزا هماغه د مشدده حالت لپاره پیشبیني شوې

جزا ده. او که چېرې د مسروقه مال بيه له پنځو زرو افغانيو څخه لږه وي، د هغه جزا قصير حبس يا له لسو زرو تر شپېتو زرو افغانيو پورې نغدي جزا ده.

زموږ د تصور روايت، يو حالت بيانوي: هغه سرقت چې په هغه کې له مشدده احوالو څخه هيڅ يو موجود نه وي، او له هغه سربېره، د مسروقه مال بيه له پنځو زرو افغانيو څخه لږه وي، د هغه جزا قصير حبس يا له لسو زرو تر شپېتو زرو افغانيو پورې نغدي جزا ده. زموږ د تصور روايت مهم نه دی، يوازې هغه د دې لپاره مطرح کوؤ چې د قانون جوړوونکي په اصلي روايت سم پوه شو.

**دويمه فرعه: د هغه سرقت حکم چې په هغه کې له مشدده احوالو څخه هيڅ يو موجود نه شي**

د سرقت د جرم مشدده حالات د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې له درج شوو مواردو څخه عبارت دي چې د هغه جزا طويل حبس تاکل شوی دی. سربېره پردې چې د جزا کود په ۷۰۳مه ماده کې د درج شوي سرقت جزا د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې له درج شوي سرقت جزا څخه شديده ده، خو مشدده حالت نه دی نومول شوی. په هر صورت، اصلي موضوع ته بېرته ګرځو.

د جزا کود د ۷۰۹مې مادې صراحت ته په کتو، هر هغه سرقت چې په هغه کې مشدده حالت موجود نه شي، د هغه جزا قصير حبس يا له لسو زرو تر شپېتو زرو افغانيو نغدي جزا ده. لاندې د سرقت څو نمونې ذکر کوؤ چې په دې ماده کې درج شوې جزا پر هغه د تطبيق وړ ده، تاسو نوموړې جزا پر دې نمونو تطبيق کړئ، وروسته د جرم او جزا تناسب په هغه کې وڅېړئ.

يو: هغه شخص چې يوازې او د غلوونکي وسايلو له کارولو پرته او د وسلې له کارولو پرته ماسپښين دوه بجې د زرګرۍ يوه دوکان ته ننوځي او پېرودونکو سره د دوکاندار له مصروفيت څخه په استفادې د طلا يو سيټ چې سل ګرامه وزن لري، سرقت کوي.

دوه: کله چې د کرولا موټر چلوونکی درملتون ته ننوځي، شخص د هغه موټر سرقت کوي.

درې: شخص د هغه موټر شيښه چې د سرک پر غاړه ولاړ دی، ماتوي او يو لاسي بکس چې په کې يو لک ډالر دي، سرقت کوي.

ځلور: شخص د ورځې لخوا يوې مزرعې ته ننوځي او د لسو شپدو ورکوونکو غواګانو په شمېر سرقت کوي.

د سرقت ځلور نمونې چې پورته ذکر شوې، هغه حالات دي چې په دوی کې له مشدده احوالو څخه هيڅ يو موجود نه دی. که چېرې د دغو سرقتونو احکام په سرقت پورې اړوند فصل (د جزا کود له ٦٩٩مې تر ٧١٠مې مادو) کې وپلټو، داسې حکم به پيدا نه کړو، پرته د جزا کود له ٧٠٩مې مادې څخه چې په دوی باندې يې تطبيق کړي. که چېرې دا کار وکړو، نو آيا لاندې پوښتنو ته ځواب لرئ:

- آيا په ٧٠٩مه ماده کې درج شوې جزا د پورته ذکر شوو ځلور ګونو جرمونو له حجم سره متناسب ده؟
- آيا د برېښنا د دوه يا درې متره کيبل د سرقت حجم چې جزا يې متوسط حبس دی (٧٠٥مه ماده)، د موټر له داخل څخه د يو لک ډالرو د سرقت، د يو عراده کرولا موټر د سرقت، د درې سوه ګرامه طلا د سرقت له حجم څخه لوی دی يا د لسو غواګانو د سرقت له حجم څخه چې جزا يې قصير حبس دی (٧٠٩مه ماده)، **لوی دی**؟
- آيا له جومات څخه د يوه جوړه بوټانو د سرقت حجم چې جزا يې متوسط حبس (٧٠٨مه ماده) دی، د موټر له داخل څخه د يو لک ډالرو د سرقت، د يو عراده کرولا موټر د سرقت، د درې سوه ګرامه طلا د سرقت له حجم څخه لوی دی يا د لسو غواګانو د سرقت له حجم څخه چې جزا يې قصير حبس دی (٧٠٩مه ماده)، **لوی دی**؟

آيا د نقليه واسطې د نمبر پلېټ د سرقت حجم چې جزا يې قصير حبس (٧٠٦مه ماده) دی، د موټر له داخل څخه د يو لک ډالرو د سرقت، د يو عراده کرولا موټر د سرقت، د درې سوه ګرامه طلا د سرقت له حجم څخه لوی دی يا د لسو غواګانو د سرقت له حجم سره چې جزا يې قصير حبس دی (٧٠٩مه ماده) سره **برابر دی**؟

## (۱۸) اتلسم فعالیت

**فرضي قضیه:**

شخص د رخصتیو له ورځو څخه په یوه ورځ، ماسپین یوه بجه د طلا پلورلو مارکیټ ته ننوځي او د جوړې شویو کلیو په استفادې سره له دوکانونو څخه د یوه د دروازې قفلونه خلاصوي او د لسو کیلو گرامو په اندازه طلا سرقت کوي.

لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ؟

۱ـ آیا دوکان، مسکوني ځای یا د مسکوني ځای له ملحقاتو څخه دی؟

۲ـ که چېرې ستاسو ځواب نه وي، نو د پورته فرضیې د سرقت جزا د جزا کود د ٦۹۹مې تر ۷۱۰مې مادو په رڼا کې پیدا کړئ؟

۳ـ نوموړې جزا د جرم له حجم سره متناسبه ده؟

**د (۱۸) اتلسم فعالیت احتمالي ځواب**

۱- هغه دوکان چې د (۱۸) اتلسم فعالیت په فرضي قضیه کې ذکر شوی دی، د مسکوني ځای یا د مسکوني ځای له ملحقاتو څخه نه گڼل کېږي.

۲- د جزا کود له ٦۹۹ تر ۷۱۰ مادې مې مطالعه کړې او له ۷۰۹مې مادې پرته بله هیڅ داسې ماده په دې قضیه باندې د تطبیق وړ نه ده. له همدې کبله، د ذکر شوي سرقت جزا قصیر حبس یا له لسو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې نغدي جزا ده.

۳- په ۷۰۹مه ماده کې درج شوې جزا د نوموړي سرقت د حجم په پرتله خورا لږه ده او د جرم او جزا د تناسب اصل په کې هیڅ رعایت کېدلای نه شي.

دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

## دویمه وینا: په جزا کود کې د سرقت په حکم کې جرمونه:

لوستونکی دې د جزا کود ۷۰۱مې مادې عنوان ته له دقت وروسته د دې مادې (۱) او (۲) فقرې هم ژورې مطالعه کړي او لاندې پوښتنو ته دې ځوابونه وړاندې کړي.

۱- که چېرې یو عمل "سرقت" ونومول شي یا "د سرقت په حکم کې" ونومول شي، لومړی: آیا جرمونو ته دا ډول ځانګړنه ورکول مرتبه اثر لري. دویم: آیا جرمي اعمالو ته دا ډول ځانګړنه ورکول د قانون جوړولو د روش له پلوه مشروعیت لري؟

۲- قانون جوړوونکي د ۷۰۱مې مادې په (۱) فقره کې درج شوو اعمالو ته جرمي وصف ور کړی دی او د هغوی جزا یې متوسط حبس ټاکلې ده، خو د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوو اعمالو ته یې د "سرقت په حکم کې " جرمي وصف ورکړی دی او د هغوی جزا یې قصیر حبس ټاکلې ده، په داسې حال کې چې دواړه فقرې د "سرقت په حکم کې جرمونو" تر عنوان لاندې راوړل شوې دي. آیا ستاسو داسې فکر نه کوئ چې په (۱) فقره کې درج شوي اعمال سرقت دی او په (۲) فقره کې درج شوي اعمال د سرقت په حکم کې دي؟

د تأمل وړ ټکي:

د جزا کود د ۷۰۱مې مادې په (۱) او (۲) فقرو کې د "په غیر مجاز ډول اخیستل" عبارت تفسیر درلودونکی دی، ځکه چې په غیر مجاز ډول د مال اخیستل ښایي دوه صورتونه ولري، یو په غیر مجاز ډول د تملک په مقصد اخیستل او بل په غیر مجاز ډول د کارولو په مقصد اخیستل دي. دویم صورت په هیڅ وجه د "سرقت" یا "د سرقت په حکم کې جرمي وصف" نه شي درلودلای.

وړاندې مو هم یادونه وکړه چې د ۷۰۱مې مادې په (۱) فقره او ۷۰۵مه ماده کې د درج شوو اعمالو د جرمي وصف ترمنځ ورته والی شتون لري، ځکه چې په ټیلفوني او انټرنیټي ارتباط کې او د برېښنا، ګازو او اوبو په لېږد کې چې په ۷۰۵مه ماده کې ذکر شوي دي، کارول شوي وسایل عامه مالونه یا هغه مالونه دي چې د عامه کارونې لپاره ځانګړي شوي دي او د ۷۰۱مې مادې په (۱) فقره کې ذکر شوي دي.

د (د ٧٠١مې مادې په (١) فقره کې درج شوي په غير مجاز ډول عبادت ځايونو پورې اړوند مالونو اخيستلو) جرمي وصف د (په ٧٠٨مه ماده کې درج شوی عبادت ځايونو ته په داخلېدو سره سرقت) له جرمي وصف سره تداخل لري. خو دا بايد داسې تفسير کړل شي چې د ٧٠١مې مادې په (١) فقره کې يوازې عبادت ځاى پورې اړوند مالونو ته ځانګړې دی لکه د جومات ديوالي ساعت، د جومات ميکروفون او داسې نور. او ٧٠٨مه ماده بايد داسې تفسير کړل شي چې عبادت کوونکو پورې اړوند مالونو ته ځانګړې شوې لکه د لمونځ کوونکو بوټان.

## درېيمه وينا: په جزا کود کې د وسلې په استعمال سره د اکراه يا تهديد له امله سرقت

قانون جوړوونکی د جزا کود په ٧٠٣مه ماده کې د "يا" توري په کارولو سره د "اکراه" کلمه د "د وسلې په استعمال سره تهديد" له عبارت څخه جلا کړې ده. له دې کبله، دواړه کړنې په جلا ډول د بحث وړ دي.

## لومړی مطلب: اکراه يا زور

اکراه يا زور په دوه ډوله دی؛ پوره او ناقص، چې د مدني قانون[1] په ٥٥٣مه ماده کې داسې تعريف شوی: « **پوره زور عبارت دی د فاحش بدني يا مالي خطر د تهديدولو څخه. په غير فاحش خطر باندې تهديدولو ته ناقص زور ويل کېږي.**» د جزا کود د ٧٠٣مې مادې په (١) فقره کې درج شوی زور يا اکراه مشخص شوی نه دی چې آيا له هغه څخه منظور مادي يا معنوي اکراه ده يا يوازې مادي اکراه؟ همدارنګه مشخص شوې نه ده چې آيا له مادي اکراه څخه منظور پوره مادي اکراه او ناقص مادي اکراه ده يا که يوازې پوره مادي اکراه؟ د دې ابهام د رفع کولو لپاره د جزا کود ١١٧ مې مادې ته مراجعه وکړئ. د جزا کود ١١٧مه ماده د "اکراه" تر عنوان لاندې تنظيم شوې ده. د دې مادې له (١) فقرې سره سم په اکراه کې مادي او معنوي اکراه شاملېږي او د دې مادې په (٢) فقره کې د ځان يا د بدن د غړو له لاسه ورکولو سره مخ کېدل اکراه ګڼل کېږي؛ په دې معنی چې له ضرب او جرح يا داسې بل حالت سره مخ کېدل چې د ځان او د بدن د غړو له لاسه ورکولو حد ته ونه رسېږي، په اکراه کې شامل نه دی؟

[1] - مدني قانون په ١٥/١٠/١٣٣٥ نېټه په ٣٥٣ ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی..

د طرحې ور پوښتنه دا ده چې آیا د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې درج شوې اکراه کولای شئ چې د جزا کود د ۱۷۷ مې مادې د (۱) او (۲) فقرو په رڼا کې تفسیر کړئ او ووایاست چې د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې له اکراه سره یوځای سرقت څخه د قانون جوړوونکي منظور مادي اکراه او معنوي اکراه دي، او له مادي اکراه څخه د هغه منظور یوازې پوره اکراه یا زور دی؟

د معنوي اکراه او مادي اکراه د لا زیات وضاحت لپاره لاندې بېلګو ته پام وکړئ.

ـ د معنوي اکراه بېلګه: شخص یوه کور ته ننوځي او د هغه له اوسېدونکو څخه غواړي چې ورته خپلې پیسې او طلا تسلیم کړي، خو د دې کور اوسېدونکي د هغه تسلیمۍ ته نه حاضرېږي. په دې وخت کې د سارق سترګې د دې کورنۍ د کورني انځورونو په یوه البوم لګېږي او هغه اخلي او د کور اوسېدونکي ګواښي چې که چېرې پیسې او طلا هغه ته تسلیم نه کړي، نو دا انځورونه به د فیس بوک له لارې خپاره کړي. د کور اوسېدونکي خپلې پیسې او طلا سارق ته تسلیموي.

ـ د پوره مادي اکراه بېلګه: شخص یوه کور ته ننوځي او د کور اوسیدونکي په وژنې یا د بدن د غړو په ماتولو سره ګواښي او هغوی مجبوري چې ده ته پیسې او طلا تسلیم کړي.

ـ د ناقصې مادي اکراه بېلګه: شخص یوه کور ته ننوځي او د کور اوسېدونکي په وهلو او ټکولو ګواښي او هغوی مجبوري چې ده ته پیسې او طلا تسلیم کړي.

**(۱۹) نولسم فعالیت**

**ګروپي کار:**

ګډونوال دې د جزا کود د ۱۱۷ مې مادې په رڼا کې د پورته بېلګو په اړه څېړنه وکړي او دا دې وایي چې د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې درج شوي له اکراه سره یوځای سرقت څخه د قانون جوړوونکي منظور څه دی؟ آیا د اکراه له دواړو ډولونو (مادي او معنوي) یا که د اکراه دواړو ډولونو (پوره او ناقص) څخه یې منظور دی او که نه؟

د پروګرام روزونکی دي د ګډونوالو نظریې را ټولې کړي او وروستۍ پایله دې څرګنده کړي.

**د (۱۹) نولسم فعالیت احتمالي ځواب**

احتمالي ځواب نه دی ورکړل شوی، بلکه په ټولګي کې ګروپي کار ته یقیني ځواب ورکړل شوی دی.

د ځینو لیکوالانو په نظر، له اکراه سره یوځای سرقت عبارت دی له: د فاعل پر وړاندې د مجني علیه د هر ډول مقاومت د کمزوري کولو او د مجبوره کولو په منظور د مادي یا معنوي قوې په توسل سره سرقت او د هغه څه ورکول منل چې سارق ورته تمایل لري، او د دې باعث ګرځیدل څو له هغه شتمنۍ څخه چې په خپل حیازت کې یې لري، انصراف وکړي."[1]

په بل عبارت، له اکراه سره یوځای سرقت عبارت دی له: "د مجني علیه پر وړاندې د سارق له لورې د هر ډول وسیلې کارول چې د هغه د مقاومت د راټیټولو یا له منځه وړلو باعث وګرځي او د سرقت ارتکاب آسان کړي."[2]

ځیني، د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې درج شوی له اکراه سره یوځای سرقت داسې تفسیروي چې د "د وسلې په استعمال سره" ځانګړنه دواړو کلمو "اکراه" او "تهدید" لپاره ده؛ یعنې (د وسلې په استعمال سره اکراه یا د وسلې په استعمال سره تهدید). له دې کبله، د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې له درج شوې اکراه څخه د قانون جوړوونکي منظور مادي اکراه ده نه معنوي اکراه، ځکه چې د "اکراه" کلمه د "وسلې په استعمال سره " عبارت سره وصف کړل شوې ده، چې معنوي اکراه خارجوي. دا نظر د بحث وړ دی.

[1] الدره، ماهر عبد شاویش، هماغه سرچینه ص ۲۸۸ منقول از حمید السعدی جرایم الاعتداء علی الاموال، ص ۲۱۵ و ۲۱٦

[2] هماغه سرچینه ص ۲۸۸ له محمود، مصطفی القللی، قسم خاص ، ص ٤۹٦ څخه رانقل شوی.

**دویم مطلب: تهدید**

د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې درج شوی له تهدید سره یوځای سرقت، د "وسلې په استعمال سره" له عبارت سره وصف کړل شوی دی. له دې کبله، د داسې وسیلې په استعمال سره له تهدید سره یوځای سرقت چې په وسله کې نه شمېرل کېږي، په دې حکم کې نه شاملېږي، لکه د لرگي، ډبرې، خنبتې او داسې نورو په استعمال سره تهدید. خو که چېرې مجني علیه د ډبرې، لرگي، خنبتې او داسې نورو په څیر وسایلو په استعمال سره د تهدید په پایله کې مکره قرار ونیسي او داسې تصور کړي چې د دې وسایلو استعمال ښایي د هغه د ځان یا د بدن د غړي له لاسه ورکولو یا د هغه د شدید ټپي کېدلو باعث شي، په دې صورت کې دا ډول سرقت له اکراه سره یوځای د سرقت جرمي ځانگړنه ځانته غوره کوي او د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حکم کې شاملېږي.

**د پام وړ ټکی:**

قانون جوړوونکي د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې د وسلې په استعمال سره له اکراه یا تهدید سره یوځای سرقت یې په ځانگړي حالت پورې مقید کړی نه دی؛ په دې معنی چې دا سرقت کېدلای شي د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې له درج شوو مشدده حالاتو سره یوځای رامنځته شي. همدارنگه امکان لري چې د سرقت له عادي حالاتو سره یوځای وي. له دې کبله، د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي سرقت جزا، په هر حالت کې چې رامنځته شي، د طویل حبس اکثر حد دی.

## شلورمه وینا: په جزا کود کې د سرقت جرم جزا:

قانون جوړوونکي د جزا کود په ٦۹۹مې تر ۷۱۰مې مادو کې د سرقت حالات په درېو کټگوریو وېشلي دي؛ عادي حالات، مشدده حالات او د مشدده احوالو اجتماع. د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې درج شوی سرقت د بحث وړ دی.

## لومړی مطلب: د سرقت د جرم د عادي حالاتو جزا:

د جزا کود په (۷۰۰، ۷۰۱، ۷۰۵، ۷۰۶، ۷۰۷، ۷۰۸ او ۷۰۹ مادو) کې درج شوي سرقتونه عادي حالات دي او په ذکر شوو مادو کې د هر یو جزا بیان شوې ده. د سرقت د جرم عادي حالات د " سرقت د جرم مواردو" تر عنوان لاندې مو په تفصیل سره پورته بیان کړل.

سرقت د جزا کود د ۷۰۲مه ماده په درج شوو حالتونو کې مشدده دی چې د هغه جزا طویل حبس ټاکل شوې ده. د مشدده حالاتو جزئیات به د دې وینا په دویم مطلب کې په تفصیل سره بیان شي.

د جزا کود په ۷۰۴مه ماده کې درج شوی سرقت د مشدده احوالو اجتماع ده چې د هغه جزا له اوؤ کلونو څخه زیات طویل حبس ټاکل شوې ده او د هغه جزئیات به د دې وینا په درېیم مطلب کې به بیان کړو.

### د پام وړ ټکی:

مخکې له دې چې د سرقت د جرم د مشدده حالاتو او د مشدده احوالو د اجتماع په اړه بحث وکړو، دا ټکی د یادونې وړ دی چې د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي سرقت جزا د طویل حبس اکثر حد ټاکل شوې ده، یعنې د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې د درج شوي مشدده حالاتو له جزا څخه شدیده او د جزا کود په ۷۰۴مه ماده کې د مشدده احوالو د اجتماع له جزا څخه شدیده ده، خو د دې سربېره بیا هم، قانون جوړوونکي دې حالت ته د مشدده حالت عنوان نه دی ورکړی. د لیکوال په نظر غوره به وای که قانون جوړوونکي د جزا کود د ۷۰۳مې مادې په (۱) فقره کې درج شوی سرقت د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې د درج شوي جرم د مشدده حالاتو تر عنوان لاندې په یوې جلا فقره کې ځای پر ځای کړې وای او هغه ته یې جزا د طویل حبس اکثر حد ټاکلی وی.

## دویم مطلب: د سرقت جرم د مشدده حالاتو جزا:

د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې د سرقت جرم مشدده حالات بیان شوي دي. د یادونې وړ ټکی دا دی چې په ۷۰۳مه ماده کې د درج شوي جرم جزا، په ۷۰۲مه ماده کې د درج شوي جرم جزا په پرتله شدیده ده

خو هغه ته د مشدده حالت وصف نه دی ورکړل شوی – په هر صورت – د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې د درج شوو جرمونو جزا په بېلابېلو اعتبارونو سره شدیده شوې ده چې هغه په لاندې ډول واضح کوؤ.

١. د سرقت د جرم جزا شدت د هغه د ارتکاب د وخت په اعتبار.
٢. د سرقت د جرم جزا شدت د هغه د مرتکبینو د تعدد په اعتبار.
٣. د سرقت د جرم جزا شدت د هغه په ارتکاب کې د وېروونکې وسیلې د کارولو په اعتبار.
٤. د سرقت د جرم جزا شدت د هغه د ارتکاب د ځای او طریقې په اعتبار.
٥. د سرقت د جرم جزا شدت د هغه په ارتکاب کې د حیله لرونکي وسیلو د کارولو د استفادې په اعتبار.
٦. د سرقت د جرم جزا شدت د مرتکب (د کارگر په وسیله سرقت) د صفت په اعتبار.

د پورته ذکر شوو اعتبارونو څخه هر یو هر یو په جلا فرعو کې تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی فرعه: د سرقت د جرم جزا شدت د هغه د ارتکاب د وخت په اعتبار**

د لمر پرېوتلو او راختلو ترمنځ سرقت د سرقت د جرم له مشدده حالاتو څخه یو دی او د هغه جزا د جزا کود د ۷۰۲مې مادې له (۱) فقرې سره سم طویل حبس ده.

د عرف له نظره، شپه په هغه وخت اطلاق کېږي چې تیاره هره خوا خپره وي او د لید ساحه خورا محدوده وي. د وخت دا موده کېدلای شي بېلابېل تفسیرونه ولري؛ ځیني ښایي په پسرلي کې اووه بجې شپه پیلېدونکې او ځیني ښایي اته بجې شپه پیلېدونکې وگڼي. له دې امله قانون جوړوونکی د دې لپاره چې د بېلابېلو تفسیرونو لپاره لاره وتړي، نو د "شپې" د کلمې پر ځای یې د "د لمر د پرېوتلو او را ختلو ترمنځ " عبارت کارولی دی.

د سرقت د جرم مجازاتو شدت د وخت په اعتبار کې د مرتکبینو تعدد شرط نه دی اېښودل شوی. له دې امله، که چېرې سرقت د یو شخص په واسطه د لمر پرېوتلو او راختلو ترمنځ صورت ونیسي، نو مشدده حالت گڼل کېږي.

په دې ځای کې یوه پوښتنه د طرحې وړ ده چې آیا د سرقت د جزا د شدت علت "د لمر پرېوتلو او راختلو ترمنځ"، دا دی چې مرتکب د تیارې په استفادې کولای شي په آسانۍ سره د پام وړ سرقت ته لاسرسی ومومي او د تېښتې زمینه، د هغه نه پېژندنه او نه نیول کېدنه ډېره مساعده ده؟ همدارنګه په شپه کې ټول ویده کېږي او په دې محدود وخت کې د خلکو آرامتیا له منځه ځي او دوی ته د جسمي او رواني صدمې واردېدلو امکان ډېر متصور دی؟[1]

لیدل کېږي چې د افغانستان د جزا کود په یاد شوي علت یا هر بل سبب سره د شپې له خوا سرقت یې د مجازاتو د شدت علت ګڼلی دی، چې د ژوند په طبیعي او معمولي بهیر سره همغږي لري او د شپې د وخت محدوده غالباً د خلکو د آرام او سکون وخت دی چې باید ګډوډ نه شي، خو د دې حالت نقض کوونکی هم متصور دی او حتی په عمل کې توپیر هم لري، لکه څرنګه چې ځیني اشخاص د ورځې له خوا آرام کوي او د شپې لخوا په کال پیل کوي.

له بله پلوه، که چېرې د پورته ذکر شوې پوښتنې ځواب هو وي، نو د سرقت د جرم د مجازاتو د تشدید علت په هغو هېوادونو کې چې ټول ښارونه یې په شپه کې د ورځې په څېر روښانه دي او ټاکلې سلنه خلک د شپې لخوا د کار کولو په نسبت د ورځې ویده کېږي او د دوی بله سلنه په شپه کې ویده کېږي، به څه وي؟ په خلیجي عربي هېوادونو کې په سلو کې اتیا سلنه خلک د ماسپین د دوؤ تر څلورو بجو پورې ویده کېږي او په دې موده کې په کوڅو او سرکونو کې یو ډول آرامي حاکمېږي، په دې وخت کې به سرقت څه حکم ولري؟

[1] الدره، ماهر، عبد شویش، شرح قانون العقوبات، القسم الخاص، ص ۲۷۸ نقل شوی له حمید السعدی، شرح قانون العقوبات الجدید قسم خاص ص ۲۱۳

**(۲۰) شلم فعالیت**

**فرضیې:**

لومړۍ فرضیه: فرض کړئ چې ۷:۰۰ بجې ماذیگر لمر پرېوځي. شخص ٦:۵۰ بجې یوه کور ته ننوځي او د کور د قیمت لرونکو مالونو راټولولو او په یوه بوجۍ کې یې اچولو نیم ساعت وخت ونیوه. سارق بوجۍ واخېسته او ۷:۲۰ بجې له کوره ووت او د تېښتې پرمهال ونیول شو.

آیا نوموړی سرقت مشدده حالت دی یا که عادي حالت؟

دویمه فرضیه: فرض کړئ چې ۵:۳۰ بجې سهار لمر راخېژي. شخص په ۵:۲۰ بجې یوه کور ته ننوځي او د کور د قیمت لرونکو مالونو راټولولو او په یوه بوجۍ کې یې اچولو نیم ساعت وخت ونیوه، سارق بوجۍ واخېسته او په ۵:۵۰ بجې له کوره ووت او د تېښتې پرمهال ونیول شو.

**د (۲۰) شلم فعالیت احتمالي ځواب**

د (۲۰) شلم فعالیت فرضیو په اړه ځو احتمالي ځوابونه شتون لري.

- له احتمالي ځوابونو څخه یو یې دا دی چې په دواړو قضیو کې سرقت مشدده حالت لري، ځکه چې د سرقت یوه برخه د لمر پرېوتلو او راختلو ترمنځ واقع شوې ده.

- بل احتمالي ځواب دا دی چې په دواړو قضیو کې سرقت عادي حالت لري، ځکه چې یوه برخه یې د لمر پرېوتلو او راختلو ترمنځ او بله برخه یې د لمر پرېوتلو څخه وړاندې یا د لمر راختلو څخه وروسته رامنځته شوې دي او قانون د تورن په ګټه تفسیر کېږي.

- درېیم احتمالي ځواب دا دی چې د سرقت د عمل پای ته رسېدلو ته اعتبار ورکول کېږي، نه یې پیلېدو ته؛ له همدې کبله، په لومړۍ فرضیه کې سرقت مشدده حالت دی، ځکه چې د لمر پرېوتلو څخه وړاندې پیل او د لمر پرېوتلو څخه وروسته پای ته رسېدلی دی. خو په دویمه فرضیه کې سرقت عادي حالت دی،

ځکه چې د لمر راختلو شخه وړاندې پیل او د لمر راختلو شخه وروسته پای ته رسیدلی دی. دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**دویمه فرعه: د سرقت د جرم جزا شدت د هغه د مرتکبینو د تعدد په اعتبار**

د سرقت د جرم د مشدده حالاتو بل مورد، د دوؤ یا له دوؤ شخه د ډېرو اشخاصو په واسطه د هغه ارتکاب دی. د "شخص" کلمې اطلاق دا مفهوم رسوي چې جنسیت او بلوغ د تعدد په ترکیب کې شرط نه دی.

د مرتکبینو تعدد کېدای شي لږ تر لږه د دوؤ اصلي فاعلینو یا اصلي فاعل او شریک مرکب وي، د یو اصلي فاعل او یو معاون شتون، د مرتکبینو تعدد نه تشکیلوي.[1]

د مرتکبینو د تعدد په اعتبار د سرقت جرم د مجازاتو شدت لپاره په مشخص وخت کې د هغه پېښېدل شرط نه دی اېښودل شوی. له دې کبله، کله چې سرقت د دوؤ یا له هغه شخه د ډېرو اشخاصو په واسطه د ورځې صورت ونیسي، نو مشدده حالت شمېرل کېږي.

د مرتکبینو د تعدد په اعتبار د سرقت د جرم مجازاتو د شدت علت دا کېدای شي چې د سارقینو د شمېر او د دوی ترمنځ د همغږئ په ډېرېدو سره له یوه پلوه د سرقت د جرم ارتکاب آسانه کېدلای شي او له بله پلوه د مرتکبینو تعدد په مسروق منه د فشار حجم هم زیاتولای شي.

**(۲۱) یوویشتم فعالیت**

**فرضیې:**

لومړۍ فرضیه: یو موټر د ورځې په دولس بجې د سرک له غاړې د دوؤ اشخاصو په واسطه سرقت کېږي. لومړنی شخص اصلي فاعل او دویم شخص د هغه شریک وؤ. آیا دا سرقت د مرتکبینو د تعدد په اعتبار د شدت حالت رامنځته کوي؟

[1] د جزا کود ٦٧مه ماده

دویمه فرضیه: یو موټر چې د ورځې دولس بجې د سړک له غاړې د دوؤ اشخاصو په واسطه سرقت کېږي، لومړنی شخص اصلي فاعل او دویم شخص د هغه معاون وؤ. آیا دا سرقت د مرتکبینو د تعدد په اعتبار د شدت حالت تشکیلوي؟

**د (۲۱) پوویشتم فعالیت احتمالي ځواب**

لومړۍ فرضیه د مرتکبینو د تعدد په اعتبار سره د تشدد حالت تشکیلوي، خو دویمه فرضیه د مرتکبینو د تعدد په اعتبار سره د تشدد حالت نه تشکیلوي، ځکه چې د جزا کود د ٦٧مې مادې صراحت ته په کتو یوازې د جرم په ارتکاب کې د شریک موجودیت تعدد ګڼل کېږي او نوموړې ماده د معاون د موجودیت په اړه صراحت نه لري، د صراحت نشتوالی د جواز د نشتوالي په معنی دی، ځکه چې په عمومي حقوقو کې اصل منع ده.

دې ځواب په اړه ستاسو نظر څه دی؟

**درېیمه فرعه: د سرقت د جرم جزا شدت د وېرونکې وسیلې د کارولو په اعتبار**

د سرقت د جرم جزا د شدت مواردو له ډلې د وسلې په لېږدولو سره د هغه ارتکاب دی. وسله د جرح او وژنې وسیله ده. قانون جوړوونکي د سرقت د جرم په ارتکاب کې د لېږدول شوې وسلې د ډول تعریف نه دی کړی، نو د حکم د روښانتیا لپاره، باید د وسلې بېلابېل ډولونه ذکر کړو:

هغه وسله چې د یوه شخص په وسیله د لېږد وړ وي، عموماً په ناریه او جارحه وسلې وېشل کېږي؛ ناریه وسله ګرمه وسله ده چې د وېشتونکي میلې درلودونکې ده، دا ډول وسله دوه شکلونه لري:

۱ـ ناریه وسله چې په ځانګړي ډول د ټپ واردولو یا د انسان د وژنې لپاره جوړه شوې ده، لکه: تفنګچه، کلاشینکوف، کارابین ده تکه او داسې نور.

۲ـ هغه ناریه وسله چې په ځانګړي ډول د ښکار لپاره جوړه شوې ده خو د ټپ واردولو او د انسان وژنې لپاره هم کارول کېدای شي لکه؛ چره ییز، دهن پر او داسې نور.

جارحه وسله، سړه وسله ده چې د فیر کولو وړتیا نه لري او په دوه ډوله ده:

١ـ هغه جارحه وسله چې په ځانګړي ډول د ټپ یا د انسان وژلو لپاره جوړه شوې ده لکه؛ برچه، پېش قبضه، چاړه یا د ضرب او جرح لپاره ځانګړي چاقوګان او داسې نور.

٢ـ هغه جارحه وسله چې په ځانګړي ډول د انسان د ټپي کولو یا وژلو لپاره جوړه شوې نه ده، بلکه د نورو مقصدونو لپاره جوړه شوې ده، لکه لور، تېشه، تبر، د پخلنځي چاقو، غیچي او داسې نور.

د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې د جزا کود د ٧٠٢مې مادې په (٣) جزء کې له درج شوې وسلې څخه د قانون جوړوونکي منظور کوم ډول وسله ده؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره لاندې توضیحاتو ته اړتیا ده:

د لیکوال په نظر، د جزا کود د ٧٠٢مې مادې په (٣) جزء کې له وسلې څخه منظور ناریه او جارحه وسله ده، په دې دلیل چې:

لومړی: په ډېرو مواردو کې که چېرې د قانون جوړوونکي منظور یوازې ناریه وسله وي، د "ناریه" کلمه تصریح کوي، خو په دې ځای کې د "وسله" کلمه مطلق ذکر شوې ده، او اطلاق تل عمومیت لري، مګر دا چې تخصیص وارد شي، چې نه دی شوی.

دویم: د وسلې په لېږد سره د سرقت د جرم جزا د دې لپاره تشدید شوې ده چې وسلې سارق ته جرئت ور کړی او پرېکړه یې کړې ده او مسروق منه تر اغېز لاندې راغلی او وېرېدلی دی. او هغه له مقاومته غورځوي او د سرقت عمل ترسره کولو لپاره زمینه ډېره مساعدوي، جارحه وسله ورته هدف رامنځته کولای شي.

درېیم: قانون جوړوونکی په هغه مواردو کې چې ناریه او جارحه وسله یو شان اغېزه لري، دوی په واحد حکم کې راوستي دي، لکه: د ٢٣٦مې مادې (٣) جزء، د ٣١٢مې مادې (١) فقره او ٥٩١مه ماده.

له همدې امله ځواب داسې خلاصه کولای شو چې: ناریه وسله د دې په دواړو ډولونو سره او جارحه وسله چې په ځانګړي ډول د انسان ټپي کولو یا وژلو لپاره جوړه شوې ده، د جزا کود د ٧٠٢مې مادې په

درېيم جزء کې په درج شوې وسله کې شامله ده، ولو که د هغه مرتکب له سرقت پرته د بل منظور لپاره له ځان سره لېږدولې وي. خو جارحه وسله چې په ځانګړي ډول د انسان ټپي کولو او وژلو لپاره جوړه شوې نه ده، لکه؛ لور، قيچي، تېشه، تبر او داسې نور. په داسې حال کې چې د جزا کود د ۷۰۲مې مادې د درېيم جزء په وسله کې شاملېدلای شي چې د هغه سارق د سرقت د ارتکاب په منظور لېږدولې وي[1].

نور ټکي چې په دې ځای کې د يادونې وړ دي؛ دا چې د وسلې جواز درلودل يا نه درلودل، د وسلې روغوالی يا خرابوالی، د ناريه وسلې ډکوالی يا خالي والی، د سرقت جرم د مجازاتو د تشديد لپاره شرط نه دی. هغه وسله چې د کوچنيانو د لوبو وسايلو په شکل ده، په دې حکم کې شامله نه ده.

د وسلې په لېږد سره د سرقت جر د جزا په شدت کې معيار حد اقل د يو ميل يا يوې قبضې وسلې شتون دی. له دې کبله، د څو وسلو لېږدول، جزا له شديد څخه شديدتر ته نه لوړوي، بلکه د يوې يا څو وسلو لېږدول يوشان حکم لري. همدارنګه د وسلې ظاهروالی د شدت لپاره شرط نه دی بلکه مشدده حالت دی ولو که سارق وسله په پټه لېږدولې وي.

**څلورمه فرعه: د سرقت د جرم جزا شدت د هغه د ارتکاب د ځای او طريقې په اعتبار**

قانون جوړوونکي د جزا کود د ۷۰۲مې مادې په (۴) جزء کې، مسکوني ځای يا هغه ځای ته چې د استوګنې لپاره چمتو شوی يا د هغه له ملحقاتو څخه يوه ته په داخلېدو سره سرقت مشدده حالت ګڼل کېږي او د هغه جزا طويل حبس ټاکل شوې ده، په داسې حال کې چې د دې قانون په ۷۰۰مه ماده کې مسکوني ځای يا هغه ځای ته چې د استوګنې لپاره چمتو شوی يا د هغه له ملحقاتو څخه يوه ته په داخلېدو سره سرقت د سرقت عادي حالت ګڼل شوی او جزا يې متوسط حبس ټاکل شوې ده.

هغه ځانګړتيا چې د ۷۰۲مې مادې په (۴) جزء کې شتون لري او د سرقت جرم د مجازاتو د شدت باعث ګرځېدلې ده، د استوګنې ځای ته د سارق د داخلېدو طرز او طريقه ده؛ په دې ځای کې سارق په ديوال

[1] هماغه سرچينه، سرور، احمد فتحی ص ۵۷۱

باندې د ختلو یا د دیوال ماتولو یا د دروازې یا پنجرې ماتولو په وسیله یا د جوړې شوو کلیو په استعمال سره مسکوني ځای ته ننوتی دی. له دې کبله، مسکوني ځای ته د داخلېدو طریقه د شدت سبب شوې ده.

د جوړې شوو کِلیو څخه د استفادې په اړه باید وویل شي چې که چېرې سارق اصلي کِلي ترلاسه کړي او د هغې په استفادې سره د کور دروازه پرانېزي او ور ننوزي او سرقت وکړي، دا حالت نه شي کېدلای چې د سرقت د جرم د مجازاتو په شدت کې شامل وګڼل شي، ځکه چې قانون جوړوونکي د جوړې شوو کِلیو څخه استفاده د مجازاتو د شدت موجب ګڼلی دی او اصلي کِلي ته په هیڅ صورت جوړه شوې کِلي نه ویل کېږي[1].

د جزا کود د ۷۰۲مې مادې په (۴) جزء کې د درج شوي سرقت د مجازاتو د تشدید دلیل دا دی چې د مرتکب له لورې د دې طریقو په کارولو کې ډېر تاوتریخوالی شتون لري او د هغوی په اِعمالولو سره د مسروق منه د مقاومت اندازه کمېږي او نه شي کولای د هغه د له منځه وړلو لپاره کوم اقدام وکړي. سربېره پردې، د دې میتودونو څخه استفاده د سرقت د مرتکبینو د حالت په خطرناک والي دلالت کوي او د سرقت د ارتکاب لپاره د دوی د قوي ارادې ښودونکی دی.

د مسکوني ځای مفهوم هغه ځای دی چې استوګنې لپاره چمتو شوی او د هغه ملحقات چې وړاندې مو واضح کړل.

**پنځمه فرعه: د سرقت د جرم جزا شدت د هغه په ارتکاب کې د حیله لرونکي وسیلو د کارولو د استفادې په اعتبار**

قانون جوړوونکي د جزا کود د ۷۰۲مې مادې په (۵) جزء کې د حیله آمیزو وسایلو څخه په استفادې سره سرقت، مشدده حالت ګڼلی دی. جالب ټکی دا دی چې قانون جوړوونکي د دې وسایلو ځو نمونې تصریح کړي، بیا یې د «یا په نورو حیله آمیزو وسایلو سره» عبارت په کارولو سره د دې حالت دروازه پرانیستې پرېښې ده. هغه وسایل چې قانون جوړوونکي تصریح کړي دي، عبارت دي له: نظامي جامو

[1] سرور، احمد فتحی، هماغه سرچینه ص ٥٦٦

(لباس)، د عامه خدمتونو د نورو مؤظفينو له لباس، تزوير شوي امر، يا د ځای (محل) له استوګنو (ساکنينو) څخه.

ځينې دا وسايل وضاحت ته اړتيا لري چې په لاندې ډول توضيح کېږي.

ـ نظامي جامې (لباس)، ځانګړی يونيفورم دی چې ټول ورسره بلدتيا لري، خو د عامه خدمتونو نور مؤظفين ځانګړی لباس نه لري، پرته له قاضيانو، څارنوالانو او مدافع وکيلانو څخه چې ځانګړی چپن لري، خو هغه له دندې دباندې نه کاروي. نو د قانون جوړوونکي منظور څه کېدای شي؟

ـ له تزوير شوي امر څخه استفاده په دې ادعا سره چې د لوړو مقاماتو له لورې د دولت له صلاحيت سره صادر شوي وي، د هغه نمونه کېدلای شي محکمې پورې منسوب تزوير شوی امر و اوسي چې په هغه کې د کور د تلاشۍ امر ورکړل شوی وي يا هغه ته ورته بل هر امر.

ـ د ځای له استوګنو (ساکنينو) څخه د يوه وسيله کول، داسې کېدلای شي چې سارقين د پام وړ کور د څښتن نوم پيدا کړي، بيا کوڅې ته ننوځي او له ګاونډيانو څخه يو چې د کوڅې په سر کې دی، وپوښتي او ووايي چې د فلاني خان کور کوم دی، موږ د هغه خپلوان يو او له پلانکي ولايت څخه راغلي يو او له هغه څخه وغواړي چې د نوموړي دروازه وټکوي او خپل ځان ورته ور وپېژني او ورته ووايي چې دروازه پرانېزي چې ستاسو کور ته مېلمانه راغلي دي، يا د وسيله کولو له ډلې. په ځای کې استوګن شخص چې د وسيلې په توګه نيول شوی دی، ښايي په کُلي ډول له موضوع څخه ناخبره وي، همدارنګه لرې نه ده چې نوموړی شخص د هغوی له همکارانو څخه وي.

د جزا کود د ۷۰۲مې مادې په پنځم جزء کې د درج شوي سرقت د مجازاتو د شدت علت دا دی چې له حيله آميزو وسايلو څخه استفاده غولوونکې ده او د مسکن (کور) څښتن غافله کوي او د سرقت عملي کولو ته زمينه برابروي.

**شپږمه فرعه: د سرقت د جرم جزا شدت د مرتکب (د کارګر په وسيله سرقت) د صفت په اعتبار**

د جزا کود د ۷۰۲مې مادې شپږم جزء سره سم د کارګر په واسطه سرقت مشدده حالت دی. د کار قانون[١] دریمې مادې څلورم جزء سره سم «**کارګر هغه کارکوونکی دی چې د ټاکلي قرارداد په اساس په اداره کې استخدامېږي.** » د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې آیا د قانون جوړوونکي منظور، په عموم کې کارګران دي یا هغه کارګر دي چې په کار قانون کې تعریف شوي دي؟ دې پوښتنې ته په ځواب کې باید لومړی د کارګر په واسطه د سرقت د مجازاتو د شدت علت وپلټو او بیا حکم وکړو. د دې د شدت علت دا دی چې کارګر په دې عمل سره هغه باور چې د هغه او آمر ترمنځ شتون لري له منځه ځي او د آمر په وړاندې د نورو کاګرانو د امین کېدو احساس ته هم زیان رسوي. سربېره پردې، مرتکب د کارګر د اوسېدو ځانګړنې په استفادې سره په سهولت سره کولای شي د پام وړ مال ته لاسرسی پیدا کړي.

د دې علت په بیان سره لیدل کېږي چې د قانون جوړوونکي منظور په عموم کې کارګران دي، ځکه چې نوموړی علت د هر کارګر په برخه کې صدق کوي. له بله پلوه که چېرې د قانون جوړوونکي منظور په کاګرۍ پورې منحصر کړو چې د کار په قانون کې تعریف شوی دی، نو ډېرو ستونزو سره مخ کېږي:

لومړی: هغه کارګر چې د کار قانون تعریف کړی دی، اکثراً د عامه خدمتونو د مؤظف ځانګړنه ځانته غوره کوي، ځکه چې د عامه خدمتونو مؤظف د جزا کود د څلورمې مادې په ۳ جزء کې په پراخه توګه تعریف شوی او تشبثاتي کارګران چې عامه خدمتونه وړاندې کوي، هم په کې شاملېږي. له دې کبله، د عامه خدمتونو د مؤظف په واسطه د تملک په مقصد د مالک له رضایت پرته د غیر مال اخیستل، غالباً د اختلاس ځانګړنه – په هغه صورت کې چې نوموړی مال د دندې په توګه هغه ته سپارل شوی وي – یا په مال کې د غیر قانوني تصرف ځانګړنه ځانته غوره کوي. دویم: د کلمو په اطلاق کې اصل په دې دی چې "مطلق، عمومیت لري". قانون جوړوونکي د "کارګر" کلمه په مطلق ډول ذکر کړې ده، له کوم دلیل پرته د هغه مقیدول جواز نه لري.

نور مهم ټکي چې د جزا کود د ۷۰۲مې مادې په ٦ جزء کې د مشدده حالت په اړه شتون لري، په لاندې ډول دي:

---

[١] - د کار قانون، د ۱۳۸۷م کال د لیندۍ په ۱٦مه نېټه په ۹٦٦ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی.

ـ قانون جوړوونکي د کارگر په واسطه سرقت د کارگر ذهنیت پورې مشروط کړی دی او کار ورکوونکي ته د ضرر رسولو قصد یې د مجازاتو د شدت لپاره شرط اینبی دی، په دې معنی چې که چېرې کارگر د خپل بل کارگر (همکار) مال او یا هم د شرکت د څښتن د مېلمه یا پېرودونکي مال سرقت کړي، ځانته مشدده حالت نه غوره کوي چې دا نظر ځینو حقوقپوهانو هم تایید کړی دی،[1] خو لکه څرنگه چې لیدل کېږي د «آمر ته د زیان اړولو په قصد» عبارت یو د بحث وړ قید تر سترگو کېږي، ځکه چې په نوموړې جزء کې قانون جوړوونکي نه ده تصریح کړې چې کارگر د کارفرما مال هغه ته د زیان رسولو په قصد سرقت کړي، بلکه ویلي یې دي: «آمر ته د زیان اړولو په قصد د کارگر په واسطه سرقت»، چې په دې صورت کې که چېرې کارگر په کارفرما پورې اړوند مال سرقت کړي، نو له شک پرته هغه ته د زیان رسیدل متحقق وؤ او د داسې حالت تصور نه کېده چې په کارفرما پورې د اړوند مال سرقت هغه ته کوم زیان ونه لري. خو که چېرې کارگر د نورو اشخاصو لکه د کارفرما د مېلمانو یا پېرودونکو مال پټ کړي، بیا هم که وي یا نه وي، خو کارفرما له معنوي پلوه شدیداً زیان ویني او اغېزمن کېږي او ځیني وخت دا هم امکان لري چې معنوي زیان (لکه د عزت او آبرو له منځه تلل) او مادي زیان (لکه د تجارتي اړیکې پرې کول) دواړه له ځان سره لري، قانون جوړوونکی هم په دې ځای کې مطلقاً له زیان څخه یادونه کړې ده چې دواړه ډولونه په کې شاملېږي. همدارنگه له بل کارگر څخه د کارگر سرقت که څه هم په ظاهر کې او له مادي پلوه په کارفرما پورې اړه نه لري، خو په دې کې شک نشته چې د همکارانو ترمنځ د کاري باور د فضا په له منځه تللو او د کارگر د امانت ساتنې په اړتیاوؤ باندې اغېزه لري او د هغه زیان په یو ډول کارفرما ته رسېږي. نو د کاگر له خوا د هغه له کاري چاپېریال څخه سرقت که وغواړې یا ونه غواړې، کارفرما ته د مادي یا معنوي زیان رسېدلو لامل گرځي او لکه څرنگه چې د اسلامي هېوادونو په ځینو قوانینو کې لیدل کېږي، د کارگر له خوا په کاري چاپېریال کې د سرقت ارتکاب مطلقاً باید د مشدده حالاتو له ډلې وپېژندل شي.[2]

---

[1] حسنی، نجیب، شرح قانون العقوبات، القسم الخاص ۸۹٦.

[2] د متحده عربي اماراتو د ۱۹۸۷ زېږدیز کال د (۳) گڼې جزا قانون ۳۸۸مه ماده هم ورته حکم لري او په مطلق ډول په کاري چاپېریال کې د سرقت رامنځته کېدنه یې د سرقت د مشدده حالاتو له جملې څخه گڼلې دی.

ـ د کارگر عمل په هغه صورت کې سرقت گڼل کېږي چې مال هغه ته په امانت سپارل شوی نه وي، پرته له دې چې د هغه عمل په امانت کې د خیانت جرمي ځانگړنه لري.

## درېیم مطلب: د سرقت د جرم د مشدده احوالو د اجتماع جزا

د جزا کود په ۷۰۴مه ماده کې د درج شوي مشدده احوالو اجتماع هغه وخت رامنځته کېږي چې د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې د درج شوو شپږو مشدده حالاتو څخه د هغه څلور حالات په یو وخت صورت ونیسي، چې دغه څلور حالات عبارت دي له:

د سرقت د جرم ارتکاب:

۱. د دوؤ تنو یا له هغو څخه د زیاتو پواسطه؛

۲. د لمر پرېوتلو او راختلو ترمنځ؛

۳. په ښکاره ډول د وسلې په حمل کولو یا له دوی څخه د یوه په واسطه د هغې پټول؛ او

٤. په مسکوني ځای یا هغه ځای کې چې استوگنې لپاره چمتو شوی وي.

له دې کبله، د پورته څلور گونو حالاتو څخه د یوه له منځه وړل، د مشدده احوالو د اجتماع د نفې موجب گرځي؛ یعنې که چېرې سرقت د پورته حالاتو څخه د درې حالاتو په اجتماع سره ارتکاب وموميٍ، د جزا کود د ۷۰۴مې مادې په حکم کې نه شاملېږي، بلکه د جزا کود د ۷۰۲مې مادې حکم پرې تطبیقېږي.

همدارنگه د جزا کود له پنځم او شپږم حالتونو سرهد پورته څلور گونو حالاتو څخه د درې حالاتو اجتماع هم د جزا کود د ۷۰۴مې مادې په حکم کې نه شاملېږي، بلکه د ۷۰۲مې مادې حکم پرې تطبیقېږي.

د جزا کود د ۷۰۴مې مادې ستونزې:

۱. مسکوني ځای یا هغه ځای ته چې د استوگنې لپاره چمتو شوی وي، د ننوتلو طریقه، لکه څرنگه چې د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې مشخصه شوې ده، د جزا کود په ۷۰۴مه ماده کې نه ده

مشخص شوې. له دې کبله، مسکوني ځای یا هغه ځای ته چې د استوګنې لپاره چمتو شوی وي، په داخلېدو سره سرقت په هر ډول چې وي؛ (که په دیوال باندې د ختلو یا د دیوال سوري کولو یا د دروازې یا پنجرې د ماتولو په وسیله یا د جوړې شوو کِلیو په استفادې سره وي یا په بل ډول) د څلور ګوني حالاتو د اجتماع په صورت کې د جزا کود د ۷۰۴مې مادې په حکم کې شاملېږي.

۲. د جزا کود په ۷۰۰مه او ۷۰۲مه مادو کې لیدل کېږي چې د مسکوني ځای یا هغه ځای چې استوګنې ته چمتو شوی وي، سربېره د هغه ملحقات هم د هغوی په حکم کې دي، خو د جزا کود په ۷۰۴مه ماده کې د ملحقاتو نومونه نه دي اخیستل شوي. د "ملحقات" کلمې لرې کول د قانون دوه ګونی چلند منعکسوي.

۳. د جزا کود په ۷۰۲مه ماده کې، یوازې د "وسلې په حمل" سره تصریح شوی دی، خو په ۷۰۴مه ماده کې د ښکاره او پټ قید هم هغه ته ور اضافه شوی دی او دا ایجابوي چې قانون جوړوونکي په دواړو مادو کې باید واحد تعبییر او انشاء رعایت کړي وای.

### پنځمه وینا: د مسروقه مال یا د هغه د بیې رد

د مسروقه مال یا د هغه د مثل یا بیې د رد (د جزا کود ۷۱۰مه ماده) په اړه د طرحې وړ پوښتنه حق العبد پورې اړه لري یا که جلا جزا ده چې د پېشبیني شوو جزاګانو سربېره پر سارق تطبیقېږي؟

دې پوښتنې ته ځواب له دوؤ حالتونو څخه خالي نه دی او د دې دواړو مرتبه اثر ښایي توپیر ولري.

لومړی ځواب: که چېرې وویل شي چې د مسروقه مال یا د هغه د مثل یا بیې رد په حق العبد پورې اړه لري، نو د هغه مرتبه اثر به دا وي چې سارق کله چې د مسروقه مال یا د هغه د مثل یا بیې په رد محکومېږي، چې زیانمن (مسروق منه) د خپل حق العبد غوښتنه کړې وي، خو په هغه صورت کې چې زیانمن له خپل حق العبد څخه انصراف کړی وي، یا زیانمن مجهول وي، سارق د مسروقه مال یا د هغه د مثل یا بیې په رد نه محکومېږي.

دویم ځواب: که چېرې وویل شي چې د مسروقه مال یا د هغه د مثل یا بیې رد جلا جزا ده چې د پېشبیني شوو جزاګانو سربېره پر سارق تطبیقېږي، د هغه مرتبه اثر به دا وي چې سارق په هر صورت سره د مسروقه مال یا د هغه د مثل یا بیې په رد محکومېږي، که زیانمن (مسروق منه) د خپل حق العبدی غوښتنه کړې وي یا یې ترې انصراف کړی وي، حتی که چېرې زیانمن مجهول هم وي. په دې صورت کې مسروقه مال د دولت په خزانې پورې اړه لري.

نوټ: سارق هغه وخت د مسروقه مال په رد محکومېږي چې نوموړی ورته مال له هغه سره موجود وي، خو که چېرې سارق په مسروقه مال کې تصرف کړی وي (پلورل، مصرفول، تلفول، بخښل او داسې نور)، نو په دې صورت کې لیدل کېږي چې که چېرې مسروقه مال د مثلي مالونو له ډلې وي، سارق د هغه د مثل په رد محکومېږي او که چېرې د مثل شیانو له ډلې نه وي، د هغه د بیې په رد – د نن ورځې په نرخ – محکومېږي.

**انتقادي فکر یا نیوکه**

که چېرې سارق د نن ورځې په نرخ د مسروقه مال د بیې په رد محکوم شي، د کومې ورځې نرخ د باور وړ دی؟

الف: د سرقت د ورځې نرخ. ب: د حکم د صدور د ورځې نرخ. ج: د تسلیمۍ د ورځې نرخ

دویمه ملاحظه دا چې که چېرې مسروق منه ووایي چې مسروقه مال ۲۰۰۰۰۰ بیه درلوده او سارق ووایي چې د هغه قیمت ۱۰۰۰۰۰ وؤ، په داسې حال کې چې له سارق او مسروق منه پرته بل شخص هغه مال نه دی لیدلی، نو د کوم یوه خبره د باور وړ ده؟

## د لومړي څپرکي پایلیزه:

د جزا کود د ٦٩٩مې تر ٧١٠مې مادو چې د سرقت احکام یې تنظیم کړي دي، له تحلیل او تجزیې وروسته لاندې پایلو ته ورسېدو:

١. د جزا کود له ٦٩٩مې تر ٧١٠مې مادو تعزیري سرقت تنظیم کړی دی، هغه سرقت چې د شرعي حد مستوجب ګرځي، په نوموړو مادو کې نه شاملېږي.

٢. د جزا کود له نظره سرقت عبارت دی له " د غیر منقول مال، د هغه له رضایت پرته د تملک په مقصد اخیستل) د "په پټه توګه اخیستلو" کلمه د سرقت په تعریف کې تصریح شوې نه ده، په داسې حال کې چې د ١٣۵۵ کال په جزا قانون کې تصریح شوې ده. د هغه نه تصریح کول په دې معنی دي چې د غیر مال د هغه له رضایت پرته د تملک په مقصد اخیستل، که په پټه توګه وي یا ښکاره، سرقت ګڼل کېږي. په جزا کود کې د سرقت په تعریف کې د "په پټه توګه" کلمې د نه تصریح کولو له امله ستونزې دا دي چې له غصب سره د سرقت جرمي ځانګړنه تداخل پیدا کوي، ځکه چې د جزا کود د ٧١١مې مادې صراحت ته په کتو، له عنف څخه په استفادې په ښرګنده توګه د غیر مال اخیستل غصب دی.

٣. په جزا کود کې د "اخیستلو" عنصر هغه وخت د سرقت رامنځته کېدو لپاره بسنه کولای شي چې په حیازت او د نورو په ملکیت د تېري لامل ګرځېدلی وي او په عملي ډول مسروقه مال د هغه د مالک له ملکیت او حیازت سره دباندې شي. له مال څخه مراد که عین او یا حق دی چې له خلکو سره مادي قیمت ولري، خو لیدل کېږي چې د مال او د هغه د اوصافو لکه منقول اوسېدل او متقوم اوسېدلو په اړه د جزا کود او مدني قانون له نظره توپیرونه وجود لري. له همدې امله، سرقت د هغو مالونو له ډلې چې په قانوني ډول د هغه حیازت جائز نه وي، سرقت ګڼل شوی دی. له بله پلوه، مادي اوسېدل او د مسروقه مال محسوس کېدل د هغه د رامنځته کېدو شرط دی. له دې کبله، په معنوي حقوقو تېری، له سرقت پرته بله جرمي ځانګړنه ځانته ښایي غوره کړي. د مباح مال او هغو مالونو اخیستل چې مالک یې د هغه له ملکیت څخه تنازل کړی وي،

سرقت نه دی. د لقطه مال او مشاع مال اخیستلو او هغه ته د سرقت جرمي ځانګړنې ورکولو په اړه د حقوقپوهانو ترمنځ د نظرونو اختلاف شتون لري.

٤. د "نا رضایت" عنصر د سرقت په تکوین کې اغېز لرونکی دی، که څه هم د مال مالک د سرقت په اړه خبر ولري، یا د هغه د مخنیوي لپاره یې کوم اقدام نه وي کړی. البته که چېرې ځیني وخت مالک مال په خپل رضایت سره چا ته تسلیم کړي او دا مال د نوموړي شخص د بشپړ یا نیمګړي حیازت لاندې راشي، وروسته هغه نوموړي ته بېرته د مال ورکولو څخه ډډه وکړي، نو د هغه دا عمل سرقت نه ګڼل کېږي، که څه هم د تملک نیت یې هم درلوده.

٥. سرقت د عمدي او پایلې پورې تړلي جرمونو له ډلې څخه دی. مجني علیه ته د زیان اړول او د سارق غني کېدل، د سرقت د آثارو له ډلې دي، نه د هغه د رامنځته کېدو له شرطونو څخه.

٦. د "تملک قصد" عنصر د سرقت د جرم معنوي عنصر دی او په دوه ډولونو (عام او ځانګړي) وېشل کېږي. په عام قصد کې د مرتکب علم او اراده شامل دي؛ یعنې د غیر د ملکیت په اړه پوهېدل، د نورو د حیازت په اړه پوهېدل او د مالک د نا رضایتی په اړه پوهېدل. مرتکب سره د ارادې شتون او د سرقت له فعل سره د هغه یوځای رامنځته کېدل د ارادې د شرطونو له ډلې څخه ګڼل کېږي. د سرقت په جرم کې له ځانګړي قصد څخه مراد دا دی چې سارق وغواړي خپل ځان د اصلي مالک پر ځای د مسروقه مال متصرف او مالک وګڼي.

٧. د سرقت جرم د شدت او خفت له پلوه په جنایت او جنحه وېشل شوی او په نورو حالتونو کې ښایي د " قباحت" ځانګړنه ځانته غوره کړي.

٨. د سرقت جرم له احوالو سره سم په عادي حالاتو، مشدده حالاتو او د مشدده احوالو په اجتماع وېشل شوی دی. د جزا کود په ٧٠٤مه ماده کې درج شوې د مشدده احوالو اجتماع د جزا کود په ٧٠٢مه ماده کې د درج شوو څلورو مشدده حالاتو په اجتماع سره رامنځته کېږي. د نوموړي حالاتو څخه د یوه نفي کول د مشدده حالاتو د اجتماع د نفي سبب ګرځي. همدارنګه د جزا کود په ٧٠٢مه ماده کې له درج شوو پنځم او شپږم حالاتو سره د درې حالاتو اجتماع د مشدده احوالو اجتماع نه تشکیلوي.

۹. د جزا کود په ۷۰۳مه ماده کې د درج شوي سرقت جزا په ۷۰۲مه ماده کې د درج شوو مشدده حالاتو له اجزا څخه ډېره شدیده ده، خو هغه ته د مشدده حالت ځانګړنه نه ده ورکړل شوې.

۱۰. سارق د سرقت جرم لپاره د ټاکل شوي مجازاتو سربېره د مسروقه مال، د هغه د مثل یا د ورځې نرخ سره د هغه د بیې په رد هم محکومېږي (۷۱۰مه ماده). خو د "ورځې د نرخ " په اړه وضاحت نه دی ورکړل شوی چې آیا له دې څخه موخه د سرقت د ارتکاب د ورځې نرخ دی یا که د حکم د صادرېدو د ورځې نرخ؟

# دویم څپرکی

# د منقول مالونو د غصب جرم

**موخې:**

د روزنیزې ناستې په پایله کې به ګډونوال په دې وتوانېږي چې:

- د منقول مالونو د غصب جرم اړوند د جزا کود مادې تحلیل او تجزیه کړي؛
- د منقول مالونو د غصب جرم تعریف او د هغه تشکیلوونکي عناصر په سمه توګه تشخیص کړي؛
- د منقول مالونو د غصب اړوند جزایي قضیو ته د جزا کود په رڼا کې سمه جرمي ځانګړنه ورکړي؛
- د منقول مالونو د غصب د جرم مرتکبین د جزا کود له احکامو سره سم په عادلانه ډول مجازات کړي؛
- د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې درج شوي عمل ته سمه جرمي ځانګړنه ورکړي؛

**عنوانونه:**

- د منقول مالونو د غصب تعریف
- د منقول مالونو د غصب جرم تشکیلوونکي عناصر
    - د منقول مالونو د غصب جرم مادي عنصر.
    - معنوي عنصر
- د منقول مالونو د غصب جرم او سرقت جرم ترمنځ توپیر
- د غصب جرم او د تهدید جرم ترمنځ توپیر
- د منقول مالونو د غصب جرم جزا
- په جبري ډول د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې د نښې اخیستلو جرم
- د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې د درج شوي عمل جرمي ځانګړنه او هغه پورې تړلي مسایل

# دویم څپرکی

## د منقول مالونو د غصب جرم منقول

**سریزه:**

هغه مال او دارايي چې نن ورځ په ژوند کې خورا عمده او اهمیت لرونکی رول لري، د هیڅ کس له لیده پټ نه دی. سربېره پر دې چې په تېرو دورو کې د ټولو خلکو ترمنځ د ژوند یو اساسي جزء شمېرل کېده. د حقوقو په ټولو نظامونو کې نن ورځ هم له ځانګړي ارزښت او ځای څخه برخمن دی. ځکه چې مال او ثروت د ژوند لازمه عنصر دی او د ځمکې آبادي او په بېلابېلو عرصو کې د پام وړ بشري پرمختګونه په یو ډول په مال او شتمنۍ پورې تړلي دي. له همدې ځایه ده چې قانون هغه تر خپل ملاتړ لاندې نیولی دی او پر مال هر ډول تېری، چې له ډلې یې "د هغه غصب" که عمومي یا خصوصي وي، جرم ګڼل کېږي او د هغه مرتکب ته شدید مجازات پیشبیني شوي دي، ځکه چې پر مال تجاوز د مال څښتن زیانمنوي او قانون دنده لري څو له زیانمنو څخه ملاتړ وکړي.

که څه هم، له بېلابېلو نظرونو مالونه په بېلابېلو ډولونو وېشل کېږي، خو د نوعیت له پلوه، مال په منقول او غیر منقول وېشل شوی او په ښکاره او بالقوه ډول پر هغو تجاوز د مالونو غصب شمېرل کېږي. دا روزنیزه رساله د غصب د جرم د بحث او څېړلو لپاره ځانګړې شوې او دې جرم پورې اړوند مسائل د ۱۳۹٦ کال د جزا کود او د نورو اړوندو قوانینو په رڼا کې تر تحلیل او ارزونې لاندې نیول شوي دي.

د منقول مالونو د غصب اړوند احکام د جزا کود په ۷۱۱مې او ۷۱۲مې مادو کې تنظیم شوي دي. په دې څپرکي کې لومړی د منقول مالونو د غصب تعریف (لومړی مبحث)، بیا د منقول مالونو د غصب جرم تشکیلوونکي عناصر (دویم مبحث) واضح او روښانه کوؤ او ور پسې د منقول مالونو د مجازاتو په اړه به بحث ولرو (درېیم مبحث).

## لومړی مبحث: د منقول مالونو د غصب تعریف

غصب په لغت کې په ظلم سره د يو شي اخيستلو او يا په قهر او غلبې سره د مال اخيستلو په معنی دی او ځيني وخت شخص يوه داسې کار ته اړ اېستل چې د هغه رضايت په کې نه وي، اطلاق کېږي.[1]

ځيني حقوقپوهانو غصب داسې تعريف کړی دی چې: «غصب د مجني عليه له حيازت شخه د جبر او تهديد په کارولو سره د يو شي اېستل او هغه پرته له حق شخه جاني ته د مال په تسليمولو مجبورولو شخه عبارت دی.»[2]

د افغانستان جزا کود[3] ۷۱۱مې مادې غصب نه دی تعريف کړی، خو غاصب دا ډول تعريفوي: «**هغه شخص چې له عنف، اکراه، تهديد يا ارعاب شخه په استفادې سره په ښرگنده توگه پيسې يا د بل منقول مال واخلي، د منقولو مالونو د غصب جرم مرتکب پېژندل کېږي.**»

د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې د درج شوي غاصب د تعريف په رڼا کې کولای شو غصب داسې تعريف کړو: غصب د عنف، اکراه، تهديد يا ارعاب شخه په استفادې سره په ښرگنده توگه پيسې يا د بل منقول مال اخېستلو شخه عبارت دی.

**د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې د درج شوي غاصب د تعريف د اجزاوو تشريح:**

هغه عناصر چې د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې د غاصب په درج شوي تعريف کې د بحث وړ دي، عبارت دي له: ۱- مغصوبه مال، ۲- د مغصوبه مال د اخيستلو طريقه، ۳- د غاصب له لورې کارول شوې طريقې، او ۴- مغصوب منه (زيانمن).

---

[1] ـ ابن منظور، جمال الدين، محمد، لسان العرب ، ص ٦٤٨/١، (مادة غصب) دار صادر، بيروت.

[2] ـ ماهر شاوش، شرح قانون العقوبات، ص ۳۰۳ PDF.

[3] - د جزا کود، په ٢٥/٢/١٣٩٦ نېټه په ١٢٦٠ گڼه رسمي جريده کې خپور شوی.

د دې عناصرو تشریح په لاندې ډول ده:

١- مغصوب: مغصوب هغه شی دی چې غصب شوی وي. د جزا کود ٧١١مې مادې مغصوب په دوؤ شیانو پورې منحصر کړی دی چې له پیسو او منقول مال څخه عبارت دي. مغصوب په دوؤ شیانو پورې منحصرول په دې معنی دي چې له پیسو او منقول مال پرته بل څه د جزا کود په ٧١١مه ماده کې د درج شوي غصب موضوع نه شي کېدلای. د پیسو مفهوم واضح او روښانه دی. دا چې مال څه دی او هغه شیان چې مالي حقوق پرې مرتب کېږي او مال حکم ځانته اخلي، کوم دي؟ هغه د منقول مال د غصب جرم د مادي عنصر د اجزاوؤ تر عنوان لاندې واضح کوؤ.

٢- د مغصوبه مال د اخیستلو طریقه: پیسې یا مال باید په ښکاره توګه د غاصب له لورې اخیستل شوي وي. د پیسو یا مال په پټه توګه یا حیله آمیزه توګه اخیستل غصب نه ګڼل کېږي.

٣- د غاصب له لورې کارول شوې طریقې: د جزا کود په ٧١١مه ماده کې څلور طریقې ذکر شوي دي چې له عنف، تهدید، اکراه او ارعاب څخه عبارت دي. د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې آیا دا اصطلاحات د یو بل مترادف دي یا هر یو یې جلا حالت دی؟ دې پوښتنې ته له ځواب ورکولو څخه وړاندې لومړی باید د نوموړو اصطلاحاتو څخه د هر یو مفهوم بیان کړو او بیا به پوښتنې ته ځواب ورکړو.

**الف) عنف:** عنف په لغت کې د "سختی، تندی، غلبې او زور" په معنی دی. په جزایي حقوقو کې د عنف مفهوم د حقوقپوهانو د بحث لپاره لږ ځای وؤ. د افغانستان په جزا کود کې د عنف د روښانه تعریف نشتون له یوه پلوه او د تهدید، اکراه او ارعاب په څیر د مفاهیمو شتون له بله پلوه په ځانګړې ډول د عنف په مفهوم کې ابهامات رامنځته کړي دي. دومره ویلای شو چې عنف هغه وضعیت دی چې په هغه کې د مجني علیه اراده سلبېږي یا د هغه اراده نا خپلواکه یا نا آګاهانه وي. له دې کبله، د ارادې نشتون یا د مجني علیه د رضایت نشتون، د عنف اساسي عنصر دی.[1]

---

[1] - رک: http://hoquq.iict.ac.ir/article_٣١١٨٥.html

که څه هم د مجني عليه له لورې د مادي غبرګون اظهار، د هغه په واسطه تدافه او تمانع (مقاومت) شرط نه دی، خو مجني عليه بايد د کراهيت د څرګندولو وړتيا ولري.[١]

**ب) تهديد:** تهديد عبارت دی له د مقابل لورې وېرول په هر هغه څه چې هغه ته د خوښې وړ نه وي[٢]. تهديد هغه عمل دی چې د مجني عليه د ارادې آزادي سلبوي، پرته له دې چې د هغه سلامتي يا جسمي مصونيت اغيزمن کړي.

تهديد چې د معنوي اکراه شکل هم ځانته غوره کوي، بنايي له هغه څخه يې موخه د مجني عليه يا د بل شخص لکه د هغه خپلوان او ورسره اړيکه لرونکي اشخاصو مال او نفس ته د زيان او شر رسول وي چې د هغه تهديد کولای شي پر مجني عليه اغيزه وغورځوي او د هغه اراده سلب کړي.

د پورته مفاهيمو په رڼا کې د عنف او تهديد ترمنځ توپير دا کېدای شي چې عنف مادي قوه ده چې پر مجني عليه واقع شوې ده، خو تهديد هغه څه دي چې مجني عليه د خپل ځان پر وړاندې د هغه له ترسره کولو وېرېږي. له دې امله، عنف او تهديد دواړه مختلف اصطلاحات دي نه مترادف. که څه هم د جزا کود قانون جوړوونکي دا دوه اصطلاحات د "و" توري په کارولو سره د دوؤ مترادفو اصطلاحاتو په توګه کارولي دي، لکه د جزا کود د ۲۵٦مې مادې (۲) فقره چې وايي "عنف او تهديد"[٣]، خو د منلو وړ نه ده او قانون جوړوونکي بايد د "يا" توری کارولای وای او بايد داسې ويل کېدلای: "عنف يا تهديد".

**ج) اکراه:** اکراه له عنف سره متفاوته معنی لري؛ په اکراه کې شخص په نا خوښي امر وېرول شوی او هغه د همدې تهديد له وېرې داسې کار ترسره کولو ته تن ورکوي چې د هغه خوښ وړ نه دی، د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې آيا په ۷۱۱مه ماده کې له درج شوې اکراه څخه د قانون جوړوونکي

[١] - رک: /https://www.yasa.co/blog/the-concept-violence-in-article-۸۲-the-islamic-penal-code

[٢] - رک: /http://safirsolh.ir/%D۸٪.AC%D۸٪.B۱٪.D۹٪.۸٥-%D۸٪.AA%D۹٪.۸۷٪.D۸٪.AF%DB%۸C%D۸٪.AF

[٣] - د ۲۵٦مې مادې په (۲) فقره کې داسې تصريح شوي دي: «که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم په پايله تمام شي يا له عنف او تهديد سره مل وي، مرتکب تر اوو کلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.

موخه یوازې د مادي زیانونو "جسمي او مالي" د اړولو تهدید دی (مادي اکراه)، یا د همدې مادې په حکم کې شامل د معنوي زیانونو اړولو تهدید دی؟ په دوؤ دلیلونو سره ویلای شو چې دواړه ډوله اکراه، د قانون جوړوونکي موخه ده، لومړی دا چې د جزا کود ۱۱۷مه ماده مکرهَ هغه څوک ګڼي چې د مادي یا معنوي قوې تر اغېز لاندې راشي. دویم دا چې د "اکراه" کلمه د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې په مطلق ډول ذکر شوې ده او مطلق عمومیت لري.

له عنف سره د اکراه توپیر دا دی چې په اکراه کې دوه وضعیتونه متصور دي؛ پر مجني علیه د مادي قوې بالفعل پېښېدل، یا دا چې مادي قوه تر اوسه واقع شوې نه ده، خو مجني علیه د هغه په پېښېدو سره تهدید شوی وي. خو عنف یو وضعیت لري؛ پر مجني علیه د مادي قوې باالفعل پېښېدنه. په دې ځای که چېرې دقت وکړئ، د اکراه او عنف دویم حالت (د مادي قوې بالفعل پېښېدنه) یو شان وضعیت دی او سبب داخلېږي، خو د دې تداخل د رفع کولو او د دوی ترمنځ د توپیر کولو لپاره ویلای شو چې د مادي قوې بالفعل پېښېدنه د اکراه د هغه حالت له امله ده چې مجني علیه لومړی پرې تهدید شوی دی، وروسته بیا مادي قوه پر هغه وارد شوې ده، خو عنف تهدید ته نه مسبوقېږي. د بېلګې په ډول: شخص دوکان ته ننوځي او دوکاندار تهدیدوي چې که د دخل پیسې ور نه کړې نو خوله به یې ور ماته کړي، دوکاندار دې تهدید ته پام ونه کړ او مرتکب په هغې وسیلې سره چې په لاس کې یې درلوده، دوکاندار وواهه او پیسې یې ترې واخیستې. دا وضعیت اکراه دی، خو که چېرې نوموړی شخص پرته له دې چې دوکاندار تهدید کړي، دوکان ته په ننوتلو سره د دوکاندار سر ماتوي او پیسې یې ترې اخلي، نو دا وضعیت عنف دی.

اکراه او تهدید یو ګډ ټکی او یو اختلافي ټکی لري. د دوی ترمنځ ګډ ټکی دا دی چې دواړه وېروونکی عمل دی چې مجني علیه تر اغېز لاندې راولي او هغه د مرتکب غوښتنو ته د تن په ورکولو مجبوروي. د دوی ترمنځ توپیري ټکی دا دی چې اکراه کېدلای شي له تهدید څخه زیاته وي او عملي اړخ پیدا کړي؛ یعنې هغه څه چې مجني علیه ور څخه وېرول شوی وي، پر هغه عملي کېږي.

**د) ارعاب:** ارعاب د وېرې خپرولو او وېرولو په معنی دی او د وېرېدلو مفهوم په تهدید او اکراه کې هم موجود دی، خو له تهدید او اکراه سره د ارعاب توپیر دا دی چې ارعاب ښايي د ارعاب کوونکي له کمزورې موضع څخه هم سرچینه واخلي. د بېلګې په ډول: ارعاب کوونکی ارعاب شوي شخص ته وايي چې که چېرې دا خپل موبایل هغه ته ور نه کړي، نو زه به دې پلار ته ووايم چې ته سګرت څکوې.

د "فاحش یا نافاحش" قید پرته د عنف، تهدید، اکراه او ارعاب کلمو اطلاق دا مفهوم وړاندې کوي چې قانون جوړوونکي د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې دې کړنو ته د خطورت ټاکلی حد په نظر کې نه دی نیولی، نو د دغو کړنو اغېزه تر هغه حده کېدلای شي چې د مجني علیه ژوند له خطر سره مخ کړي یا یوازې د جراحت یا اصابت سبب شي او حفیف اثر پرې وغورځوي. له دې کبله، د نوموړو کړنو د حد ټاکلو لپاره معیار هماغه اندازه کېدلای شي چې د مجني علیه د مقاومت له منځه وړلو لپاره اغېزمنه وه، ولې په پای کې باید وویل شي چې د جرمي پېښو څېړنه او د هغوی رامنځته کېدنه د د موضوع د قاضي له صلاحیتونو څخه دي.

همدارنګه د عنف، اکراه، تهدید او ارعاب اصطلاح ګانو اطلاق د دې بیانوونکی دی چې نوموړې کړنې کېدای شي په شفاهي یا تحریري، مستقیم یا نا مستقیم، صریح یا ضمني ډول صورت موندلی وي او حتی د هغه مبهمې طریقه چې مجني علیه یې پر هغه لرې څو له هر ډول پېچلو او نا سنجش شوو احتمالاتو څخه د وېرې احساس وکړي او یا (د هغه امر په ترسره کېدلو سره چې اوس یا په راتلونکي کې تهدید شي) ټول په کې شاملېږي.[1]

**د پام وړ ټکی:**

هغه تحلیل او تفسیر چې د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې درج شوي د عنف، تهدید، اکراه او ارعاب اصطلاحاتو د مفاهیمو او د دوی د اتفاق او اختلاف ټکو په اړه مو پورته ترسره کړ، په دې فرض دی چې د قانون جوړوونکي منظور دا دی چې له نوموړو اصطلاحاتو څخه هره یوه یې جلا

[1] الدهر، ماهر، عبد شویش، شرح قانون العقوبات، ص

وضعیتونه لري او که چېرې شخص له دې وضعیتونو څخه د هر یو په کارولو سره د بل پیسې یا منقول مال په څرګنده توګه واخلي، غاصب پېژندل کېږي.

**پوښتنه:** د نومړو اصطلاحاتو په اړه ستاسو نظر څه دی، آیا له تحلیل سره موافق یاست یا که بل تحلیل لرئ؟

## دویم مبحث: د منقول مالونو د غصب جرم تشکیلوونکي عناصر

په ټوله کې د غصب د جرم په شمول جرمونه درې عناصر (قانوني، مادي او معنوي) لري. قانوني عنصر یې د قانون په واسطه یو عمل جرم شمېرل دي. د جزا کود ۷۱۱مه ماده، د منقول مالونو د غصب جرم قانوني عنصر تشکیلوي او د منقول مالونو د غصب جرم مادي او معنوي عناصر زیات وضاحت ته اړتیا لري او په لاندې ډول بیانېږي.

### لومړی وینا: د منقول مالونو د غصب جرم مادي عنصر

د نورو جرمونو په څیر، ویلای شو چې د جرم مادي عنصر هم له فعل، پایلې او د سببیت اړیکې څخه متشکل دی او دا عناصر په لاندې ډول تشریح کېږي.

### لومړی مطلب: فعل

له فعل څخه منظور، هماغه جرمي کړنه ده چې د عمل په اجراء او عمل له اجراء څخه ډډه کولو کې شامل دي. د منقول مالونو د غصب جرم په ارتکاب کې جرمي کړنه په څرګنده توګه د غیر د مال اخیستلو څخه عبارت ده، خو په دې شرط چې د لاندې طریقو څخه د یوې په استفادې سره یې صورت موندلی وي: عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب. د غصب جرم په ارتکاب کې شرط نه ده چې مرتکب دې ځانګړې ځانګړتیاوې ولري بلکه امکان لري چې د هر شخص له خوا ترسره شي. خو د منقول مالونو د غصب د جرم موضوع د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې دوو شیانو (پیسې یا منقول مال) پورې منحصره شوې ده، یعنې دا چې نور شیان د منقول مالونو د غصب جرم موضوع

نه ګرځي. د بېلګې په ډول: که چېرې شخص د عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب څخه په استفادې د بل لور په نکاح کړي یا په جبري ډول مجني علیه له یو معنوي امتیاز څخه محروم کړي او دغه امتیاز یې ځانته واخلي او یا د هغه د مرور، مجری یا مسیل حق سلب کړي، دا ډول کړنې غصب نه ګڼل کېږي، بلکه بله جرمي ځانګړنه یا ځانګړنې ځانته غوره کوي.

د (پیسو او مال) په اړه باید وویل شي چې: پیسې له بانک نوټ څخه عبارت دي. د پیسو کلمې اطلاق د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې او افغانیو ته د هغه نا تقیید په دې معنی دی چې هر ډول پیسې که افغانۍ یا نا افغانۍ (ډالر، کلدار، یورو، تومان او داسې نور) وي، د منقول مالونو د غصب جرم موضوع نه شي کېدلای.

همدارنګه په جزا کود کې مال نه دی تعریف شوی، خو مدني قانون په خپله ۴۷۲مه ماده کې مال داسې تعریف کړی دی چې: «**مال، عبارت د عین یا د هغه حق څخه دی چې د خلکو په نزد مادي قیمت ولري.**» له دې څخه پوهېدل کېږي چې مال دوه عناصر لري: ۱- مادي قیمت لرونکی عین، او ۲- مادي قیمت لرونکی حق[1]، چې تفصیل یې د سرقت په څپرکي کې بیان او ټول هغه موارد چې د مال په اړه – د سرقت جرم په څپرکي کې – بیان شوي دي، د منقول مالونو د غصب جرم ته هم صدق کوي، لکه:

- د مال تعریف.
- هغه شیان چې مالي حقوق پر هغو مرتب کېږي.
- د مال ځانګړتیاوې، لکه مادي اوسیدل او د غیر ملکیت اوسېدل.
- د مال د مادي ارزښت اندازه.
- هغه مال چې د هغه څښتن مشخص نه دی.
- هغه مال چې د اخېستونکي او بل شخص تر منځ مشترک دی.
- متنازع فیه مال.

[1] د هغه جزئیاتو ته کولای شئ چې د سرقت د څپرکي، د څلورم مبحث، دویمې وینا په درېیم مطلب کې مراجعه وکړئ.

- هغه مال چې په خپله د اخېستونکي ملکيت دی خو بل شخص سره يې د امانت، عاريت يا رهن په توګه ايښی دی.

د پورته معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره په دې روزنيزه رساله کې د لومړي څپرکي، څلورم مبحث، دويمې وينا، درېيم مطلب ته مراجعه وکړئ.

**(۲۲) دوه ويشتم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

که چېرې شخص د هغه مال ترلاسه کولو لپاره چې په خپله يې مستحق وي، د عنف، اکراه، تهديد يا ارعاب څخه په استفادې حايز شخص د هغه تسليمۍ ته مجبور کړي، لکه د پور ورکړې په واسطه د پور د تسليمۍ لپاره د پور وړې مجبورول، يا د متضرر په واسطه د خسارې د جبران ادا کولو ته د جاني مجبورول، او يا د دوی په څير بېلګې. د دغه ډول اعمالو جرمي ځانګړنه څه ده؟

**د (۲۲) دوه ويشتم فعاليت احتمالي ځواب**

له حايز شخص څخه د عنف، اکراه، تهديد يا ارعاب څخه په استفادې د خپل مال ترلاسه کول غصب نه دی.

اړوند مسايل:

- په پورته بېلګه کې که چېرې شخص د عنف، اکراه، تتهديد يا ارعاب څخه په ګټنې له خپل استحقاق څخه زيات شيان ترلاسه کوي، په زياته برخه کې غاصب پېژندل کېږي.

- که چېرې تهديد د ممنوع تهديد له ډول څخه وي، لکه د جزا کود په **۶۲۳**مه ماده کې درج شوی تهديد، په هغه صورت کې د مال ترلاسه کول غصب نه دی خو د ممنوع تهديد د جرم مرتکب پېژندل کېږي.

- د مشروع تهدید بېلګه دا ده چې دائن یا عاریت ورکوونکی، مدیون یا عاریت ترلاسه کوونکی پولیسو ته په شکایت یا د دعوی په اقامه کولو تهدید کړي.

نجیب حسنی د مصر هېواد مشهور حقوقپوه بل نظر لري؛ هغه وايي: که هدف او هدف ته د رسیدلو وسیله دواړه مشروع وي، لکه د دعوای په اقامه کولو یا په قضایي جبري تنقید سره د مدیون یا عاریت اخیستونکي په تهدیدولو سره د دین یا عاریت مال ترلاسه کول، په دې صورت کې له تهدید سره یو ځای د مال ترلاسه کول غصب نه پېژندل کېږي.

خو که چېرې مشروع هدف او غیر مشروع تهدید وي، لکه د هغه د نفس یا مال یا د بل د مال په وړاندې د جنایت په ارتکاب سره د مدیون یا عاریت اخیستونکي تهدیدول، په دې صورت کې له دا ډول تهدید سره یو ځای د مال ترلاسه کول غصب پېژندل کېږي. همدارنګه د زیان د جبران په ورکړې سره د جاني په غیر مشروع ډول تهدیدول هم غصب پېژندل کېږي. (نجیب محمود حسنی، شرح قانون العقوبات، القسم الخاص، ص ۹۷۹/۲.

د دې دوؤ نظریو په رڼا کې که د افغانستان جزا کود ته دقت وکړۍ نو وبه مومۍ چې په ۷۱۱مه ماده کې مغصوبه مال د «بل منقول مال» له عبارت سره قید شوی دی، مفهوم یې دا دی چې په خپله د شخص مال هیڅکله مغصوبه مال نه شي کېدلای، که د هغه ترلاسه کول له مشروع یا نامشروع تهدید سره یوځای وي، یا له حیلې او یا هرې بلې وسیلې سره یوځای وي. خو د جزا کود په ٦۲۳ ماده کې درج شوی د "تهدید" جرم یو جلا او مستقل جرم دی چې شخص د هغه د شرایطو په رامنځته کېدو سره مؤاخذه کېږي.

تاسو د نجیب حسنی د نظر په اړه څه وایاست؟

باید یادونه یې وشي چې  د عنف، تهدید، اکراه یا ارعاب په څیر وسایلو کارول، د منقول مالونو د غصب جرم رامنځته کېدو لپاره شرط دی، په داسې حال کې چې له دا ډول وسایلو څخه استفاده د غیر منقول مالونو (ځمکه) د غصب په ارتکاب کې شرط نه دی اېښودل شوی.

## دویم مطلب: پایله

د منقول مالونو د غصب جرم له پایله لرونکي جرمونو څخه دی؛ د دې جرم په ارتکاب کې پایله د غیر پر پیسو یا منقول مال د مرتکب له تسلط څخه عبارت دی. که چېرې جرمي کړنه د مرتکب له ارادې دباندې عواملو له امله پایلې ته ونه رسېږي؛ یعنې د غیر پیسې یا منقول مال د هغه د مالکانه تصرفاتو په حدودو کې را نه شي، د هغه عمل د منقول مالونو د غصب په جرم پیل ګڼل کېږي.

خو پوښتنه دا ده چې آیا د غصب جرم له مطلق عمدي یا مقیدو جرمونو څخه دی؟ د جزا کود د ۷۱۳مې مادې د ۲ بند د صراحت په موجب، په هغه صورت کې چې د غصب جرم موضوع سند، مهر، لاسلیک او د ګوتې نښه وي، په هغه کې د پایلې رامنځته کېدل شرط نه دي. له همدې کبله، په دې حالت کې غصب په مطلق عمدي جرمونو کې شاملېږي او یوازې د مجني علیه له حیازت څخه د مرتکب حیازت ته د سند باسل، که له هغه څخه منفعت ترلاسه شي یا نه شي؟ او همدارنګه یوازې په پاڼه باندې د لاسلیک یا مهر اېښودل، که له هغه وروسته نوموړی سند د مجني علیه په حیازت کې پاتې شي او یا د مرتکب حیازت ته انتقال ومومي، جرم رامنځته کېږي[1]. یعنې د عمل د نامشروع والي په اړه د مرتکب د علم احراز د جرم رامنځته کېدنې لپاره بسنه کوي، که څه هم مرتکب د پایلې د حصول غوښتونکی وي یا نه؟ او یا پایله حاصله شي یا نه؟ نو ویلای شو چې په نوموړي حالت کې د مرتکب جزایي مسؤلیت ترلاسه کولو لپاره د ځانګړي قصد درلودل، په لومړیو کې د غصب په جرم کې د پاملرنې وړ نه وؤ. په بل عبارت،د دې جرم په رامنځته کېدنه کې د پایلې رامنځته کېدل شرط نه دي.

خو په هغه صورت کې چې د غصب موضوع مال که پیسې یا نور شیان وي، په دې حالت کې د غصب جرم د سرقت د جرم په څیر او پایلې پورې د مقیدو جرمونو له ډلې څخه دی، لکه څرنګه چې د هغه رامنځته کېدنه دې پورې تړلې ده چې د مرتکب مادي کړنه ځانګړې پایله له ځان سره ولري او لکه څرنګه چې پایله رامنځته نه شي او مرتکب د پام وړ پایلې ته له رسېدلو څخه وړاندې

---

[1] ـ مخکینی مرجع ۹۷۱/۲.

ونیول شي، د نورو شرطونو د شتون په صورت کې د غصب په ارتکاب پیل رامنځته شوی او مرتکب د جرم په ارتکاب پیل حکمونو سره سم د مجازاتو مستوجب گرځي. لکه څرنگه چې د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې دا ډول تصریح شوې ده: "**هغه شخص چې له عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب څخه په استفادې سره په څرگنده توگه پیسې یا د بل منقول مال واخلي د منقولو مالونو د غصب د جرم مرتکب پېژندل کېږي**".

**درېیم مطلب: د سببیت اړیکه:**

د منقول مالونو د غصب جرم له پایله لرونکي جرمونو څخه دی او په پایله لرونکي جرمونو کې د سببیت اړیکې رامنځته کېدل د جرم رامنځته کېدو لپاره شرط دی. د سببیت اړیکه، جرمي کړنې ته له جرمي پایلې سره اړیکه ورکوي؛ په دې معنی چې پایله باید د مرتکب د جرمي کړنې په پایله کې رامنځته شي، نه د بلې کړنې په پایله کې.

**دویمه وینا: معنوي عنصر**

د منقول مالونو د غصب جرم له عمدي جرمونو څخه دی. په دې جرم کې د عام ناوړه قصد شتون د معنوي عنصر رامنځته کېدو لپاره بسنه کوي او د ځانگړي ناوړه قصد شتون اړین نه دی.

له ناوړه عام قصد څخه منظور له مرتکب سره د علم او ارادې شتون دی؛ علم په دې چې مال بل شخص پورې اړه لري او هغه په کې هیڅ حق نه لري. د ارادې شتون په دې معنی دی چې مرتکب له عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب سره یوځای جرمي کړنه (په منقول مال تسلط) له خپلې آزادې ارادې سره ترسره کوي، نه د کومې دباندنۍ اکراه یا جبر تر اغېز لاندې.[1]

[1] نجیب حسنی ۹۷۸/۲.

د منقول مالونو د غصب جرم په ارتکاب کې د ځانګړي ناوړه قصد شتون اړین نه دی؛ یعنې شرط نه ده چې غاصب دې د رواني فشار واردولو یا له سیمې څخه د مجني علیه لېږدولو یا د خلکو په وړاندې د هغه د ځای تضعیف او داسې نورو قصد ولري.

د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې که چېرې شخص د منقول مال د غصب جرم په ځانګړي قصد سره ترسره کړي، آیا د هغه عمل ځانګړی وصف پیدا کوي؟ د بېلګې په ډول: دوه کسان چې په یوه سیمه کې پر یو بل زور آزمایي، که چېرې له دوی څخه یو په دې قصد سره چې خپل مقابل لوری کمزوری کړي، په لاره کې هغه ودروي او د څو ملګرو په مرسته ترې د هغه نقلیه واسطه په زور واخلي.

ځواب دا دی چې د جزا کود د منقول مالونو غصب له ځانګړي قصد سره پېشبیني کړی نه دی، له دې کبله له ځانګړي قصد سره غصب له عام قصد سره د غصب په څېر حکم ولري.

د یادونې وړ ټکی: لکه څرنګه چې د سرقت په بحث کې هم یادونه وشوه، د سرقت په جرم کې د (د تملک په قصد سره) عبارت د "ځانګړي قصد" په توګه ذکر شوی دی، خو د غصب په جرم کې د مغصوبه مال د تملک قصد درلودل او یا نه درلودل په صراحت سره وجود نه لري. له دې کبله، د "تملک قصد" له ذکر پرته د "د بل منقول مال اخیستل" عبارت اطلاق دا مفهوم وړاندې کوي چې د مرتکب عمل یوازې د عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب له لارې د غیر مال تر حیازت لاندې راوستل غصب ګڼل کېږي[1]، که څه هم مرتکب د ناقص حیازت قصد درلود او یا د هغه په واسطه په عارضي ډول په مغصوبه مال تسلط رامنځته شوی وي، لکه دا چې شخص د بل موټر په زور ور څخه اخلي او ترې ګټه پورته کوي، وروسته هغه پرېږدي یا یې بېرته مالک ته سپاري. دا عمل د افغانستان د جزا کود له نظره غصب دی.

د یادونې وړ ده چې: د غصب جرم په ارتکاب کې د «انګېزې» شتون د نورو جرمونو په څېر د جرمي عمل د ماهیت په تغییر کې اغېزه نه لري او د مرتکب د جزایي مسوؤلیت د رفع کېدو باعث

[1] ـ لکه څرنګه چې د غیر منقول مالونو په غصب کې له ځمکو څخه هم مطلق استفاده د غصب په جرم کې هم شامل ګڼل شوی دی.

نه ګرځي؛ لکه مسکینانو سره د مرستې لپاره له شتمنو څخه غصب، خو قاضي کولای شي چې د جزا کود ۴۶مې مادې سره سم او د ۲۰۸مې مادې ته په کتو، د انګېزې شتون د جزا د اقل حد او اکثر حد په ټاکلو کې اغېزمن وګڼي.

## دریمه وینا: د منقول مالونو د غصب جرم او د سرقت جرم ترمنځ توپیر

د مالونو پر وړاندې د جرمونو له دې ډله د منقول مالونو د غصب جرم او د سرقت جرم ترمنځ ډېر ګډ او متفاوت ټکي شتون لري. دا ورته والي او توپیرونه ځیني وختونه باعث ګرځي چې محکمې د جرمي ځانګړنې په ټاکلو کې تېروتنه کوي؛ سرقت ته د غصب ځانګړنه ورکوي یا د هغه برعکس عمل کوي. له دې کبله، اړینه برېښي چې د دې دوؤ جرمونو ترمنځ ګډ او متفاوت ټکي په لاندې ډول روښانه شي:

### لومړی مطلب: د منقول مالونو د غصب جرم او سرقت جرم ترمنځ ګډ ټکي

د منقول مالونو د غصب جرم یا د سرقت جرم په لاندې څلورو ټکو کې سره ګډ دي:

١. د دواړو جرمونو موضوع، منقول مال دی.
٢. په دواړو جرمونو کې د مال د څښتن رضایت وتلی دی.
٣. د مغصوبه یا مسروقه مال د ارزښت اندازه ټاکل شوې نه ده. له دې کبله، مال په لږ ارزښت سره کېدلای شي چې د غصب یا سرقت جرم موضوع و اوسي.
٤. دواړه جرمونه له پایله لرونکي عمدي جرمونو څخه دي.

### دویم مطلب: د منقول مالونو د غصب جرم او د سرقت جرم ترمنځ اختلافي ټکي

د غیر منقول مالونو د غصب جرم په لاندې ټکو کې له سرقت جرم سره اختلاف لري:

١. د سرقت په جرم کې د جرمي فعل ښرګندتوب او پټوالي ته اشاره نه ده شوې، خو د غصب په جرم کې د غصب په تعریف کې د (ښرګند) قید تصریح شوی دی.

۲. د "تملک قصد" د غصب جرم د رامنځته کېدو تشریح نه ده، خو د سرقت جرم د تملک له قصد پرته نه رامنځته کېږي.
۳. د غصب په جرم کې مجني علیه غاصب ته د خپل مال په لېږدولو کې ایجابي رول لري، په دې معنی چې غاصب ته د مال لېږدول د مجني علیه تهدید یا اکراه ته د تن ورکولو په پایله کې صورت نیسي،[1] خو د سرقت په جرم کې تهدید یا اکراه شتون نه لري او سارق ته د مال په لېږدولو کې د مسروق منه رول سلبي دی. خو هغه څه چې د جزا کود په ۷۰۳مه ماده کې د "د وسلې په استعمال سره د اکراه یا تهدید له امله سرقت" تر عنوان لاندې راغلي دي، په هغه مو وړاندې نیوکه وکړه او ومو ویلې چې دا ماده باید د سرقت په مواردو کې شامله نه شي، ځکه چې که چېرې له اکراه او تهدید سره یوځای د غیر مال اخیستلو ته د سرقت نوم ورکړو، نو غصب څه شی دی؟

## څلورمه وینا: د غصب جرم او تهدید جرم ترمنځ توپیر:

د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې درج شوی د غصب جرم او په ۶۲۳مه ماده کې درج شوی د تهدید جرم ګډ او اختلافي ټکي لري چې لومړی د دوی ترمنځ ګډ ټکي او بیا یې اختلافي ټکي لاندې بیانوو.

د غصب جرم او تهدید جرم درې ګډ ټکي لري:

۱. د دواړو جرمونو مادي کړنه له جسمي یا روحي تهدید سره یوځای صورت نیسي.
۲. په دواړو جرمونو کې تهدید هغه حد ته چې د یو شي ترلاسه کول دي، د رسیدلو لپاره د یوې وسیلې په توګه کارول کېږي.
۳. په دواړو جرمونو کې مجني علیه د جاني پر وړاندې تن اېږدي.

[1] ماهر، عبد شویش، قسم خاص، ص ۳۰٤

د غصب جرم او تهدید جرم اختلافي ټکي په لاندې ډول دي:

١. د غصب د جرم موضوع یوازې د مجني علیه په واسطه د پیسو یا منقول مال ورکول دي، خو د تهدید جرم موضوع له هغه څخه لویه ده؛ د یو شي (پیسو، منقول مال یا هر بل شي) ورکول، د یوه عمل اجراء یا د یوه عمل له اجراء څخه ډډه کول.

٢. د غصب په جرم کې تهدید یوازې مجني علیه ته متوجه کېږي، خو د تهدید په جرم کې دریيم شخص هم تر تهدید لاندې راتللای شي.

٣. د غصب په جرم کې د تهدید اندازه ټاکل شوې نه ده. نو له دې کبله دا تهدید کېدلای شي چې کوچنی، منځنی یا لوی وي، خو په تهدید جرم کې د تهدید اندازه باید له جنایت څخه کمه نه وي.

٤. د غصب جرم له پایله لرونکي جرمونو څخه دی، په دې معنی چې که چېرې تهدید صورت ونیسي خو پیسې یا منقول مال ترلاسه نه شي، د مرتکب عمل تام جرم نه دی، بلکه د غصب په جرم پیل دی، خو د تهدید جرم له مطلق جرمونو څخه دی، یعنې که چېرې تهدید د یو شي د غوښتلو یا د یو فعل د اجراء یا له هغه څخه د ډډې کولو په مقصد صورت ونیسي، خو غوښتل شوی شی ترلاسه نه شي یا د فعل اجراء یا له هغه څخه ډډه کول صورت ونه نیسي، د تهدید جرم رامنځته شوی دی.

**(٢٣) درویشتم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنې:**

١- (الف) شخص (ب) شخص د ځان په بیه تهدیدوي او ور څخه غواړي چې هغه ته یو میلیون افغانۍ ورکړي، (ب) شخص د خپل ځان د لاسه ورکولو له وېرې نوموړې اندازه پیسې تهدیدوونکي ته تسلیموي. ستاسو په نظر، تهدیدوونکی له لاندې جرمونو څخه د کوم یو مرتکب شوی دی؟

الف) د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې درج شوی د پیسو د غصب جرم.

ب) د جزا کود په ٦۲۳مه ماده کې درج شوی د تهدید جرم.

۲- په پورته قضیه کې که چېرې غوښتل شوې پیسې تهدیدوونکی ترلاسه نه کړي، د هغه عمل کومه جرمي ځانګړنه لري؟

**د (۲۳) درویشتم فعالیت احتمالي ځواب**

احتمالي ځواب نه دی ورکړل شوی، ځکه چې ګډونوال باید یقیني ځواب پیدا کړي.

## درېیم مبحث: د منقول مالونو د غصب مجازات

که چېرې د غصب ارتکاب ټول اړین شرطونه د مرتکب په اړه برابر کړل شي، نو قانون جوړوونکي د غصب مرتکب د مغصوبه مال د ارزښت له نظره، د مجازاتو وړ ګڼلی دی او لکه څرنګه چې پورته ورته هم اشاره وشوه، د جزا د ټاکلو په اړه قانون جوړوونکي د غصب د ارتکاب څرنګوالي اغېزمن عامل نه دی پېشبیني کړی، نو د منقول مالونو د غصب په جرم کې که د عادي تهدید په پایله کې یې صورت موندلی وي یا د مادي اکراه په پایله کې په ټولو احوالو کې د جزا په ټاکلو کې معیار د مغصوبه مال ارزښت دی.

د جزا کود ۷۱۲مه ماده په دې اړه داسې تصریح کوي:

"د منقولو مالونو د غصب د جرم مرتکب د غصب شوي مال مقدار یا ارزښت ته په پام سره، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې پیسې یا د مال ارزښت تر زرو افغانیو پورې وي، له پنځه زرو څخه تر لسو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا. د یادونې وړ ده چې "زر" افغانۍ د دې مورد اکثر حد دی، د

هغه د اقل حد اندازه له یوې افغانۍ څخه پیل کېږي. له دې کبله، د یوې افغانۍ د غصب جزا کېدلای شي چې له پنځو زرو څخه تر لسو زرو افغانیو پورې وي.

۲- په هغه صورت کې چې د پیسو یا د مال ارزښت له زرو څخه زیات تر لسو زرو افغانیو پورې وي، په قصیر حبس.

۳- په هغه صورت کې چې د پیسو یا د مال ارزښت له لسو زرو څخه زیات تر سلو زرو افغانیو پورې وي، په متوسط حبس.

٤- په هغه صورت کې چې د پیسو یا د مال ارزښت له سلو زرو افغانیو څخه زیات وي، په طویل حبس". په دې اړه لیدل کېږي چې د هغه مال د غصب جزا چې ارزښت یې (١٠٠٬٠٠١) دی برابر دی د هغه مال د غصب له جزا سره چې ارزښت یې (١٠٠٬٠٠٠٬٠٠٠٬٠٠٠) دی، د بېلګې په ډول.

د پورته څلور ګونو مواردو په ارزولو سره دې پایلې ته رسېدلای شو چې قانون جوړوونکي لومړی مورد د قباحت جرم، دویم او درېم یې د جنحې جرم او څلورم مورد یې د جنایت جرم پېژندلی دی.

د منقول مالونو د غصب جزا په ټاکلو کې د قانون جوړوونکي نظر د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون سره په پرتله کې دا دی چې په جزا قانون کې د غصب د مجرمانه عمل د ارتکاب ماهیت پر بنسټ مجازات ټاکل شوي دي. په بل عبارت، د جزا په ټاکلو کې معیار پر مجني علیه د مرتکب د مادي کړنې د اغېزې اندازه او د خطر حجم وؤ، نه د مغصوبه مال ارزښت؛ یعنې که چېرې د تهدید په پایله کې غصب صورت نیولی وای، نو د جزا قانون د ۴۶۵مې مادې له (۱) فقرې سره سم به د هغه مجازات تر اوؤ کلونو طویل حبس وای او که چېرې د عنف یا اکراه په پایله کې غصب صورت موندلی وای، نو د هغه جزا به تر لسو کلونو پورې طویل حبس ټاکل شوی وای. خو په جزا کود

کې د قانون جوړوونکي نظر تغيير کړی او د منقول مال د غصب جزا يې د مغصوبه مال ارزښت ته په کتو ټاکلی دی، پرته له دې چې پر مجني عليه وارد شوی فشار څه وؤ.

**انتقادي فکر يا نيوکه**

د جزا کود د مسروقه مال رد ته د سارق د محکوميت په اړه په ۷۱۰مه ماده کې تصريح کړی دی، خو د غاصب په اړه چپ دی. آيا قاضي کولای شي چې د مغصوبه مال رد د مسروقه مال رد ته قياس کړي او ورته حکم صادر کړي؟

**د انتقادي فکر احتمالي ځواب:**

د جزا کود اتمې مادې سره سم، «د قياس پر بنسټ د جرم تشخيص او د جزا ټاکل جواز نه لري.» په هغه صورت کې چې د حق العبد مدعي شتون ولري او له غاصب څخه د خپل مال د رد غوښتنه وکړي، محکمه د مدني قانون[1] له ۷۶۵مې تر ۷۷۳مې مادو سره سم حکم کوي، خو که چېرې د غصب په جزايي قضيه کې د حق العبد مدعي شتون ونه لري يا د مغصوب منه له لورې د مغصوبه مال د رد غوښتنه صورت نه وي نيولی، ستونزه په خپل ځای کې پاتې کېږي او دا پر جزا کود د نيوکې يو بل مورد دی.

[1] - د مدني قانون له ۷۶۵مې تر ۷۳۳مې مادې: غصبوونکی د هغه څه په بېرته ورکولو مکلف دی چې يې اخيستی دی. که د غصب په اثر، ضرر ورسيد، غصبوونکی د غصب په ځای کښې د عين غصب شوي مال په بېرته ورکولو او د ضرر په تعويض مکلف دی. که غصب شوی مال د غصبوونکي له خوا استهلاک شي، يا ټول يا ځيني يې ورسره هلاک شي يا د هغه د تېري په اثر يا بې د تېري کولو تلف شي، د غصب شوي مال ضامن ګڼل کېږي. که غصب شوی مال د غصبوونکي سره تغيير وکړي نو هغه څوک چې ور څخه مال غصب شوی، اختيار لري چې عين غصب شوی مال د ضرر د تعويض سره اخلي يا د غصبوونکي څخه ضمان غواړي. د غصب شوي مال زوايد د هغې د مالک پورې تعلق لري، په هغه صورت کښې چې زوايد هلاک شي يا د غصبوونکي له خوا استهلاک شي، نو غصبوونکی د هغې په ضمان ورکولو مکلف دی. که غصب شوی مال عقار وي، نو غصبوونکی د هغې په بېرته ورکولو سره د مثلی اجورې سره د هغې خاوند ته مکلف دی. که غصبوونکی په عقار کې بنا آباده کړې وي او يا يې ونې کرلې وي، مالک کولای شي چې ونې او بنا ونړوي او يا که غصب کوونکی موافقه وکړي، د هغې نړول شوی قيمت ورکړي.
د غصب کوونې غصبوونکی د غصبوونکي حکم لري، که يې غصب شوی مال تلف او يا يې په لاس کې هلاک شي، دواړه غصبوونکي د هغه چا په مقابل کښې د تضمين په ورکولو مکلف دی چې مال يې غصب شوی وي. که د غصب کوونکي، غصب کوونکی غصب شوی مال لومړني غاصب ته بېرته ورکړو، نو په خپله بری الذمه کېږي، که يې هغه چا ته ورکړو چې مال يې غصب شوی، نو دواړه غصب کوونکي بری الذمه کېږي.

## څلورم مبحث: د سند، لاسليک، مهر يا د ګوتې د نښې د جبري اخيستلو جرم:

د سند، لاسليک، مهر يا د ګوتې د نښې جبري اخيستلو جرم، يا په بل عبارت؛ د سند، لاسليک، مهر يا د ګوتې نښې د غصب جرم د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې تنظيم شوی دی. لومړی د "سند او لاسليک" اصطلاح ګانې تعريفوؤ، بيا په نوموړې ماده کې د درج شوي جرمي عمل د ځانګړنې په اړه بحث کوؤ.

### لومړۍ وينا: د اصطلاح ګانو تعريف:

د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې د درج شوو اصطلاحاتو له ډلې يوازې دوه يې تعريف ته اړتيا لري؛ يو سند او بل لاسليک.

### لومړی مطلب: د سند تعريف:

سند هغه ليکنه ده چې حق ثابتوي، که په لومړيو کې د حق اثباتولو لپاره برابر شوی وي يا وروسته د استناد وړ وګرځي. د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې د "سند" کلمې اطلاق دا مفهوم افاده کوي چې د رسمي او عرفي سند ترمنځ او حتی "صحيح او باطل"[1] سند ترمنځ وجود نه لري او ټول ډولونه يې يو شان دي. له دې امله د "سند" کلمې سيوری پراخه شوی دی او د هغو اسنادو ټول

که غصب کوونکی، غصب شوی مال معاوضه يا تبرع کړي، او د هغې په نتيجه کې ټول يا يوه برخه مال تلف شي، نو د متصرف اليه سره يوځای ضامن ګڼل کېږي، د چا څخه چې مال غصب شوی، کولای شي چې د هر يو څخه چې يې زړه وي، د مال ضمان وغواړي. کوم شی چې د تصرف په ليرې کولو کښې د غصب سره مساوي وي، د غصب حکم لري.

[1] ـ د افغانستان مدني قانون په ۹۹۱ او ۹۹۵ مادو کې رسمي او عرفي سند تعريف کړی او د هغوی په اړه داسې وايي:

۹۹۱ مه ماده:- رسمي سند يوه پاڼه ده چې عمومي مؤظف يا د عمومي خدمتونو کارکوونکی د قانون د حکمونو په اساس د خپل اختصاصي واک په حدودو کښې کوم شی چې د هغه په حضور کې پای ته رسيدلی يا يې د علاقې لرونکو اشخاصو څخه ترلاسه کوي، په کښې يې درج او ثبت کړي وي.

که ذکر شوې پاڼه د رسمي سند صفت پيدا نه کړي مګر علاقه لرونکي اشخاص هغه امضاء، مهر يا په ګوته نښه کړی وي، د عرفي سند حيثيت لري.

۹۹۵مه ماده:ـ کومه عرفي پاڼه چې د امضاء کوونکي، مهر لګوونکي او ګوتې لګوونکي له خوا صادره شوې وي، اعتبار لري، مګر دا چې شخص د خپلې امضاء، مهر او ګوتې لګولو څخه په صراحت سره منکر شي او يا دا چې خاص قانون بل رنګه حکم کړی وي. د وارث يا خلف په باره کې همدومره کفايت کوي چې د بې خبرۍ قسم وکي.

ډولونه چې ادبي یا اعتباري قیمت لري او یا هره ورقه چې ټاکلی قانوني او یا اجتماعي حالت ثابتوي، د "سند" په کلمه کې شاملېږي، نو که شخص هغه سند په جبر سره واخلي چې د واده او نسب د اقرار متضمن وي او یا په جرم اعتراف په بر کې نیسي، په جبري ډول د سند اخیستلو یا د سند د غصب جرم مرتکب پېژندل کېږي[١]. په دې منځ کې فرق نه کوي چې اخیستل شوی سند د مجني علیه شخص ملکیت وي یا د بل شخص چې هغه یې مجني علیه سره د امانت په توګه اېښی وي.

## دویم مطلب: لاسلیک:

لاسلیک، هر هغه علامه یا ځانګړی دستخط دی چې د هغه څښتن ته پرې نسبت ورکړل شي او د هغه د شخصیت تعریفوونکی وي[٢]، لکه څرنګه چې د هر لیک یا سند په پای کې د هغه په لیدلو سره ثابتېږي چې چې دا لاسلیک هغه پورې اړه لري او نوموړی سند د هغه له لورې صادر شوی دی، یا هغه هر هغه څه ته ژمن دی چې په نوموړي سند کې درج شوي دي.

په مدني قانون کې لیدل کېږیچې په ډېری مواردو کې قانون جوړوونکی د لاسلیک، مهر یا د ګوتې نښې ترمنځ توپیر نه کوي او د قانوني اعتبار له پلوه ټول په یوه ردیف کې نیسي.[٣] د جزا کود هم په جبري ډول د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې نښې اخیستلو لپاره یو شان مجازات په نظر کې نیولي دي، ځکه چې د حقوقو او حقوقي پېښو په اثبات کې د هغوی اغېزې یو دي.

## دویمه وینا: د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې د درج شوي عمل جرمي ځانګړنه او هغه پورې اړوند مسایل

---

[١] ـ نجیب حسنی ۹٦۷/۲- ۹٦۸.

[٢] ـ مخکینی مرجع.

[٣] ـ د بېلګې په ډول مراجعه وکړئ: د مدني قانون د ۲۹۱مې مادې (۲) فقرې او ۹۹۱ او ۹۹۵ مادو ته.

د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې د درج شوي عمل جرمي ځانګړنې او هغه پورې اړوندو مسایلو په اړه څو پوښتنې د طرحې وړ دي:

**لومړی:** آیا د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې درج شوی عمل د منقول مالونو غصب دی؟

د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې د منقول مالونو د غصب جرم موضوع پیسې او منقول مالونه تشکیلوي. آیا سند، لاسلیک، مهر او د ګوتې نښه، مال دی چې کولای شي د غصب د جرم موضوع و اوسي؟ د دې احتمالي ځواب دا دی چې که پر هغوی مالي حقوق مرتب شي، لکه مدیون د عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب په استفادې سره دائن د دین د ابرا سند ورکولو ته مجبور کړي، نو دا سند د منقول مالونو د غصب جرم موضوع ګرځي او د مرتکب عمل غصب ګڼل کېږي. خو پوښتنه هغه وخت بې ځوابه پاتې کېږي چې هیڅ مالي حقوق په یو سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې په نښې باندې مرتب نه شي، لکه هغه شخص چې بل د واده او نسب اړوند اقرار پر بنسټ سند ورکولو ته مجبور کړي، یا شخص چې بل شخص د جرم په اعتراف مجبوروي او د هغه د ګوتې نښه واخلي. دا ډول اسناد نه شي کولای چې د غصب جرم موضوع و اوسي او مرتکب غاصب نه شي پېژندل کیدلی، ځکه چې د جزا کود له ۷۱۱مې مادې سره سم پر مال غصب واقع کېږیاو نومورې اسناد مال نه دی او پر دوی مالي حقوق هم نه مرتب کېږي.

**دویمه:** د جزا کود د ۷۱۳مې مادې د (۱) او (۲) فقرو له صراحت څخه داسې پوهېدل کېږي چې د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې نښې اخیستلو مرتکب سره معنوي قصد د خپلې ګټې د ترلاسه کولو او مجني علیه ته د زیان اړولو لپاره دی او په همدې معیار سره یې جزا خفیفه یا شدیده کړې ده. ګټه او زیان کېدلای شي چې مادي یا معنوي وي، په داسې حال کې چې د جزا کود د ۷۱۱مې مادې صراحت ته په کتو یوازې مادي ګټه (پیسې او منقول مال) د غصب جرم موضوع کېدلای شي، نه معنوي ګټه. د لیکواله له نظره، که چېرې په جبري ډول د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې نښې د اخیستلو په پایله کې د مرتکب مادي ګټې ترلاسه شي، د هغه عمل غصب ګڼل کېږي ، له دې پرته، نه ګڼل کېږي. یعنې په جبري ډول د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې نښه اخیستل چې په هغه سره مرتکب ته هیڅ ګټه ترلاسه شوې نه وي یا یوازې معنوي ګټه یې ترلاسه کړې وي، د هغه عمل غصب نه ګڼل کېږي.

**درېيمه:** په هغو مواردو کې چې په جبري ډول د سند، لاسليک، مهر يا د گوتې نښې اخيستل غصب نه پېژندل کېږي، نو د ورته عمل جرمي ځانگړنه څه کېدلای شي؟ د ليکواله له نظره، د دا ډول عمل جرمي ځانگړنه، "په جبري ډول د سند، امضاء، مهر يا د گوتې نښې اخيستل" ده چې جزا يې د جزا کود په ۷۱۳مه ماده کې پېشبيني شوې ده.

**څلورم:** په جبري ډول د سند، لاسليک، مهر يا د گوتې د نښې اخيستلو جرم له مقيدو (پايله لرونکي) جرمونو څخه دی که له مطلق (ناپايله لرونکي) جرمونو څخه؟ ځواب دا دی چې: د جزا کود د ۷۱۴مې مادې د (۲) فقرې له صراحت څخه معلومېږي چې په جبري ډول د سند، لاسليک، مهر يا د گوتې د نښې اخيستلو جرم له مطلق (نا پايله لرونکي) جرمونو څخه دی، ځکه چې که چېرې شخص د گټې ترلاسه کولو په مقصد بل شخص په جبري ډول د سند، لاسليک، مهر يا د گوتې نښې په ورکولو مجبور کړي خو هغه ته هيڅ گټه ونه کړي؛ يعنې هيڅ پايله ترلاسه نه شي، د هغه عمل جرم گڼل کېږياو په متوسط حبس مجازات کېږي. يوازې د پايلې حصول د مجازاتو د شدت (طويل حبس) موجب کېږي. د جزا کود د ۷۱۳مې مادې (۱) فقره.

د جزا کود د ۷۱۳مې مادې په (۲) فقره کې د "مرتکب ته مفاد (گټه) ترلاسه شوې او مجني عليه ته ضرر وارد شوی نه وي" عبارت ښايي افاده حسر نه کړي، ځکه چې په جبري ډول د سند، لاسليک، مهر يا د گوتې د نښې اخيستلو پر بنسټ د گټې حصول يا د ضرر رامنځته کېدل ښايي نور صورتونه هم ولري، لکه دا چې:

۱ ـ مرتکب ته گټه ترلاسه شي او مجني عليه ته ضرر وارد شي. (چې په اغلب حالاتو کې متصور دی).

۲ ـ مرتکب ته گټه ترلاسه شوې او مجني عليه ته ضرر وارد شوی نه وي. (لکه د شاهد په توگه د لاسليک يا د گوتې د نښې غصب، په دا ډول سند کې چې د بل شخص حق يو بل شخص ته ثابتوي).

۳ ـ مجني عليه ته ضرر وارد شوی خو مرتکب ته ګټه ترلاسه شوې نه وي.( لکه له مجني عليه شخه د چک اخيستل او د بانک له لورې جاني ته د هغه د صرف نشتوالی)

٤ – نه مجني عليه ته زيان وارد شوی او نه مرتکب ته ګټه ترلاسه شوې وي. (لکه په هغه سند باندې د مجني عليه لاسليک اخيستل چې جاني ور شخه هېڅ ګټه پورته نه کړای شي)

په دويم، درېيم او څلورم بېلګو کې، که څه هم مجني عليه له رواني پلوه زيانمنېږي، خو له مادي پلوه هغه ته ضرر نه رسېږي، خو بيا هم د جزا کود د ۷۱۳مې مادې د (۲) فقرې له استناد سره ويلای شو چې د جزا کود له نظره په جبري ډول د سند، لاسليک، مهر يا د ګوتې د نښې اخيستلو جرم په دې ټولوحالاتو کې مطلق جرم وؤ اويوازې په جبري ډول ددغو اخيستل دمجازات وړ دي.

**(۲۴) څلرويشتم فعاليت**

**فرضي قضيه:**

پور وړی چې پور ورکوونکي ته يې د پور ورکولو په اړه سند ور کړئ وؤ، هغه يې ور څخه په جبري ډول واخيست او د خپل عمل په اړه د تور له منځه وړلو لپاره داسې استناد کوي چې هغه په جبري ډول د سند اخيستلو په جرم مرتکب شوی نه دی، ځکه چې نوموړی سند د هغه خپل ملکيت دی. په دې اړه ستاسو څه نظر دی؟

**د (۲۴) څلرويشتم فعاليت احتمالي ځواب**

نوموړی مديون په جبري ډول د سند ترلاسه کولو په جرم مرتکب شوی دی او د هغه استدلال باطل دی، ځکه چې د مديونيت مثبت سند چې هغه دائن ته ورکړی دی، د دائن ملکيت ګڼل کېږي او هغه د بل ملکيت په جبري ډول ترلاسه کړی دی. (نجيب محمود حسنی، شرح قانون العقوبات، القسم الخاص، ص **۹٦۸/۲**).

## پنځم بحث: چپاول ګري (نهب)

چپاول ګري د جزا کود په ۷۱۴مه ماده کې درج شوی جرم دی چې قانون جوړوونکي هغه د "نهب" په نوم هم ياد کړی دی. دغه جرم ته کوم مشخص تعريف نه دی وړاندې شوی، بلکه هر

هغه عمل چې په کې د بل کس منقول مال په نا قانونه ډول اخیستل شوی وي او د راهزنۍ، سرقت یا غصب ځانگړنه پرې صدق ونه کړي، چپاول گري گڼل کېږي.

د چپاول گرۍ په اړه څو مهم ټکي د یادونې وړ دي:

لومړی: د چپاول گرۍ د جرم موضوع "پیسې او منقول مال" تشکیلوي، له دې امله غیر منقول مال د چپاول گرۍ د جرم موضوع نه شي کېدلای.

دویم: د چپاول گرۍ جرمي کړنه دقیقاً مشخصه نه ده، له دې امله نه شي کېدلای چې پر هغه د (په ښکاره توگه د مال اخیستل، په پټه توگه د مال اخیستل، له عنف، تهدید یا اکراه یا کوم بل قید سره یوځای اخیستنه) په څېر قیود وضع شي. له دې کبله، د غیر مال اخیستل د چپاول گرۍ په جرم کې په هر ډول صورت نه شي موندلای.

درېیم: د چپاول گرۍ په جرم کې مرتکب سره د تملک قصد شتون د جرم رامنځته کېدو لپاره شرط نه دی گڼل شوی. له دې امله، ښایي په ناقانونه توگه د بل منقول مال اخیستل د استعمال، استفادې، گټې اخیستنې او داسې نورو په څېر له تملک پرته د چپاول گرۍ جرم نه گڼل کېږي.

څلورم: د چپاول گرۍ د جرمي ځانگړنې د تشخیص لپاره څارنوال یا قاضي باید لومړی د مرتکب جرمي کړنه د راهزنۍ، سرقت او غصب جرم په قالب کې واچوي، که نوموړې کړنه له ذکر شوو جرمونو څخه د هیڅ یو جرمي ځانگړنه ځانته غوره نه کړي، په دې صورت کې کولای شي چې فکر وکړي چې آیا دا کړنه د چپاول گرۍ جرم دی او که نه؟

**(۲۵) پنځه ویشتم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

یوه مېرمن د سړک پر غاړه پیاده روانه وه، په موټرسایکل سپور کس د هغې له څنګ څخه تېر شو او د هغه لاسي دسکول یې ترې واخیست او وتښتېد. مېرمنې چغې کړې او له خلکو یې مرسته وغوښته، خو خبره له خبرې تېره شوې وه او هیچا له هغه سره مرسته ونه کړای شوه. په موټرسایکل د نوموړي سپور کس د عمل د جرمي ځانګړنې د تشخیص لپاره اړینې څېړنې ترسره کړئ او بیا وواياست چې هغه په کوم جرم مرتکب شوی دی؟

**د (۲۵) پنځه ویشتم فعالیت احتمالي ځواب**

د لیکوالانو له لورې احتمالي ځواب نه دی وړاندې شوی بلکه ګډونوالو ته حقیقي ځواب ورکړل شوی دی.

**(۲٦) شپږویشتم فعالیت**

**ګروپي کار:**

ګډونوال په ډلو ووېشئ او هر ګروپ دې د چپاول ګرۍ جرم لپاره لږ تر لږه درې فرضي قضیې پیدا کړي.

**د (۲٦) شپږویشتم فعالیت احتمالي ځواب**

احتمالي ځواب نه دی ورکړل شوی بلکه ګډونوالو ته د چپاول ګرۍ جرم په اړه د فرضي قضیو د پیدا کولو دنده ورکړل شوې ده.

## د دويم څپرکي پايليزه:

د دې روزنيزې رسالې په دويم څپرکي کې د درج شوو موضوعاتو (د جزا کود له ٧١١مې تر ٧١٣مې مادې) په اړه له مطالعې، څېړنې، تحليل، تجزيې او بحث وروسته لاندې پايلو ته ورسېدو.

١. د منقول مالونو د غصب جرم د پايله لرونکي عمدي جرمونو څخه دی.

٢. د جزا کود په ٧١١مه ماده درج شوی د منقول مالونو د غصب جرم موضوع دوۀ شيانو پورې تړلې ده: پيسې او منقول مال. له دې کبله، هر هغه شی چې مال نه ګڼل کېږي يا مالي حقوق په هغه نه مرتب کېږي، د منقول مالونو د غصب جرم موضوع نه شي کېدلای.

٣. له عنف، تهديد، اکراه يا ارعاب څخه استفاده او د غاصب د جرمي جړنې څرګندتوب، هغه نښې دي چې غصب له سرقت څخه جلا کوي، ځکه چې سرقت پټ عمل دی او عنف، تهديد، اکراه يا ارعاب په کې نه کارول کېږي.

٤. د منقول مالونو غصب د مادي ګټو ترلاسه کولو په مقصد صورت نيسي، د معنوي ګټو ترلاسه کول غصب نه شي شمېرل کېدلای.

٥. د منقول مالونو د غصب جزا په ټاکلو کې معيار د غصب شوي مال مادي ارزښت دی؛ د جزا مقدار د غصب شوي مال د ارزښت لوړېدلو ته په کتو لوړېږي، او بالآخره په ټاکلي حد کې چې هماغه له سلو زرو افغانيو څخه زيات دی، په طويل حبس ودرېږي.

٦. په جبري ډول د سند، لاسليک، مهر يا د ګوتې د نښې اخيستل هغه وخت غصب ګڼل کېږي چې مالي حقوق پر هغه مرتب شي.

٧. په جبري ډول د سند، لاسليک، مهر يا د ګوتې د نښې اخيستلو جرم له مطلق (نا پايله لرونکي) جرمونو څخه دی؛ د پايلې رامنځته کېدل (د ګټې ترلاسه کېدل) يا د هغه نه رامنځته کېدل، د جرم د تکميل لپاره شرط نه دی بلکه جرم يوازې د مادي فعل په پېښېدلو (په جبري ډول د سند، لاسليک، مهر يا د ګوتې د نښې اخيستل) سره تکميلېږي. يوازې د پايلې رامنځته کېدل د مجازاتو د شدت موجب ګرځي.

# درېیم څپرکی

# د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب جرم

**موخې:**

د روزنیزې ناستې په پای کې به ګډونوال په دې وتوانېږي چې:

- د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب جرم اړوند د جزا کود مادې تحلیل او تجزیه کړي؛
- د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب جرم تعریف او د هغه تشیکلوونکي عناصر په سمه توګه تشخیص کړي؛
- د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب اړوند جزایي قضیو ته د جزا کود په رڼا کې په سمه توګه جرمي ځانګړنه وکړي؛
- د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب جرم مرتکبین د جزا کود له حکمونو سره سم په عادلانه توګه مجازات کړي؛

**عنوانونه:**

- په افغانستان کې د غیر منقول مالونو د غصب جرم انګارۍ تاریخچه.
- د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب جرم تعریف.
- د ځمکې د غصب جر عناصر.
  - مادي عنصر.
  - معنوي عنصر.
- د ځمکې د غصب جرم جزا.
  - د ځمکې د غصب جرم د عادي حالت جزا.
  - د ځمکې د غصب جرم د مشدده حالاتو جزا.
- د غصب په اړه د جزایي حکم د صدور حقوقي آثار.
- د ځمکې په غصب کې د جرم تعدد.
- د غصب په حکم کې جرمونه.

# درېیم څپرکی

# د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب جرم

**سریزه:**

د پام وړ ټکی دا دی چې د جزا کود ۷۱۵مې مادې ته د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب عنوان ورکوي خو د هغې حکمونه د ځمکې په غصب پورې محدود دي او د غیر منقول مالونو د غصب، لکه د دوکان غصب او داسې نورو په اړه یې هیڅ حکم نه دی بیان کړی.

د غصب اصطلاح او په ځانګړي ډول "د ځمکې غصب" معمولاً په مدني حقوقو پورې اړوند یوه اصطلاح ده، فقهاء هم له یوه ځای څخه بل ځای ته د هغه د لېږد د امکان نشتوالي په دلیل یې هغه ته جرمي کتنه نه ده کړې او په مدني حل لارو چارو یې د "غصب" عمل ته ځواب ورکړی دی؛ له همدې امله، د غصب پر وړاندې عکس العمل د "د ضمان د وجوب" تر حده ټاکلی دی. خو د قانون جوړوونکي له نظره، په دې اړه مدني حل لارې چارې ځواب ویونکې نه وې او ښایي په مالونو او مالکیت باندې د دې ډول تېري پراخوالي قانون جوړوونکی مجبور کړی چې په دې اړه ځانګړي حکمونه د جزایي حقوقو (د جزا کود) په بستر کې ځای پر ځای کړي. د همدې لپاره، نه یوازې منقول مالونه بلکه غیر منقول مالونه هم د مهم او ارزښت لرونکي هدف په توګه د قانون جوړوونکي تر ملاتړ لاندې ځای ونیو او د عقاري ملکیتونو او مالونو څخه د قانوني ملاتړ د تأمین په موخه یې د جزا کود په ۷۱۵مې تر ۷۱۹مې مادو کې مشخص حکمونه پیشبیني کړي دي.

## لومړی مبحث: په افغانستان کې د غیر منقول مالونو د جرم انګارۍ تاریخچه:

د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون څخه وړاندې د ځمکې د غصب په اړه کومو ځانګړو جزایي حکمونو شتون نه درلود. د جزا قانون په انفاذ سره دا تېری د هغه په بېلابېلو ډولونو سره د جزا قانون په ۲۷۰مه، ۲۷۹مه او ۴۷۰مه مادو کې جرم وپېژندل شو. وروسته د ۱۳۹۵ کال په ۱۲۴۴ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د جزا قانون د (۴) ضمیمې په تصویب سره په دې ضمیمه کې د غصب حکمونه پېشبیني شول. له هغه وروسته، د غصب جزایي حکمونه د ۱۳۹٦کال په ۱۲۵۴ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم په قانون کې راوړل شول او د هغه پر بنسټ، د جزا قانون په ۴ ګڼه ضمیمه کې درج شوي حکمونه لغوه شول. وروسته د جزا کود په انفاذ سره او د دې قانون د ۹۱٦مې مادې له ۳۱ او ۳۳ اجزاوؤ سره سم په پخوانیو قوانینو کې درج شوي د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب اړوند ټول حکمونه لغوه شول او د جزا کود د دویم فصل په نهم باب کې درج شوي جزایي حکمونه د هغه پر ځای راوستل شول.

## دویم مبحث: د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب جرم تعریف

د فقهې له نظره غصب عبارت دی له: په ښرګنده توګه د غیر ملکیت متقوم منقول مال اخیستل چې ټول یا یوه برخه یې د مالک له تصرف څخه وتلې وي.[1]

د افغانستان جزا کود د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب تعریف نه دی وړاندې کړی. هغه څه چې د دې قانون په ۷۱۵مه ماده کې تصریح شوي دي، د ځمکې د غصب موارد دي، لکه:

- د اعتبار وړ سندونو له درلودلو یا د قانون له حکم پرته د دولتي، عامه، شخصي، مرعي یا وقفي ځمکو تصرف.
- د اعتبار وړ سندونو له درلودلو یا د قانون له حکم پرته د دولتي، عامه، شخصي، مرعي یا وقفي ځمکو تصاحب.

[1] زین العابدین، ابن نجیم، الحنفی، البحرالرائق، شرح کنز الدقایق، ج ۲ ص، ۱۲۳

- په همدې ترتیب، د هغه نور موارد له د اعتبار وړ سندونو له درلودلو یا د قانون له حکم پرته د دولتي، عامه، شخصي، مرعي یا وقفي ځمکو د استفادې، انتقال، رهن، تضمین، اجارې یا کرایې څخه عبارت دي، چې ټولټال اته موارد کېږي.

د پورته مواردو په پام کې نیولو سره د ځمکې غصب داسې تعریفولای شو: د اعتبار وړ سندونو له درلودلو یا د قانون له حکم پرته د دولتي، عامه، شخصي، مرعي یا وقفي ځکمو هر ډول مالکانه تصرف ته د ځکمې غصب ویل کېږي.

په دقت سره د جزا کود د ۷۱۵مې مادې په متن کې لیدل کېږي؛ هغه څه چې په دې ماده کې د ځمکې او غیر منقول مالونو د غصب په اړه ذکر شوي، ښايي د مدني او جزایي غصب د حکمونو ترمنځ التباس رامنځته کړي، ځکه چې د بل په ځمکه کې په نامجاز ډول د مالکانه تصرفاتو ډولونه په مدني قانون کې هم شتون لري. له دې کبله، د غصب تعریف په دې ماده کې له پېشبیني شوو شاخصونو سره تر نیوکې لاندې راشي؛ ځکه چې دا ټول په نظر کې نیول شوو شاخصونو مدني ماهیت درلود او سمه نه دی چې یو مجرمانه عنوان له بشپړو حقوقي مفاهیمو سره چې د هغه پایله یوازې مدني مسوؤلیت دی، تعریف شي. له همدې امله ویلای شو چې د جزا کود په ۷۱۵مه ماده کې د غصب تعریف اساسي عناصر نه لري او نه شي کېدلای چې د ځمکې د غصب ارتکاب د "جرمي" حالت بیانوونکی و اوسي، ځکه نو د جزا کود ۷۱۵مې مادې د ځمکې د غصب تعریف او د هغه موارد د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون[1] د دریمې مادې له ۳۹ جزء څخه ولیکل او هماغه اجزاوې او عناصر لري.

[1] - په ۱۳۹٦/۱/۲٦ کال په ۱۲۵۴ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون.

## درېيم مبحث: د ځمکې د غصب جرم عناصر:

د ځمکې د غصب جرم د نورو عمدي جرمونو په څير قانوني، مادي او معنوي عناصر لري؛ قانوني عنصر يې هماغه قانوني تصريح ده چې يو عمل جرم ګڼي او هغه ته جزا ټاکي. د ځمکې د غصب جرم قانوني عنصر د جزا کود ۷۱۵مې تر ۷۱۹مې مادو پورې تشکيلوي. د ځمکې د غصب جرم مادي عنصر او معنوي عنصر لاندې واضح کوؤ.

### لومړی وينا: د ځمکې د غصب جرم مادي عنصر:

د جرم مادي عنصر د قانون د مخالف عمل له ارتکاب يا د هغه عمل د اجراء له ډډې کولو څخه عبارت دی چې قانون په هغه حکم کړی دی په داسې ډول چې ارتکاب يا ډډه کول په جرمي پايلې تمام شي او د عمل او پايلې ترمنځ د سببيت اړيکه موجوده وي.[1]

د پورته تعريف له نظره، د مادي عنصر اجزاوې له فعل، پايلې او د سببيت اړيکې څخه عبارت دي او په لاندې ډول تشريح کېږي.

### لومړی مطلب: فعل

له فعل څخه منظور هماغه جرمي کړنه ده چې د عمل اجراء يا د عمل له اجراء څخه ډډه کول په کې شامل دي. شخص چې مجرمانه کړنه ترسره کوي د "مرتکب شخصيت" تر عنوان لاندې پرې بحث کېږي. هغه اثر چې په دې جرمي کړنې سره مرتب کېږي، د جرم د "موضوع" تر عنوان لاندې څېړل کېږي. په همدې ترتيب، د جرم د ارتکاب وسيله هم تر بحث لاندې نيول کېږي. د نوموړو موارد و تشريح په لاندې ډول ده.

---

[1] - د جزا کود ۳۳مه ماده.

**الف) جرمي کړنه:** د ځمکې د غصب جرم په ارتکاب کې جرمي کړنه د جزا کود په ۷۱۵مه ماده کې هماغه درج شوې کړنې دي چې له "د اعتبار وړ سندونو له درلودلو یا قانون له حکم پرته د بل چا ځمکه تصرف، تصاحب، استفاده، انتقال،رهن، تضمین، اجاره و کرایه کول" څخه عبارت دی.

د جزا کود د دې کړنو تعریفونه نه دي وړاندې کړي، خو په دې دلیل چې حقوقي منشأ لري، باید د هغوی مدني مفاهیم ولټول شي.

**۱ـ تصرف:** د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون د دریالسمې مادې صراحت ته په کتو، تصرف په پېرلو، پلورلو، هبه، ترکه، تقسیم، تباده او رهن (گرو) په کې شاملېږي. تصرف په قانوني ډول یا په عدواني ډول اعمال کېدلای شي[1]. د جزا کود په ۷۱۵مه ماده کې درج شوی تصرف د هغه له عدواني ډول څخه دی.

**۲ ـ تصاحب:** د تصاحب اصطلاح معمولاً مباح مالونو ته نسبت کېږي، لکه څرنگه چې د مدني قانون[2] ۱۹۸۵مه ماده هم دا کار کړی دی او داسې تصریح کوي: **"که څوک مباح مال تر نورو د مخه ترلاسه کړي، د هغې مالک پېژندل کېږي."** له دې کبله، هغه مال چې څښتن او صاحب ونه لري، تصاحب کېږي، خو هغه مال چې صاحب ولري، تملک کېږي. لیدل کېږي چې د "تصاحب" اصطلاح څخه د جزا کود د ۷۱۵مې مادې منظور تملک دی؛ یعنې خپل ځان د غیر ملکیت صاحب کوي او هغه د خپل ځان گڼي.

**۳ ـ استفاده:** له مال څخه د مشروع یا نا مشروع گټې اخیستلو په معنی ده.

**٤ـ انتقال:** مفهوم یې د بېلابېلو لارو څخه له یو لاس څخه بل لاس ته د مال د ملکیت انتقال دی. د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون د ۳٦ او له ٦۳ تر ٦٦ مادو صراحت ته په کتو، د پلورلو، هبه، تملیک، وصیت یا وقف له لارې د ځمکې انتقال صورت موندلای شي.

---

[1] لنگرودی جعفری، محمد جعفر، ترمینولوژی حقوق

[2] - مدني قانون

**٥ – رهن:** د تصرف له مواردو څخه یو دی. رهن د توثیق له عقدونو – هغه عقدونه چې یو دین ټینګوي – څخه دی[١]. رهن عبارت دی له: د مال حبس او له هغه څخه ساتنه، د هغه مالي حق په مقابل کې چې له مدیون څخه د هغه د استفادې امکان شتون ولري[٢].

**٦ ـ تضمین:** د رهن له آثارو څخه یو دی چې د دین د ټینګولو او تضمین سبب ګرځي او له هغه څخه منظور د هغه مدیون له لورې چې د پور په ورکړه کې یې غفلت کړی دی، د پور د ورکړې ضمانت کول دي.[٣]

**٧ـ اجاره:** عبارت ده له: "**د هغه عین د ګټې د تملیکولو څخه چې په اجاره ورکول کېږي، د عین د ګټو تملیکول د اجارې ورکوونکي په وسیله، اجارې اخیستونکي ته په داسې عوض صورت مومي چې د بدل قابلیت ولري**"[٤]. عضو نغدي یا عیني کیدلای شي.

**٨- کرایه:** بل شخص ته د عین ورکولو په بدل کې د نغدي وجې ترلاسه کول دي. ځینې په دې نظر دي چې د اجارې او کرایې ترمنځ توپیر شتون نه لري.

پورته ذکر شوې مادي کړنې د دوؤ شرطونو په تحقق سره جرمي ګڼل کېږي:

١. د غیر ملکیت په ځکمه تصرف صورت موندلی وي. د غیر ملکیت ځمکې به د (ځمکې د غصب جرم د موضوع) تر عنوان لاندې بیان کړو.
٢. متصرف د اعتبار وړ سندونه یا قانوني جواز په خپل واک کې نه درلوده. د اعتبار وړ سندونه د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون په اتلسمه ماده کې په تفصیل سره بیان شوي دي.

**ب) د مرتکب شخصیت:** د اختلاس، رشوت او له وظیفوي صلاحیت څخه د ناوړې استفادې په څیر په ځینو جرمونو کې د مرتکب شخصیت د جرم د متشلکه مادي عناصرو برخه تشکیلوي او د

---

[١] د مدني قانون ١٦٦٥ ماده

[٢] د الأحکام العدلیه مجلې ٧٠١ مجله

[٣] احمد مختار و دیګران، معجم اللغه العربیه المعاصره ج ١، واژه شماره ٣١٤٤.

[٤] د مدني قانون ١٣٢٢ ماده

جرم په رامنځته کېدو باندې اغېز غورځوي؛ ځکه نو "مرتکبينو ته ځيني موقعيتونه او مناسبتونه د جرم د ارتکاب آسانتيا برابروي"[١]. خو ليدل کېږي چې د غصب په جرم کې د مرتکب شخصيت د قانون جوړوونکي تر ځانگړي پام لاندې نه وه او له همدې امله يې د غصب د ارتکاب موارد يې په مطلق ډول پېشبيني کړي دي چې په پايله کې يې ښايي د غصب جرم د هر شخص پواسطه او د هر ځانگړي وصف له قيد اېښودلو پرته؛ ارتکاب ومومي، نو د باور او عيني موقعيتونو برخلاف – نن ورځ – زموږ ټولنه د عامه خدمتونو مؤظف کېدلو، با نفوده کېدلو، زورور کېدلو يا عادي فرد کېدلو په څير شخصيت او ځانگړنې د جزا کود له نظره د ځمکې د غصب جرم په ارتکاب کې تأثير نه لري، خو ښايي په ځينو حالاتو کې د مجازاتو د شدت موجب وگرځي چې په مشدده حالاتو کې د جزا کود په ٧١٧ مه ماده کې درج شوی د ځمکې غصب به بحث وکړو.

**ج) د جرم موضوع:** د جزا کود په ٧١٥مه ماده کې د درج شوي جرم موضوع ځمکه ده؛ هر ډول ځمکه که دولتي، عامه، شخصي، مرعي او وقفي وي او د ځمکوالۍ د چارو د تنظيم قانون د دريېمې مادې د (١) جزء پر بنسټ په ځمکه کې د ځمکو ټول هغه ډولونه شامل دي چې په دې قانون کې پېشبيني شوي دي[٢].

---

[١] گروه تحقيقى، معاونت آموزش و تحقيقات قوه قضائيه، بررسى جرايم عليه اموال دولت ، ج ٢ ص، ٤٨ چاو پ اول، سال ١٣٨٩، انتشارات جاودانه، ايران.

[٢] لکه څرنگه چې د جزا کود ٧١٥مې مادې په نظر، ځمکه د غصب جرم مادي عنصر تشکيلوي، نو موږ بايد په مختصر ډول د هغه موارد چې په جزا کوډ کې يې يادونه شوې ده، ذکر کړو:

د ځمکوالۍ د چارو د تنظيم قانون له ٣مې مادې سره سم، لاندې ډولونه د ځمکې په تعريف کې شامل گڼل شوي دي:

- کرنيزه ځمکه
- نيمه کرنيزه ځمکه
- صالح الزراعه ځمکه
- غير کرنيزه ځمکه
- بايره ځمکه
- دولتي ځمککه : لاندې ځمکې دولتي پېژندل کېږي:

د یادونې وړ ټکی دا دی چې د کور، دوکان، سرای او داسې نورو په څیر نور غیر منقول مالونه د جزا کود په ۷۱۵مه ماده د درج شوي جرم موضوع نه دي ګرځېدلي، سربېره پردې چې د نوموړې مادې عنوان ته د ځمکې او غیر منقول مالونو نوم ورکړل شوی دی.

د «مطلق، عمومیت لري» قاعدې پر بنسټ؛ د "ځمکې" کلمې اطلاق په نوموړې ماده کې دا معنی لري چې ځمکه د هغه له بېلابېلو ډولونو (کرنیزه، غیر کرنیزه، باغي، آبي، للمي، جبه زار، ډبر زار، نی راز، بکر او بایره او داسې نور) سره د ځمکې د غصب جرم په موضوع کې شامله ده.

د جزا کود په په ۷۱۵مه ماده کې درج شوې ځمکې د ملکیت له پلوه په پنځو ډولونو تقسیم شوې ده چې له دولتي، عامه، شخصي، مرعي او وقفي ځمکو څخه عبارت دي.

دولتي، شخصي او عامه ځمکې په ترتیب سره د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون د درییمې مادې په ۵۳، ۵۴ او ۵۵ جزونو کې او وقفي ځمکې په ۱۵ جزء کې او مرعي (عامه او خاصې) د نوموړي قانون د دریيمې مادې په ٥٦ او ۵۸ جزونو کې تعریف شوې دي.

---

۱- باغي (بڼیزې) او آبي ځمکې چې د دولتي ځمکو د ثبت په اساس دفتر کې ثبت وي او یا د سروی او تصفیې د عملیې په پایله کې د دولتي ځمکې په توګه تثبیت شي.

۲- للمي، بکر او بایره ځمکه، دښتې، غرونه، تپې (غونډۍ)، د غرو لمنې، جبه زار، ځنګل زار، نی زار، چمني، بلند آبه او نورې هغه ځمکې دي چې په دولتي دفترونو ې ثبت وي.

۳- هغه ځمکه او ملکیتونه چې د دې قانون له انفاذ څخه د مخه له څلوېښتو څخه زیات کلونه د دولت په تصرف کې وي.

- شخصي ځمکه: د ځمکې قطعه یا قطعې دي چې له اعتبار وړ سندونو سره سم د حقیقي او حکمي اشخاصو په ملکیت کې وي.

- وقفي ځمکه: هغه ځمکه ده چې په عامو یا خاصو خیریه چارو کې د ګټې اخیستنې لپاره وقف شوې وي.

- مشاع ځمکه: هغه ځمکه ده چې د دوؤ یا له هغو څخه د زیاتو اشخاصو ترمنځ مشاع وي او له هغو څخه هر یو د خپلې برخې په اندازه د مالکانه تصرف حق ولري.

- عامه ځمکه: هغه ځمکه ده چې د دولت او اشخاصو ملکیت نه وي د قانون له حکمونو سره سم ور څخه په ټولیز ډول ګټه اخیستل کېږي او تر انفرادي ګټې اخیستنې لاندې نه وي او د دولت له خوا څارل او تنظیم کېږي.

- مرعي ځمکه: هغه ځمکې دي چې عامه ملکیت دی او د علوفه یي نباتاتو، نی، او طبیعي بوټو د پوښښ لرونکې وي او د قانون له حکمونو سره سم د مواشي د څر لپاره ور څخه ګټه اخیستل کېږي.

**د) د جرم وسیله:** د تهدید، اکراه، عنف، ارعاب او داسې نورو په څیر ځانګړې وسیلې څخه استفاده د ځمکې د غصب جرم په ارتکاب کې شرط نه دي، په داسې حال کې چې د جزا کود په ۷۱۱مه ماده کې درج شوی د منقول مالونو غصب له دغو څخه له یو پرته رامنځته کېدلای نه شي.

## دویم مطلب: پایله

د ځمکې د غصب جرم له پایله لرونکي جرمونو څخه دی؛ د دې جرم په ارتکاب کې پایله د غیر پر ځمکې (دولتي، عامه، شخص، مرعي یا وقفي ځمکې) د مرتکب له تسلط څخه عبارت دی. که جرمي کړنه د مرتکب له ارادې څخه دباندې عواملو په نظر پایلې ته ونه رسېږي؛ یعنې ځمکه د هغه په تصرفاتو کې را نه شي، د هغه عمل د ځمکې د غصب په جرم پیل ګڼل کېږي.

## درېیم مطلب: د سببیت اړیکه

د ځمکې د غصب جرم له پایله لرونکي جرمونو څخه دی او په پایله لرونکي جرمونو کې د سببیت اړیکې رامنځته کېږي، د جرم رامنځته کېدو لپاره شرط دی. د سببیت اړیکه جرمي کړنه له جرمي پایلې سره تړي؛ په دې معنی چې پایله باید د مرتکب د جرمي کړنې په پایله کې، نه د بلې کړنې یا عامل په پایله کې رامنځته شوې وي.

## دویمه وینا: معنوي عنصر

د ځمکې د غصب جرم له عمدي جرمونو څخه دی. په دې جرم کې د عام ناوړه قصد شتون د معنوي عنصر رامنځته کېدو لپاره بسنه کوي، "عام ناوړه قصد د مجرمانه عمل ترسره کولو لپاره د قانون خلاف د فکر کولو څخه عبارت دی"[1]. له عامه ناوړه قصد څخه منظور مرتکب سره د علم او ارادې شتون دی؛ په دې اړه علم او پوهېدل چې ځمکه د بل شخص یا اشخاصو پورې اړه لري او هغه په هغې کې هیڅ حق نه لري. او له مرتکب سره د ارادې شتون په دې معنی دی چې مرتکب جرمي

[1] ګروه تحقیقی، معاونت آموزش و تحقیقات قوه قضائیه، بررسی جرایم علیه اموال دولت، ج ۲ ص ۷۳

کړنه (د بل په ځمکه کې تصرف) په خپلې آزادې ارادې سره ترسره کوي، نه د کومې بهرنۍ قوې تر اغیز لاندې.

له مرتکب سره د ځانګړي ناوړه قصد شتون د ځمکې د غصب جرم په رامنځته کېدلو کې اړین نه دی، ځکه چې قانون جوړوونکي ته مهمه نه ده چې مرتکب په کومې موخې سره د غیر پر ځمکه تصرف کوي.

د یادونې وړ ټکی دا دی چې د جزا کود په ۷۱۵مه ماده کې درج شوی د ځمکې د غصب په جرم کې – لکه د منقول مالونو د غصب په څیر – چې په ۷۱۱مه ماده کې درج شوی، د "غصب شوي مال د تملک قصد" او "د مالک د رضایت نشتوالي" درلودلو یا نه درلودلو په اړه صراحت شتون نه لري، د ورته قیودو د تصریح نشتوالی دا مفهوم وړاندې کوي چې د مرتکب عمل یوازې د (بل د ځمکې تصرف، تصاحب، استفادې، انتقال، رهن، تضمین، اجارې یا کرایې) غصب ګڼل کېږي، که څه هم دا تصرفات د مرتکب له لورې په عارضي ډول صورت موندلی وي او هغه د تملک قصد هم ونه لري. لکه څرنګه چې شخص د بل ځمکه چې په آلمان هېواد کې ژوند کوي او کلونه کېږي چې بې کرنې پاتې ده او د هغه صاحب او څښتن ته هیڅ اړینه نه د چې څوک دې هغه وکري یا دې بې کرنې پاتې شي. دا ډول تصرف د جزا کود له ۷۱۵مې مادې سره سم د ځمکې غصب ګڼل کېږي، ځکه چې په نوموړې ماده کې "د تملک قصد" یا "د مالک د رضایت نشتوالی" نه دی قید شوی.

**(۲۷) اووه ویشتم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

(الف) شخص چې د کابل ښار په کارته پروان سیمه کې کور لري، د ناامنیو له امله د هندوستان هېواد ته پناه وړي. (ب) شخص چې یو زورواکی دی د هغه کور تر خپل تصرف لاندې راوړلي او هغه د میاشتې په ۱۰۰٬۰۰۰ افغانۍ کرایه ورکوي. تاسو د نوموړي شخص عمل په ګروپي شکل وڅېړئ؛ که چېرې د

هغه عمل جرم دی، نو د جزا کود په رڼا کې جرمي ځانګړنه ورته مشخص کړئ او د هغه جزا هم معلومه کړئ؟

**د (٢٧) اووه ویشتم فعالیت احتمالي ځواب**

احتمالي ځواب نه دی ورکړل شوی بلکه په ټولګي کې ګروپي کار ته یقیني ځواب ورکړل شوی دی؟

## څلورم مبحث: د ځمکې د غصب جرم مجازات:

قانون جوړوونکي د ځمکې د غصب ارتکاب مجازات په دوؤ حالتونو، عادي او مشدده، باندې وېشلي دي چې هر یو یې په جلا ویناوؤ چې تر بحث لاندې نیسو.

### لومړۍ وینا: د ځمکې د غصب جرم د عادي حالت جزا:

قانون جوړوونکي د جزا کود د ٧١٦مې مادې په (١ تر ٧) فقرو کې د ځمکې د غصب جرم د عادي حالت جزا تصریح کړې ده او د حبس (١ فقره)، د ځمکې تخلیه کول او مالک ته د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونه تسلیمول (٢ فقره)، مالک ته د پلورل شوې ځمکې قیمت ورکول (٣ فقره)، د ځمکې مالک ته د هغې له اجارې او کرایې څخه را پیدا شوی منفعت ورکول (۴ فقره)، د دولت خزانې ته د عامه یا وقفي ځمکو د پلور څخه را پیدا شوې پیسې ورکول (۵ فقره)، د ویجاړې شوې یا زیانمنې شوې ځمکې د خسارې جبران (٦ فقره) او د ځمکې مستردول (٧ فقره) په څېر موارد په هغه کې شامل کړي دي. د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې آیا د ٧١٦مې مادې د (٢ تر ٧) فقرو موارد حقوقي مسایل دي او که جزایي؟ د دې پوښتنې ځواب به درییمه وینا کې وړاندې شي. خو له هغه څخه دمخه نوموړي موارد په لاندې ډول تشریح کوؤ:

- د جزا کود د ٧١٦مې مادې (١) فقره: د ځمکې د غصب مرتکب د حبس جزا په ټاکلو کې معیار د غصب شوې ځمکې ارزښت دی چې تر ټولو لږه یې قصیر حبس او تر ټولو زیاته یې تر لسو کلونو طویل حبس دی.

- (۲) فقره: په دې فقره کې یوازې د غصب شوې ځمکې د تخلیه کولو خبره ذکر شوې ده او د هغه د جزئیاتو په اړه یې څه نه دي ویلي، لکه که چېرې غصب په غصب شوې ځمکه باندې بنا او تأسیسات آباد کړي وي، نو د هغې تخلیه کولو به څنګه صورت ومومي؟

**(۲۸) اته ویشتم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

شخص ځمکه غصب کړې او پر هغه یې شل منزله ودانۍ د ۱۵۰٬۰۰۰٬۰۰۰ افغانیو په ارزښت ودانه کړې ده، آیا غاصب، ځمکه او ودانۍ تخلیه کړي او د ځمکې مالک ته یې تسلیم کړي یا که څنګه؟ د ځواب موندلو لپاره ګډونوال په پنځه کسیزه ګروپونو باندې ووېشئ، بیا هره ډله به خپل ځواب د ټولو په وړاندې وړاندې کوي او په پای کې به د روزونکي په مرسته پایلیزه صورت ومومي.

**د (۲۸) اته ویشتم فعالیت احتمالي ځواب**

دا چې د جزا کود د ۷۱٦مې مادې (۲) فقره د مغصوبه ځمکې د تخلیه کولو د جزئیاتو په اړه چپ ده، نو موږ اړتیا لرو چې د مدني قانون ۲۲۰۴مې مادې ته مراجعه وکړو.

(۳) فقره: دا فقره یوازې د خریدار ته د غصب شوې ځمکې د قیمت ورکولو په اړه خبره کوي، خو مشخص کړې یې نه ده چې که چېرې خریدار په نوموړې ځمکه چې بناء او تأسیسات آباد کړي وي، په هغه صورت کې به مسوؤلیت څه وي؟

(۴) فقره: په دې فقره کې مشخص نه ده چې آیا ځمکه د نن ورځې په بیه په اجاره یا کرایه ور کړل شوې یا د نن ورځې له بیې شخه په ارزانه؟ همدارنګه که چېرې غاصب په خپله له غصب شوې ځمکې څخه ګټه پورته کړې وي او منفعت (ګټه) یې ترلاسه کړې وي، آیا نوموړې ګټه له اجارې څخه د را پیدا شوې ګټې په څیر د بېرته ورکړې وړ ده؟

(۵) فقره: په دې فقره کې له درج شوي حکم څخه داسې استنباط کېږي چې د هغو ښارګوټو قانون چې ځمکه يې غصب او په خلکو پلورل شوې ده، له ذواليد اشخاصو څخه نه راګرځوي او تر څنګ يې هغه دوی ته مشروعيت ورکوي.

(٦) فقره: په دې فقره کې د وارد شوي زيان د قيمت ټاکلو واک اهل خبره ته ورکړل شوی دی. د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې آيا اهل خبره دغه زيان د نن ورځې د نرخ "د وارد شوي زيان د بيې ټاکلو پر بنسټ د قضايي قرار صادرولو" پر بنسټ سنجوي يا د هغې ورځې په نرخ سره په کومه چې ځمکه تلف يا ور ته زيان اړول شوی دی؟

(۷) فقره: په دې فقره کې مشخص نه ده چې د غصب شوې ځمکې بېرته ګرځول د قطعي حکم له صادرېدو څخه وروسته په څومره موده کې صورت نيسي؟ په داسې حال کې چې په (۲) فقره کې تصريح شوې ده چې د ځمکې تخليه کول د قطعي حکم له نيټې څخه د درې مياشتو په موده کې صورت نيسي.

## دويمه وينا: د ځمکې د غصب جرم د مشدده حالاتو جزا:

په لاندې دريو حالتونو کې د غصب ارتکاب مشدده پېژندل شوی او د دې حالتونو د رامنځته کېدو په صورت کې مرتکب په دې فصل کې د مرتکب شوي جرم د اکثر حد په مجازاتو (يعنې د هغه جرم د اکثر حد په مجازاتو چې ارتکاب شوی دی، نه په دې فصل کې د درج شوي غصب جرم په اکثر حد مجازاتو) محکومېږي. د بېلګې په ډول:

- که چېرې د جزا کود د ۷۱٦مې مادې د (۱) فقرې په ۱ جزء کې درج شوی جرم د ۷۱۷مې مادې په ۱ تر ۳ جزونو کې د درج شوو طريقو څخه په يوې سره صورت موندلی وي، مرتکب د قصير حبس په اکثر حد (يو کال) محکومېږي.

- که چېرې د جزا کود د ۷۱٦مې مادې د (۱) فقرې په ۲ جزء کې درج شوی جرم د ۷۱۷مې مادې په ۱ تر ۳ جزونو کې د درج شوو طريقو څخه په يوې سره صورت موندلی وي، مرتکب د دوو کلونو په متوسط حبس محکومېږي.

- که چیرې د جزا کود د ٧١٦مې مادې د (١) فقرې په ٣ جزء کې درج شوی جرم د ٧١٧مې مادې په ١ تر ٣ جزونو کې د درج شوو طریقو څخه په یوې سره صورت موندلی وي، مرتکب د متوسط حبس په اکثر حد (پنځه کلونو) محکومېږي.

- که چیرې د جزا کود د ٧١٦مې مادې د (١) فقرې په ۴ جزء کې درج شوی جرم د ٧١٧مې مادې په ١ تر ٣ جزونو کې د درج شوو طریقو څخه په یوې سره صورت موندلی وي، مرتکب د لسو کلونو په طویل حبس محکومېږي.

**د جزا کود د ٧١٧مې مادې د ١ تر ٧ جزونو تشریح:**

١. له زور، اجبار، اکراه، ارعاب یا تهدید څخه استفاده: له "زور" څخه استفاده حقوقي اصطلاح نه بلکه یوه عرفي اصطلاح ده. له همدې کبله، نه شو کولای چې په عرفي حقوقو کې د هغه معادل پیدا کړو. د دې لپاره چې وکولای شو هغه ته حقوقي مفهوم ورکړو، نو بیاد ووایو چې له "زور" څخه منظور، د قوې کارول دي او د مادي جبر او کراه له مواردو څخه دی.

٢. د اړوندو دولتي ادارو له خوا د شفاهي او یا کتبي اطلاع اخطار باوجود د غصب دوام: په پرله پسې د "اطلاع" او "اخطار" تسلسل د مشدده حالت د رامنځته کېدو شرط نه دی، بلکه غاصب ته له دوی "اطلاع" یا "اخطار" څخه د یو په رسېدلو سره مشدده حالت رامنځته کېږي.

**٣.** د ځمکې د غصب لپاره د یوه یا له یوه څخه زیاتو اشخاصو ته دستور ورکول، امر کول، تمویلول یا اړ ایستل: په اصل کې د غصب جرم د ارتکاب لپاره د بل شخص د "دستور ورکولو، امر کولو، تمویلولو یا اړیستلو" موارد د جرم په ارتکاب کې د معاونت له مواردو څخه دي (د جزا کود د ۵۹مې مادې ٢ فقره)، که څه هم قانون جوړوونکي هڅه کړې ده چې د عبارتونو په تغییر سره هغوی د جلا مواردو په توګه ذکر کړي، ځکه نو له دې مواردو څخه په هر یو کې "د سببیت په شکل په مجرمانه عمل کې دخالت"[1] دی.

[1] د جزا کود ۵۹مه ماده.

سره له دې هم، د یادونې وړ ټکی دا دی چې باید د "دستور ورکولو، امر کولو او اړ ایستلو" حالات چې اجبار رامنځته کوي، د "تمویلولو" له حالت څخه جلا کېږي. ځکه چې که چېرې دستور، امر او اړ ایستل د مرتکب د آزادۍ ارادې د سلبولو لامل شي، مباشر شخص به د مجازاتو وړ ونه ګرځي[١] خو د "تمویلولو" په صورت کې، تمویلوونکی او مباشر دواړه د مجازاتو مستوجب کېږي.

## درېیمه وینا: د غصب په اړه د جزایي حکم د صادرولو حقوقي آثار:

د جزا کود د ٧١٦مې مادې د (٢) فقرې له حکم سره سم قانون جوړوونکي ځیني حقوقي آثار د جزایي حکمونو لاندې پېشبیني کړي دي، چې محکوم علیه د مشخصو وجایبو په ترسره کولو مکلف دی او دا عبارت دي له:

- د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د درېو میاشتو په ترڅ کې د ځمکې تخلیه کول او د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونه د هغې قانوني مالک ته تسلیمول.
- د پلورلو په صورت کې، د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د درېو میاشتو په ترڅ کې خریدار ته د غصب شوې ځمکې د بیې ورکول.
- د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د درېومیاشتو په ترڅ کې د ځمکې مالک ته د غصب شوې ځمکې له اجارې یا کرایې څخه د راپیدا شوو ګټو ورکول.
- د پلورلو په صورت کې د سرپناه (کور) جوړولو لپاره د دولت خزانې ته د غصب شوې عامه یا وقفي ځمکې د اخیستل شوو پیسو ورکول.
- د ځمکې د ویجاړۍ یا هغه ته د زیان رسېدلو په صورت کې په غصب شوې ځمکه د وارد شوي زیان جبرانول.
- د ځمکې مستردول او د هغې د ملکیت د ادعا سندونه باطل ګڼل.

د پورته ذکر شوو مواردو په ملاحظې سره د لاندې ټکو مطرحه کول به له ګټې خالي نه وي:

---

[١] لکه څرنګه چې د جزا کود د ٦٢مې مادې په ٢ فقره کې راغلي دي "په هغو مواردو کې چې د جرم فاعل د جزایي مسؤولیت د خنډونو د شتون په دلیل مجازات نه شي دغه امر د جرم شریک او معاون د مجازاتو خنډ نه کېږي."

**لومړی :** پورته مواردو ته په دقت نظر کولو سره دې پايلې ته رسېږو چې دغه ټول موارد حقوقي ماهيت لري، نه جزايي ماهيت. له دې کبله، په جزا کود او د جزايي محکمو په بهير کې د دې مواردو طرح له ستونزو خالي نه ده.

**دويم :** د ځمکې د مالکيت د ادعا سندونو باطلول د حقوقي څېړنې بهير ته اړتيا لري او په جزايي پروسه کې نه شي کېدلای چې د يو حقوقي سند د باطلولو حکم وشي. ځکه چې د حقوقي سندونو د باطلولو صلاحيت (اړونده) حقوقي محکمه لري، نه د غصب جرم ته د رسيده گۍ کوونکې جزايي محکمه. له همدې امله، ايجابېږي چې د غصب د جزايي دعواى ته رسيده گي بايد يوې حقوقي دعواى ته مسبوق وي.

## څلورمه وينا: د ځمکې په غصب کې د جرم تعدد:

د ډيرى جرمونو په ارتکاب کې عمومي اصل او قاعده دا ده چې که چېرې شخص د متعددو جرمونو مرتکب شي، د "متعددو جرمونو" ارتکاب يا د اړوندو جرمونو د مادي تعدد ډول دی يا د نا اړوندو جرمونو د مادي تعدد ډول دی چې په لومړي صورت کې د دواړو جرمونو جزاگانې له يو بل سره تداخل کوي او له دوی څخه تر ټولو شديده جزا پر مرتکب تطبيقېږي، خو په دويم صورت کې له جزاگانو څخه هره يوه يې پر له پسې پر مرتکب د تطبيق وړ ده.

خو قانون جوړوونکي د جزا کود په ۷۱۸مه ماده کې د درج شوي د ځمکې په غصب کې د جرم په تعدد کې چې د مرتبطو جرمونو مادي تعدد دی، په استثنايي ډول پر هغه باندې د غير مرتبطو جرمونو د تعدد قاعده تطبيق کړې ده. له همدې کبله، که چېرې د ځمکې د غصب جرم ارتکاب د رشوت، او يا فريب ورکولو يا د سندونو په تزوير او يا له دندې يا موقف څخه په ناوړې استفادې او يا له نفود څخه په ناوړې استفادې سره صورت موندلی وي، مرتکب د مرتکب شوي جرم د مجازاتو سربېره د ځمکې د غصب جرم په جزا هم محکومېږي.

## پنځمه وینا: د غصب په حکم کې جرمونه:

د جزا کود په ۷۱۹مه ماده کې د درج شوي د غصب په حکم کې د جرمونو په اړه څو ټکي د پام وړ دي:

**لومړی:** د"تجاوز یا هر ډول مالکانه تصرف وکړي" په عبارت کې دوه کلمې د بحث وړ دي: ۱- "تجاوز": دا کلمه مبهمه ده او مشخصه معنی نه وړاندې کوي. ۲- مالکانه تصرف: واضح او مشخصه ده؛ په مالکانه تصرفاتو کې دوه ډوله تصرفات شامل دي: الف- له تام ملکیت څخه را پیدا شوي تصرفات، لکه پلورل، هبه کول، وصیت کول، په ګرو ورکول او وقف کول. ب- له نیمګړي او ناقص ملکیت څخه را پیدا شوي تصرفات، لکه د اجاره یا کرایه نیوونکي تصرفات، عاریت کوونکی او د موقوف علیه تصرفات.

**دویم:** په دښتو کې مالکانه تصرفات، د جزا کود ۷۱۹مې ماتې ته په کتو، د ځمکې د غصب جرم نه دی بلکه د ځمکې د غصب په حکم کې جرم دی چې جزا یې متوسط حبس دی. د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې آیا ستاسو په فکر، دښته د جزا کود په ۷۱مه ماده کې درج شوې دولتي، عامه یا خصوصي ځمکه نه شي کېدلای؟ که ستاسو ځواب هو وي، په هغه صورت کې د جزا کود ۷۱۵مه او ۷۱۹مه مادې له یو بل سره تداخل پیدا کوي.

**درېیم:** د جزا کود ۷۱۹مې مادې ته په کتو، په څړ ځایونو (علفچر) کې مالکانه تصرف د ځمکې د غصب په حکم کې دی، په داسې حال کې چې په مرعي (عامه او خاصې) ځمکو کې مالکانه تصرف د جزا کود له ۷۱۵مې مادې سره سم د ځمکې د غصب جرم دی. ستاسو په نظر، آیا علفچر او مرعي له یو بل سره توپیر لري یا که دواړه د څرځایونو په معنی دي، یوازې علفچر فارسي اصطلاح او مرعي عربي اصطلاح دي؟ که چېرې د دواړو اصطلاحاتو معنی یوه وي، نو آیا د جزا کود د ۷۱۵مې او ۷۱۹مې مادو تر منځ تداخل شتون نه لري؟

د دې ادعا د صحت لپاره د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون د درېیمې مادې په ۵۷ او ۵۸ جزونو کې درج شوی د مرعي (عامه او خاصې) تعریف ته مراجعه وکړئ.

## د دریيم څپرکي پایلیزه:

د دې روزنیزې رسالې په دریيم څپرکي کې د درج شوو موضوعاتو (د جزا کود ۷۱۵مې تر ۷۱۹مې مادې) په اړه له مطالعې، تحلیل، تجزیې او بحث وروسته لاندې پایلو ته ورسېدو:

١. د ځمکې غصب که څه هم له مدني موضوعاتو سره نږدې اړیکه لري او تر ښنګ یې په مدني قوانینو کې تر بحث لاندې نیول کېږي، خو د افغانستان جزا کود له ځمکې څخه د لا زیات ملاتړ په منظور د مدني قانون په محتوا یې بسنه نه ده کړې او د هغه غصب یې جرم انګاري کړی او ورته یې مجازات ټاکلي دي.
٢. په جزا کود د ځمکې غصب پورې د اړوندو مادو مطالعه ښیي چې د ځمکې له غصب څخه منظور په دولتي، عامه، شخصي، مرعي یا وقفي ځمکه کې د هر ډول نا قانوني تصرف اعمالول دي.
٣. د ځمکې د غصب جرم مادي عنصر د مرتکب غیر قانوني عمل لکه (تصرف، تصاحب، استفاده، انتقال، رهن، تضمین، اجاره او کرایه) تشکیلوي.
٤. له مجبره، وېروونکي یا غولوونکي وسایلو څخه استفاده د دې جرم د مادي عنصر د رامنځته کېدو شرط نه دی، یوازې له دې وسایلو څخه استفاده د مجازاتو د شدت موجب ګرځي.
٥. د ځمکې د غصب جرم له عمدي جرمونو څخه دی او د دې جرم رامنځته کېدو لپاره د عامه ناوړه قصد (علم او اراده) شتون کافي دی.
٦. د تملک قصد درلودل یا د مالک د رضایت یا نا رضایت په اړه پوهېدل د ځمکې د غصب جرم د معنوي عنصر رامنځته کېدو لپاره شرط نه دی.
٧. د ځمکې د غصب جرم د جزا اندازې په ټاکلو کې معیار د غصب شوې ځمکې ارزښت دی، او د هغه اقل حد مجازات قصیر حبس او اکثر حد یې د لسو کلونو طویل حبس دی.
٨. د جزا کود لاندې موارد د ځمکې د غصب په مورد کې د جزایي حکم د صدور د حقوقي آثارو له ډلې پېژندلي دي:

أ. د قطعي حکم د صادرېدو له نېټې څخه د درېو میاشتو په ترڅ کې د ځمکې تخلیه کول او قانوني مالک ته د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونو تسلیمول.

ب. د قطعي حکم د صادرېدو له نېټې څخه د درېو میاشتو په ترڅ کې خریدار ته د غصب شوې ځمکې قیمت ورکول.

ج. د قطعي حکم د صادرېدو له نېټې څخه د درېو میاشتو په ترڅ کې د ځمکې مالک ته د غصب شوې ځمکې له اجارې یا کرایې څخه د ترلاسه شوې ګټې ورکول.

د. د دولت خزانې ته د نورو د کور (سرپناه) د جوړولو لپاره د عامه یا وقفي ځمکو له پلور څخه د اخیستل شوو پیسو ورکول.

ه. د ځمکې د ویجاړېدو یا زیانمن کېدو په صورت کې پر غصب شوې ځمکې د وارد شوي زیان جبرانول.

و. د غصب شوې ځمکې مسترودلو او د هغې د مالکیت د ادعا د سندونو باطل شمېرل.

## عمومي پايليزه:

د دې روزنيزې رسالې په لومړي، دويم او درېيم څپرکو کې د درج شوو موضوعاتو (د جزا کود له ٦٩٩ تر ٧١٠ مادې، او له ٧١١مې تر ٧١٣مې مادې، او له ٧١٥ تر ٧١٩مې مادې) په اړه له مطالعې او بحث څخه وروسته لاندې پايلو ته ورسېدو:

١. سرقت له رضايت پرته د تملک په مقصد په پټه توګه د غير ملکيت د منقول مال له اخيستلو څخه عبارت دی. سربېره پر دې چې د "په پټه توګه" کلمه د افغانستان د جزا کود په ٧٩٩مه ماده کې د درج شوي سرقت په تعريف کې تصريح شوې نه ده، ولې د جزا کود د ٧١١مې مادې له صراحت څخه چې د "په ښکاره توګه" کله د غصب په تعريف کې يې درج کړې ده، معلومېږي چې د "په پټه توګه" کلمه د سرقت په تعريف کې مضمر ده.

٢. د سرقت موضوع، منقول مال تشکيلوي. له دې کبله، غير منقول مال د سرقت د جرم موضوع نه شي کېدلای.

٣. د جزا کود په ٦٩٩مه مادې د درج شوي سرقت په تعريف کې له "مال" څخه منظور هر هغه عين يا حق دی چې د خلکو پر وړاندې مادي قيمت ولري؛ له "عين"څخه منظور محسوس مادي مالونه دی، او له "حق" څخه منظور هغه حق دی چې مادي ارزښت ولري. له همدې کبله، د مادي ارزښت نه درلودونکي په معنوي حقوقو باندې تېری او تجاوز سرقت نه ګڼل کېږي.

٤. له مرتکب سره "د تملک قصد"، د سرقت د جرم رامنځته کېدو شرط دی او که چېرې مرتکب د غير مال د هغه له رضايت پرته په پټه توګه د استعمالولو په قصد واخلي، د سرقت مرتکب نه شمېرل کېږي.

٥. "د مال د رضايت نشتوالی"، هم د سرقت د جرم رامنځته کېدو لپاره شرط دی. له همدې کبله، که چېرې مالک په خپل رضايت سره مال چا ته تسليم کړي او تسليموونکی د هغه له بېرته ورکولو څخه ډډه وکړي، ډډه کوونکی سارق نه ګڼل کېږي، که څه هم د تملک نيت هم ولري.

٦. سرقت، په پایلې پورې د مقیدو عمدي جرمونو له ډلې څخه دی. پایله د غیر پر مال د تسلط کولو څخه عبارت دی. پر مجني علیه زیان واردول او د سارق غني کېدل، د سرقت د آثاره له جملې څخه دی نه د هغه د رامنځته کېدو له شرایطو څخه.

٧. عام ناوړه نیت د سرقت د جرم معنوي عنصر تشکیلوي چې په کې علم او اراده شامل دي؛ د غیر ملکیت په اړه علم او په خپل ملکیت کې د هغه راوستل. او له ارادې څخه منظور، په خپلې ارادې سره د کومې بهرنۍ قوې پرته د مادي کړنې ترسره کول دي.

٨. د سرقت جرم د شدت او خفت له پلوه په جنایت او جنحې وېشل شوی او په نورو حالاتو کې ښایي د " قباحت" ځانګړنه ځانته غوره کړي.

٩. د سرقت جرم له احوالو سره سم په عادي حالاتو، مشدده حالاتو او د مشدده احوالو په اجتماع وېشل شوی دی. د جزا کود په ٧٠٤مه ماده کې درج شوې د مشدده احوالو اجتماع د جزا کود په ٧٠٢مه ماده کې د درج شوو څلورو مشدده حالاتو له اجتماع سره رامنځته کېږي. له نوموړو حالاتو څخه د یوه نشتوالی د مشدده احوالو د اجتماع د نفې موجب ګرځي. همدارنګه د جزا کود په ٧٠٢مه ماده کې درج شوي له پنځم او شپږم حالاتو سره د درېیم حالت اجتماع، د مشدده احوالو اجتماع نه تشکیلوي.

١٠. سارق د سرقت جرم لپاره د ټاکل شوو مجازاتو سربېره د مسروقه مال په رد هم محکومېږي.

١١. د منقول مالونو د غصب جرم له پایله لرونکي عمدي جرمونو څخه دی.

١٢. د جزا کود په ٧١١مه ماده کې درج شوی د منقول مالونو د غصب موضوع دوؤ شیانو پورې منحصره ده: پیسې او منقول مال. له همدې کبله، هر هغه شی چې مال نه ګڼل کېږي یا مالي حقوق پر هغه نه مرتب کېږي، د منقول مالونو د غصب جرم موضوع نه شي کېدلای.

١٣. له عنف، تهدید، اکراه یا ارعاب څخه استفاده او د غصب د جرمي کړنې څرګند اوسېدل، هغه نښې دي چې غصب له سرقت څخه جلا کوي، ځکه نو سرقت پټ عمل دی او عنف، تهدید، اکراه یا ارعاب په هغه کې نه کارول کېږي.

١٤. د "تملک قصد" د غصب جرم رامنځته کېدو لپاره شرط نه دی. له همدې کبله که څوک د مجبره وسایلو په استفادې سره د غیر منقول مال د استعمالولو په قصد له هغه شخه واخلي، د هغه عمل د منقول مالونو غصب نه ګڼل کېږي.

١٥. د منقول مالونو د غصب جرم رامنځته کېدو لپاره د مالک رضایت یا نا رضایت شرط نه دی. له همدې امله، که شخص بل تهدید کړي او تهدید شوی شخص تهدیدوونکي ته د خپل مال په ورکړه راضي شي، د تهدیدوونکي شخص عمل د منقول مالونو غصب دی.

١٦. د منقول مالونو د غصب جزا په ټاکلو کې معیار د غصب شوي مال مادي ارزښت دی؛ د جزا مقدار د غصب شوي مال د ارزښت په لوړېدلو سره لوړېږي او بالآخره یو ټاکلي حد ته چې هماغه له سلو زو افغانیو څخه زیات ارزښت دی، په طویل حبس ودرېږي.

١٧. په جبري ډول د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې د نښې اخیستل هغه وخت غصب ګڼل کېږيچې مالي حقوق پر هغه مرتب شي.

١٨. په جبري ډول د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې د نښې اخیستلو جرم له مطلق (نا پایله لرونکي) جرمونو څخه دی؛ د پایلې (د ګټې ترلاسه کول) رامنځته کېدل یا د هغه نه رامنځته کېدل، د جرم د تکمیل لپاره شرط نه دی، بلکه جرم یوازې د مادي فعال (په جبري ډول د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې نښه اخیستل) په واقع کېدلو سره بشپړېږي. یوازې د پایلې رامنځته کېدل د مجازاتو د شدید کېدو موجب ګرځي.

١٩. د افغانستان جزا کود ٧١٥مه مادې ته د "ځمکې او غیر منقول مالونو غصب" عنوان ورکړی دی، خو راتلونکو ټولو مادو کې یې د ځمکې د غصب حکمونه تنظیم کړي او د نورو غیر منقول مالونو لکه د کور غصب، د دوکان غصب او داسې نورو په اړه په کې هیڅ حکم شتون نه لري.

٢٠. د ځمکې د غصب جرم مادي عنصر د مرتکب غیر قانوني عمل لکه: (تصرف، تصاحب، استفاده، انتقال، رهن، تضمین، اجاره او کرایه) تشکیلوي.

٢١. د مجبره، وېروونکو او غولوونکو وسایلو څخه استفاده د ځمکې د غصب جرم د مادي عنصر رامنځته کولو لپاره شرط نه دی، یوازې

۲۲. د تملک قصد درلودل یا د مالک د رضایت یا نا رضایت په اړه پوهېدل د ځمکې د غصب جرم د معنوي عنصر د رامنځته کېدو لپاره جرم نه دی.

۲۳. د ځمکې د غصب جرم د جزا اندازې په ټاکلو کې معیار د غصب شوې ځمکې ارزښت دی او د هغه د مجازاتو اقل حد قصیر حبس او اکثر حد یې د لسو کلونو طویل حبس دی.

۲٤. د ځمکې د غصب په اړه د جزایي حکم د صادرېدو حقوقي آثار د جزا کود د ۷۱٦مې مادې په (۲ تر ۷) فقرو کې تنظیم شوي دي.

# آخځليکونه:

**الف) قوانين:**


- د جزا کود، د ۱۳۹٦ کال د غوايي په ۲۵مه نېټه په ۱۲٦۰ ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی.
- مدني قانون، په ۱۳۵۵/۱۰/۱۵ نېټه په ۳۵۳ ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی.
- د کار قانون، د ۱۳۸۷ کال د ليندۍ په ۱٦مه نېټه په ۹٦٦ ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی.
- د ځمکوالۍ د چار د تنظيم قانون، د ۱۳۹٦کال د وري په ۲٦مه نېټه په ۱۲۵۴ ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی.
- د مخترغ او مکتشف د حقوقو د ملاتړ قانون، په ۱۳۸۷/۵/۵ نېټه په ۹۵٦ ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی.
- د مصر د جزا قانون.
- د ايران د مجازاتو قانون.


**ب) فارسي اخځليکونه:**


- ثقت الاسلام، محی الدين، معمار و قانون، چاپ اول ۱۳۹۲، ناشر: البرز فردانش.
- صادقی، حسين مير محمد، جرايم عليه اموال و مالکيت جاپ چهل و سوم، نشر ميزان، ۱۳۹٤.
- فوزيه عبد الستار، شرح قانون العقوبات: القسم العام، ۲۰۱۲.
- گروه تحقيقی، معاونت آموزش و تحقيقات قوه قضائيه، بررسی جرايم عليه اموال دولت، چاپ اول، سال ۱۳۸۹، انتشارات جاودانه، ايران.
- لنگرودی جعفری، محمد جعفر، ترمينولوژی حقوق.
- محمودی جانکی، فيروز، رهنمود ماکس پلانگ برای حقوق جزای اختصاصی افغانستان ۱۳۹۱.
- وليدی، محمد صالح، حقوق جزای اختصاصی، جرايم عليه اموال، انشارات امير کبير، ۱۳۸۷.

**ج) عربي اخځليکونه:**

- ابن منظور، جمال الدين، محمد، لسان العرب، دار صادر، بيروت.
- ابوزهرة ، محمد، الجريمة والعقوبة فى الفقه الاسلامى، دار الفكر العربى، القاهرة.
- احمد مختار و ديگران، معجم اللغه العربيه المعاصره ج ١، ٣١٤٤ گنه اصطلاح.
- البورنو، محمد صدقى، موسوعة القواعد الفقهية، انتشارات التوبة، رياض، چاپ اول ١٩٩٧م.
- جندى، عبد الملک بک، الموسوعه الجنائيه.
- حسنى، نجيب، شرح قانون العقوبات، القمسم الخاص، دار نافع للطباعة والنشر، ١٩٨٧، القاهرة.
- حسنى، نجيب ، شرح قانون العقوبات، القسم العام طبع ٢٠١٢.
- زين العابدين، ابن نجيم، الحنفى، البحرالرائق، شرح كنز الدقايق.
- الدره، ماهر، عبد شويش، بى تا، شرح قانون العقوبات، القسم الخاص.
- الزيلعى، عثمان بن علی، تبيين الحقائق، المكتبة الشاملة .
- سرور، احمد فتحى، الوسيط فى قانون العقوبات، القسم الخاص.
- العوده، التشريع الجنائى الاسلامى مقارنا بالقانون الوضعى، دار الكاتب العربى، بيروت.

**د) انټرنيټي اخځليکونه:**

١. http://hoquq.iict.ac.ir/article_٣١١٨٥.html
٢. https://www.yasa.co/blog/the-concept-violence-in-article-٨٢-the-islamic-penal-/code
٣. http://safirsolh.ir/%D٨٪AC%D٨٪B١٪D٩٪٨٥٪D٨٪AA%D٩٪٨٧٪D٨٪AF%DB/%٨C%D٨٪AF